يو ځل حضورﷺ په خپل لاس مبارک باندی دم وکړو او د حضرت عقبهؓ په ملا او خیټه ئی راخکلو چی د هغې نه دومره خوشبوئی شوه ،چی ددهؓ څلور بیبیانی وی او هری یوی به ـــ بے حده خوشبوئی لگوله چی ددهؓ د خوشبو برابر شی خو ددهؓ خوشبو به غالب وه۔

نکهتِ گل راچه کنم اے نسیم　　بوئے آن پیر ہنم آرزو است

د ابو علی وغیره روایت دے چی په کومه کو څه چی به حضورﷺ تیر شو نو راتلونکی کس به دغه کو څه د حضورﷺ د خوشبو بوئیولو نه وپیژنده چی په دی لار حضورﷺ تیر شوے دے، وغیره وغیره ډیر روایات په دی باندی دلالت کوی لیکن ددی باوجود به حضورﷺ د خوشبو استعمال کوو۔

په دی باب کښی حضورﷺ شپږ حدیثونه ذکر کړی دی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُخْتَارِ، عَنْ مُوسَى بْنِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: ((كَانَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُكَّةٌ يَتَطَيَّبُ مِنْهَا))

حضرت انسؓ فرمائی چی د حضورﷺ سره سُکَّه وه چی د هغې نه به ئی خوشبو استعمالوله۔

فائده: د سُکَّه په معنیٰ کښی د عالمانو دوه ویناگانی دی بعضے ددی ترجمه د عطردان او د هغې بوتل کوی په کوم کښی چی عطر کیخودے کیږی ،نو بیا خو معنیٰ دا شوه چی د عطردان نه به ئی راویسته او استعمالول به ئی ،زما استاد محترم هم دا ترجمه ارشاد فرمائیلے وه، او بعضے علماء فرمائی چی دا یوه مرکب خوشبو ده لکه قاموس وغیره هم دی له ترجیح ورکړی ده،او صاحب قاموس ددی د جوړولو تفصیلی ترکیب هم لیکلے دے ۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ ں حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ ں حَدَّثَنَا عَزْرَةُ بْنُ ثَابِتٍ، عَنْ ثُمَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: كَانَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، لَا يَرُدُّ الطِّيبَ، وَقَالَ أَنَسٌ: ((إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَرُدُّ الطِّيبَ))

ثمامهؒ فرمائی چه حضرت انسؓ به خوشبو نه رد کوله او دا به ئی فرمائیل چی حضورﷺ به خوشبو نه رد کوله۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ ں حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُسْلِمِ بْنِ جُنْدُبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ثَلَاثٌ لَا تُرَدُّ: الْوَسَائِدُ، وَالدُّهْنُ، وَاللَّبَنُ"

حضرت ابن عمرؓ فرمائی چی حضورﷺ وفرمایئل چی درے څیزونه رد کول ندی پکار،تکیه،تیل،اخوشبو او پئ-

فائده: دا څیزونه ئی ځکه بیان کړل چی دا په هدیه ورکونکی باندی بوجهـ نه وی او په رد کولو سره اکثر خفگان رازی ،ددی څیزونو په حکم کښی ټول هغه څیزونه مراد دی کوم چی په هدیه ورکونکی باندی بوجهـ نه وی او انتهائی مختصر وی ،د تکیه نه مراد دبعض عالمانو په نزد باندی د تکیه هدیه کول دی ځکه چی په دی کښی داسی بوجهـ نشته او د بعضو په نزد باندی د استعمال دپاره چاته د ډڈی وخلو یا سر کیخودو دپاره تکیه کیخودل مراد دی۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الْحَفَرِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((طِيبُ الرِّجَالِ مَا ظَهَرَ رِيحُهُ وَخَفِيَ لَوْنُهُ، وَطِيبُ النِّسَاءِ مَا ظَهَرَ لَوْنُهُ وَخَفِيَ رِيحُهُ))
حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنِ الطُّفَاوِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ بِمَعْنَاهُ

ابوهریرهؓ فرمائی چی حضورﷺ ارشاد وفرمایه چی د نارینه خوشبو هغه ده چی د کومی خوشبو وی او رنگ ئی نه وی او د زمانه خوشبو هغه ده چی رنگ ئی وی او خوشبو(بوئی) ئی نه وی لکه نکریزه زعفران وغیره۔

فائده: مطلب دا چی نارینه له د نارینه خوشبو استعمالول پکار دی چی رنگ د نارنینه سره مناسب ندے او زمانه له خوشبو مناسب نده چی پردو خلقو ته ئی خوشبو نه رسی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَلِيفَةَ، وَعَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ الصَّوَّافُ، عَنْ حَنَانٍ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((إِذَا أُعْطِيَ أَحَدُكُمُ الرَّيْحَانَ فَلَا يَرُدُّهُ، فَإِنَّهُ خَرَجَ مِنَ الْجَنَّةِ)) قَالَ أَبُو عِيسَى: ((وَلَا نَعْرِفُ لِحَنَانٍ غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثَ)) وقال عبدالرحمٰن بن أبي حاتم في كتاب الجرح والتعديل: حنان الأسدي من بني أسد بن شريك وهو صاحب الرقيق عم والد مسدد، روى عن أبي عثمان النهدي وروى عنه الحجاج بن أبي عثمان الصواف سمعت أبي يقول ذلك

ابو عثمان نهدی تابعی فرمائی چی حضور اقدس ﷺ وفرمائیل چی کوم کس له ریحان ورکڑے شو نو ده له پکار دی چی واپس کوی ئی نه ځکه چی ددی اصل د جنت نه راوتلے دے۔

فائده: ریحان نه صرف دا قسم مراد دے که دا هر ے خوشبو ته وائی د اهل لغت دا دواړه قوله دی او دواړه دلته مراد کیدے شی، الله تعالیٰ د جنت د خوشبوئی نقل په دنیا کښ ځکه پیدا کړے چی چی د جنت دپاره ترغیب شی او د شوق د زیادت ذریعه شی ځکه چی خوشبو طرفته طبعًا رغبت پیدا کیږی او طبیعت دی طرفته کشش کوی لیکن ددنیا د خوشبو د جنت د خوشبو سره کوم نسبت دے

چه نسبت خاک را با عالم پاک

چی د هغې خوشبو دومره لری رسی چه د پنځه سوو کالو مزل وی۔

حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ بْنِ مُجَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ بَيَانٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: عُرِضْتُ بَيْنَ يَدَيْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، فَأَلْقَى جَرِيرٌ رِدَاءَهُ وَمَشَى فِي إِزَارٍ، فَقَالَ لَهُ: خُذْ رِدَاءَكَ. فَقَالَ عُمَرُ لِلْقَوْمِ: ((مَا رَأَيْتُ رَجُلًا أَحْسَنَ صُورَةً مِنْ جَرِيرٍ إِلَّا مَا بَلَغَنَا مِنْ صُورَةِ يُوسُفَ الصِّدِّيقِ عَلَيْهِ السَّلَامُ))

جریر ابن عبد الله بجلی د حضرت عمرؓ په خدمت کښ د معائنے دپاره پیش کړے شو (دوی څادر لرے کړو او صرف په لنگ کښ د حضرت عمرؓ مخکښ خپل امتحان وکړو حضرت عمرؓ وفرمائیل څادر راواخله امتحان وشو) بیا ئی قوم طرفته مخ کړو او وئی فرمائیل چی ماد جریر پشان خاسته څوک ندی لیدلی علاوه د حضرت یوسفؑ خائست کوم چی مونږ ته رارسیدلے دے ۔

فائده: یعنی د یوسفؑ د حسن قصے کومے چی مونږ ته رارسیدلی دی د هغے نه دا معلومیږی چی هغویٔ د جریر نه ډیر خائسته وو دهغوی نی علاوه دده نه بل خائسته نشته۔

حضرت عمرؓ به د جهاد په موقع باندی د لښکر تفصیلی معائنه کوله د ټول معائینه ئی وکړه چی دے پکښ هم راغے، په دی حدیث باندی څو اشکالات دی چی د اختصار د وجے نه پریخودے شی ، یو اشکال تری دادے چی د حضرت یوسفؑ د حسن استثناء ئی وکړه او د حضور ﷺ د جمال ئی ونه کړه مگر دا خو ښکاره خبره ده چی هر کله د حضور ﷺ حسن د یوسفؑ د حسن نه زیات وو نو د هغویٔ د استثناء سره د حضور ﷺ استثناء پخپله راغله، ددی نه علاوه د حضور ﷺ ټول جمال عام طور پټ وو لکه چی شاه ولی اللهؒ لیکلی دی ، بل اشکال دادے چی ددی حدیث د باب سره مناسبت نشته ددی په جواب کښ یوه توجیه دا بیانیږی چی خائست دپاره خوشبو لازمی ده او کوم کس چی ډیر حسین وی دغه هومره خه

خوشبو دده د بدن او لباس نه زی، د حضورﷺ د ټولو نه ډیر خائسته او د سپوږمو سپوږمۍ کیدل هر څوک منی دی وجے نه ددوی دپاره طبعی خوشبو لازم ده۔

باب کیف کان کلام رسول اللهﷺ

د حضورﷺ خبری به څنګه وی

فائده: په دی باب کښ درے حدیثونه ذکر دی۔

حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ الْأَسْوَدِ، عَنِ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: ((مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْرُدُ سَرْدَكُمْ هَذَا، وَلَكِنَّهُ كَانَ يَتَكَلَّمُ بِكَلَامٍ بَيِّنٍ فَصْلٍ، يَحْفَظُهُ مَنْ جَلَسَ إِلَيْهِ))

حضرت عائشهؓ فرمائی چی د حضورﷺ خبری به ستاسو د خلقو پشان پرله پسے نه وی بلکه صفا صفا یوه خبره به ئی د بلے نه جدا کوله خواکښ خلق به پری ډیر خه پوهیدو۔

فائد: یعنی د حضورﷺ خبری به مجملی یا ډیری زرزر نه وی چی بعضے به په ذهن کښ راتلی او بعضے نه بلکه په داسی اطمینان باندی به ئی واضح خبری کولی چی اوریدونکی به ډیر خه پوښیدل۔

[220] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا أَبُو قُتَيْبَةَ سَلْمُ بْنُ قُتَيْبَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُثَنَّى، عَنْ ثُمَامَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: ((كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعِيدُ الْكَلِمَةَ ثَلَاثًا لِتُعْقَلَ عَنْهُ))

حضرت انسؓ فرمائی چه حضورﷺ به کله کله د ضرورت په وجه خبره درے درے ځله وفرمایئله چی اوریدونکی خه پوه شی۔

فائده: یعنی که مشکله خبره به وه نو د غور او سوچ دپاره او که مجمع به ډیره وه نو د مجمع درے واړو طرفونو ته به ئی مخ کړو او مضمون به ئی بیانولو چی په خه طریقه ئی محفوظ کړی درے پیرے اکثر حد دے کنی دوه پیرے چی بی کافی شو نو دوه پیرے به ئی فرمائیله۔

حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، أَنْبَأَنَا جُمَيْعُ بْنُ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعِجْلِيُّ قَالَ: حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ مِنْ وَلَدِ أَبِي هَالَةَ زَوْجِ خَدِيجَةَ يُكْنَى أَبَا عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنٍ لِأَبِي هَالَةَ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ: سَأَلْتُ خَالِي هِنْدُ بْنُ أَبِي هَالَةَ، وَكَانَ وَصَّافًا، فَقُلْتُ: صِفْ لِي مَنْطِقَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ((كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَوَاصِلَ الْأَحْزَانِ دَائِمَ الْفِكْرَةِ لَيْسَتْ لَهُ رَاحَةٌ، طَوِيلُ السَّكْتِ، لَا يَتَكَلَّمُ فِي غَيْرِ حَاجَةٍ، يَفْتَتِحُ الْكَلَامَ وَيَخْتِمُهُ بِاسْمِ اللَّهِ تَعَالَى، وَيَتَكَلَّمُ بِجَوَامِعِ الْكَلِمِ، كَلَامُهُ فَصْلٌ، لَا فُضُولَ وَلَا تَقْصِيرَ لَيْسَ بِالْجَافِي وَلَا الْمُهِينِ، يُعَظِّمُ النِّعْمَةَ، وَإِنْ دَقَّتْ لَا يَذُمُّ مِنْهَا شَيْئًا غَيْرَ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ يَذُمُّ ذَوَّاقًا وَلَا يَمْدَحُهُ، وَلَا تُغْضِبُهُ الدُّنْيَا، وَلَا مَا كَانَ لَهَا، فَإِذَا تُعُدِّيَ الْحَقُّ لَمْ يَقُمْ لِغَضَبِهِ شَيْءٌ حَتَّى يَنْتَصِرَ لَهُ، وَلَا يَغْضَبُ لِنَفْسِهِ، وَلَا يَنْتَصِرُ لَهَا، إِذَا أَشَارَ أَشَارَ بِكَفِّهِ كُلِّهَا، وَإِذَا تَعَجَّبَ قَلَبَهَا، وَإِذَا تَحَدَّثَ اتَّصَلَ

بِهَا، وَضَرَبَ بِرَاحَتِهِ الْيُمْنَى بَطْنَ إِبْهَامِهِ الْيُسْرَى، وَإِذَا غَضِبَ أَعْرَضَ وَأَشَاحَ، وَإِذَا فَرِحَ غَضَّ طَرْفَهُ، جُلُّ ضَحِكِهِ التَّبَسُّمُ، يَفْتَرُّ عَنْ مِثْلِ حَبِّ الْغَمَامِ))

حضرت امام حسنؓ فرمائی چی ما خپل ماما ہند ابن ابی هاله ته چی د حضورﷺ صفات به ئی ډیر بیانول عرض وکړو چی د حضورﷺ د خبرو به څه کیفیت وو ماته ئی بیان کړئ دوی وفرمائیل:چی حضورﷺ به د (آخرت)په غم کښ ہمیشه مشغوله وو (د الله په ذات او صفاتو یا د امت د کامیابۍ دپاره)به هر وخت په سوچ کښ وو ددی کارونو د وجے نه به حضورﷺ ته څه وخت هم ارام نه وو یا دا چی د دنیا په کارونو به حضورﷺ ته ارام نه میلاویدو (بلکه په دینی کارونو باندی)به حضورﷺ ته راحت میلاویدو(لکه چی په حدیث کښ دی چی زما د سترګو یخ والے په مانځه کښ دے)اکثر وختونو کښ به حضورﷺ خاموشه وو بغیر ضرورت به ئی خبری نه کولے،ددویﷺ خبری به د ابتداء نه تر انتهاء پورے په ډکه خله باندی وی داسی نه چی د ژبی په سر باندی څو ټکی نیمه خبره ووئی او نیمه خبره د اوریدونکی په ذهن کښ پریګدی لکه چی ددی زمانے د تکبر والو خلقو رواج دے،په جامع الفاظو سره به ئی خبری کولی(چی الفاظ کم وی او معانی ډیری وی) ملاعلی قاریؒ په خپله شرح کښ داسی څلویښت حدیثونه ذکر کړی دی چی ډیر مختصر دی،دددیﷺ خبری په د یو بل نه جدا جدا وی نه به پکښ فضولیات وو او کمۍ چی مطلب ئی پوره واضح نه وی ،دوی نه سخت مزاجه وو او نه به ئی څوک ذلیله کوو ،د الله نعمت اګر که ډیر هم کم وو هغه به ئی ډیر غټ ګڼړو او مذمت به ئی نه کوو، د خوراک د څیزونو به ئی نه مذمت کوو او نه ډیر تعریف (مذمت نه کول خو ظاهر دی چی د الله تعالیٰ نعمت دے او ډیر تعریف نه کول ددی وجے نه وو چی ددی نه د حرص شبه پیدا کیږی البته د رغبت د اظهار یا د چا د زړه خوشحالۍ د پاره ئی کله کله د خاص خاص څیزونو تعریف کړے دے) په دنیا او دنیاوی کارونو به حضورﷺ له چرته غصه نه ورتله،ځکه چی د حضورﷺ سره به ددی پرواه هم نه وه،(دی وجے نه په دنیاوی نقصان ورله چرته غصه نه ورتله) البته که د څه دینی کار یا د یوی حقی خبری نه به یو کس خپه اړوله نو په دغه وخت به د حضورﷺ د غصے طاقت د چا هم نه وو ،او چا به منع کولے هم نه شوه تردے چی حضورﷺ به بدله نه وه اغستی،دخپل ذات دپاره به نه د چا نه خفه کیدو او نه به ئی بدله اغیسته،چی د څه دپاره به ئی اشاره کوله نو په پوره لاس باندی به ئی اشاره کوله او بعضے عالمان فرمائی چی د حضورﷺ عادت مبارک په ګوته باندی د توحید طرفته د اشارے کولو وو دی وجے نه به ئی په ګوته باندی بل چاته اشاره نه کوله چی کله به ئی په یوه خبره باندی تعجب کوو نو لاس به ئی الټه کړو او کله چی به ئی خبری کولی نو کله کله به ئی لاسونو له حرکت ورکوو، او کله به ئی ښے ورغوے د ګس لاس غټی ګوتی دننے حصے له راپریخودو ،او چی کله به د چا نه ناراضه شو نو د هغه نه به ئی مخ واړوو او بیا به ئی ورته توجه نه کوله یا به ئی معاف کړو ا،او کله چه به خوشحاله شو نو دحیا د وجے به ئی ګویا چی سترګی پټی کړی ،د حضورﷺ اکثره خندا تبسم وو په دغه وخت به د حضورﷺ غاښونه مبارک د ګلۍ پشان سپین چمکدار ښکاره کیدل۔صلی الله علیه و اله بحسب جماله وکماله۔

فائده:دا حدیث د هغے حدیث ما بقیه دےکوم چی د ټولو په اول باب کښ په اووم نمبر تیر شوے دے،ددی هره هره ټکړه ډیره په غور سره د لوستلو او په خپل ژان کښ د پیدا کولو د کوشش قابل دی چی هره ادا ئی د تواضع او اخلاق کمال درجه ده۔

باب ما جاء فی ضحک رسول اللهﷺ

د حضورﷺ د خندا بیان

فائده: په دی باب کښ نهه حدیثونه ذکر دی۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ، أَخْبَرَنَا الْحَجَّاجُ وَهُوَ ابْنُ أَرْطَاةَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: "كَانَ فِي سَاقَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُمُوشَةٌ، وَكَانَ لَا يَضْحَكُ إِلَّا تَبَسُّمًا، فَكُنْتُ إِذَا نَظَرْتُ إِلَيْهِ قُلْتُ: أَكْحَلُ الْعَيْنَيْنِ وَلَيْسَ بِأَكْحَلَ"

حضرت جابرؓ فرمائی چی د حضورﷺ پنڈئ مبارکی څه قدرے باریکی وی او ددوﷺ خندا بس تبسم وو ما چی به کله د حضورﷺ زیارت کوو نو په زړه کښ به مې راتلل چی حضورﷺ رانجه لګولی دی حالانکه دغه وخت به ئی رانجه نه وو لګولی۔

فائده: بلکه طبعًا د حضورﷺ سترګی مبارکی رنجو واله وی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، أَنْبَأَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُغِيرَةِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ، أَنَّهُ قَالَ: ((مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ تَبَسُّمًا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ))

عبد الله ابن حارثؓ فرمائی چی ما د حضورﷺنه ډیر تبسم واله ندے لیدلے۔

فائده: په دی حدیث کښ دا اشکال دے چی مخکښ باب اخیر حدیث کښ تیر شو چی حضورﷺ په همشه په فکر او غم کښ وو دا په ظاهره دهغې منافی دے۔

دے وجے نه ددی حدیث دوه توجیه بیانولے شی :یوه دا چی د حضورﷺ تبسم به د حضورﷺ د خندا نه ډیر وو داسی مې بل څوک ندی لیدلی چی د هغه تبسم د خندا نه زیات وی،لکه چی آئنده حدیث چی ددی صحابیؓ نه روایت دے په دے کښ دغه مطلب متعین دے۔

بله توجیه دا ده چی حضورﷺ به باوجود د غمونو نه د صحابهؓ د زړه خوشحالولو دپاره په رونړ تندی او تبسم سره میلاویدو او دا د اخلاقو او تواضع کامله درجه ده، ددی باب په ٥،٦،باندی حضرت جریرؓ فرمائی چی کله به هم حضورﷺ زه لیدلم نو تبسم به ئی فرمایو یعنی په رونړ تندی او خوشحالئ سره به میلاویدو، وس د اول حدیث سره څه تعارض نشته،اکثر داسی وی چی سړے په غم فکر کښ وی خو د نورو د خوشحالولو دپاره یا د ضرورت د وجے نه په رونړ تندی باندی د میلاویدو موقع رازی،کوم کسانو چی د عشق داغونو ښکلی وی د هغوی ددی ډیره تجربه وی۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ خَالِدٍ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ إِسْحَاقَ السَّيْلَحَانِيُّ: حَدَّثَنَا لَيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ: ((مَا كَانَ ضَحِكُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا تَبَسُّمًا))قَالَ أَبُو عِيسَى: ((هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ لَيْثِ بْنِ سَعْدٍ))

عبد الله ابن حارثؓ فرمائی چی د حضورﷺ خندا به د تبسم نه ډیره نه وه۔

فائده: یعنی اکثر وختونو کښې به تبسم وو د خندا موقع به ډیره کمه راتله۔

حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، أَنْبَأَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنِ الْمَعْرُورِ بْنِ سُوَيْدٍ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي لَأَعْلَمُ أَوَّلَ رَجُلٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ وَآخِرَ رَجُلٍ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ، يُؤْتَى بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ: اعْرِضُوا عَلَيْهِ صِغَارَ ذُنُوبِهِ وَيُخَبَّأُ عَنْهُ كِبَارُهَا، فَيُقَالُ لَهُ: عَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا، وَهُوَ مُقِرٌّ لَا يُنْكِرُ، وَهُوَ مُشْفِقٌ مِنْ كِبَارِهَا فَيُقَالُ: أَعْطُوهُ مَكَانَ كُلِّ سَيِّئَةٍ عَمِلَهَا حَسَنَةً، فَيَقُولُ: إِنَّ لِي ذُنُوبًا مَا أَرَاهَا هَهُنَا" قَالَ أَبُو ذَرٍّ: فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ

حضرت ابو ذرؓ فرمائی چې حضور ﷺ ارشاد وفرمایه چه زه هغه سړے ډیرخه پیژنم چې کوم به د ټولو نه اول جنت ته ځی او د هغه نه هم خبر یم چې د ټولو نه آخر به د جهنم نه راوزی،د قیات په ورځ به یو کس د الله په دربار کښې حاضر کړے شی دده دپاره به دا حکم وشی چې دده واړه ګناهونه دده ومخی ته کړ او غټ ګناهونه ئی پټ کړئ،چې کله دته واړه ګناهونه وړاندی کړے شی چې تا فلانے کار په فلانۍ ورځ باندی کړے وو نو دے به اقرار وکړی چې د انکار ګنجائش به نه وی،نو دے به په زړه کښې وریږی چې دا خو لا صغیره دی د کبیره به لا څه کیږی دغه وخت به حکم وشی چې دده د ہر ګناه په بدله کښې ده له یوه یوه نیکی ورکړئ نو دا کس به ددی حکم په اوریدو سره ووایی چې زما خو نور ډیر ناهونه دی هغه خو دلته نشته،ابوذرؓ فرمائی چې حضور ﷺ دده دا قول نقل کړو نو دومره ئی وخاندل چې غاښونه مبارک ئی ښکاره شول،او خندا ئی په دی خبری وه چې د کومو ګناهونو د اظهار نه چې یریدو د هغے د اظهار وس پخپله طالب شو۔

فائده: دا کس د کوم قصه چې تیره شوه دا هغه کس دے چې مختصرًا ورته اخرے جنتی ووئیلے شو یا د بل کس دے د حدیث د شارحینو تحقیق دادے چې دا بل کس دے او په جنت کښې آخری داخلیدونکے کس هغه دے چې قصه ئی ددی باب ۷ نمبر باندی رازی۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ ،حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنْ بَيَانٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: ((مَا حَجَبَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ أَسْلَمْتُ وَلَا رَآنِي إِلَّا ضَحِكَ))
حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ قَيْسٍ، عَنْ جَرِيرٍ قَالَ: ((مَا حَجَبَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا رَآنِي مُنْذُ أَسْلَمْتُ إِلَّا تَبَسَّمَ))

جریر ابن عبد اللهؓ فرمائی چې حضور ﷺ زما د اسلام نه وروستو چرته د خپلی حاضرۍ نه نه یم منع کړے او چې به ئی ماتی کتل نو وبه ئی خندل او بل رایت کښې دی چې تبسم به ئی کوو(مسکے کیدو به)۔

فائده: دا بل روایت ئی دی دپاره ذکر کړو چې معلومه شی چې د اول روایت د خندا نه تبسم مراد وو او دا تبسم به د خوشحالۍ د اظهار دپاره وو،څکه چې په رونړ تندی باندی میلاویدل د بل دپاره د فراخۍ سبب وی، ما خپل بعضے مشران لیدلی چې کله کله به د راتلونکو سره په داسی خنده پیشانۍ سره میلاویدل چې د هغی نه به راتلونکو دا محسوسوله چې زمونږ په راتلو باندی ډیره خوشحالی ده۔

حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبِيدَةَ السَّلْمَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي لَأَعْرِفُ آخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا، رَجُلٌ يَخْرُجُ مِنْهَا زَحْفًا، فَيُقَالُ لَهُ: انْطَلِقْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ" قَالَ: "فَيَذْهَبُ لِيَدْخُلَ الْجَنَّةَ، فَيَجِدُ النَّاسَ قَدْ أَخَذُوا الْمَنَازِلَ، فَيَرْجِعُ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ، قَدْ أَخَذَ النَّاسُ الْمَنَازِلَ، فَيُقَالُ لَهُ: أَتَذْكُرُ الزَّمَانَ الَّذِي كُنْتَ فِيهِ، فَيَقُولُ: نَعَمْ" قَالَ: "فَيُقَالُ لَهُ: تَمَنَّ" قَالَ: "فَيَتَمَنَّى، فَيُقَالُ لَهُ: فَإِنَّ لَكَ الَّذِي تَمَنَّيْتَ وَعَشَرَةَ أَضْعَافِ الدُّنْيَا" قَالَ: "فَيَقُولُ: تَسْخَرُ بِي وَأَنْتَ الْمَلِكُ" قَالَ: فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ

عبد الله ابن مسعودؓ فرمائی چی حضور ﷺ وفرمائیل زه هغه کد پیژنم چی د ټولو نه په اخر کښ به د اوور نه راوزی،دا به یو داسی سړے وی چی په زمکه خویدلو باندی به د دوزخ نه راوزی چی د دوزخ د عذاب د وجے نه به په سیدها تلو باندی قادره نه وی ،ده ته به حکم وشی چی لاړ شه جنت ته داخل شه،هغه به هلته لاړ شی گوری به چی خلقو خو ټول ځایونه نیولی دی، ټول ځایونه ډک دی دے به واپس شی او د الله په دربار کښ به عرض وکړی،هلته نه به ارشاد وشی(آیا د دنیا د کورونو حال دی یاد دے چی کله به ځائے ډک شو او د نورو گنجائش به نه وو او اول راتلونکی چی په خومره باندی قبضه کوی نو کوی دی او د روستو راتلونکو د پاره دِ ځائے نه پریږدی) ددی عبارت مشرانو داسی ترجمه کړی ده(مگر د بنده حضرت شیخؒ) په نزد باندی که دا مطلب واغستے شی نو ډیر خه معلومیږی(چی آیا د دنیا فراخی درته یاده نده چی څومره لویه دنیا وه) او دا ئی ورته ځکه وفرمائیل چی آئنده د ټولی دنیا په لس چنده ورکړے اعلان کیدو واله دے نو د ټولی دنیا یوه پیره تصور کولو نه بعد ددی ورکړی د زیاتی اندازه وی، دے به عرض وکړی اے زما ربه خه مِ یاد دی په دی باندی به ارشاد وشی چی خه څه وغواړه دے به خپلی تمنا گانی د هرقسم نه بیان کړی ارشاد به وشی چی خه تاله به ستا تمنا گانی او خوہشات هم درکړو او د ټولی دنیا په لس چنده جنت هم، دے به عرض وکړی اے الله ته خو د بادشاهانو بادشاه ئی او زما سره ټوقی کوی(چی هلت خالی ځائے نشته او ته تاسو ماله ددنیا په لس برخے راکوے) ابن مسعودؓ فرمائی چی حضور ﷺ کله ددی کس دا قول بیانوو نو دومره خندا پری راغله چی نواجذ ئی ښکاره شول۔

فائده: د حضور ﷺ دا خندا خو یا د الله تعالیٰ په اکرام او انعام باندی د خوشحالئ اظهار دے،ځکه چی د جهنم نه د ټولو نه بعد راوتلو نو ددی نه دده ډیر گناه گار کیدل بدیهی دی نو دده دومره انعامات دی نو نور عام مسلمانون باندی او بالخصوص په متقیانو باندی به لا څومره د رحم باران وی، او به امت باندی چی څومره اکرام وی د حضور ﷺ د خوشحالئ سبب دے ، او دا هم ممکن د د حضور ﷺ خندا ددی وجے وی چی دومره عذابونه او سختئ ئی تیرے کړی او بیا هم دومره جری(زړه ور دے) چی الله تعالیٰ ته وائی چی ته زما سره ټوقی کوی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، أَنْبَأَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ: شَهِدْتُ عَلِيًّا، أُتِيَ بِدَابَّةٍ لِيَرْكَبَهَا فَلَمَّا وَضَعَ رِجْلَهُ فِي الرِّكَابِ قَالَ: بِسْمِ اللَّهِ، فَلَمَّا اسْتَوَى عَلَى ظَهْرِهَا قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ، ثُمَّ قَالَ: ﴿سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ﴾ [الزخرف] ﴿وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ﴾ [الزخرف] . ثُمَّ قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ ثَلَاثًا، وَاللَّهُ أَكْبَرُ ثَلَاثًا، سُبْحَانَكَ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي، فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، ثُمَّ ضَحِكَ. فَقُلْتُ لَهُ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ؟ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَنَعَ كَمَا صَنَعْتُ

ثُمَّ ضَحِكَ فَقُلْتُ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: "إِنَّ رَبَّكَ لَيَعْجَبُ مِنْ عَبْدِهِ إِذَا قَالَ: رَبِّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي، إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ أَحَدٌ غَيْرُهُ"

ابن ربیعهؓ فرمائی چی د حضرت علیؓ په زمانه کښ دوی ته څه اسونه وغیره سورلۍ راغلی دوی چی په رکاب بانی خپه کیخوده نو بسم الله ئې ووی او چی کښیناستو نو الحمد لله ئی ووی بیا ئی دا دعا ولوسته(﴿سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ﴾ [الزخرف] ﴿وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ﴾ [الزخرف] .)پاک دے هغه ذات چا چی زمونږ دپاره دا تابعدار کړو کنه په مونږ کښ ددی د قابو کولو طاقت نه وو او یقیناً مو نږ ټول خاص الله طرفته واپس کیدونکی یو ۔(عالمان فرمائی چی سورلی چونکه د هلاکت سبب دے دی وجې نه د الله تعالیٰ د شکر سره ئی د مرگ ذکر هم پیوست کړو چی آخر کار د مرگ نه وروستو ټول د الله طرفته تگ دے)

بیا حضرت علیؓ درے پیرے الحمد لله بیا ئی درے پیرے الله اکبر ووی او بیا ئی دا دعا وفرمائیله(سُبْحَانَكَ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي، فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ) ستا ذات د هر عیب نه پاک دے او ما ستا د شکر نه ادا کولو او د حکم تابعداری نه کولو په وجه په خپل ځان باندی ظلم کړے دے نو اے الله زما مغفرت وکړی ځکه چی مغفرت ستا نه بغیر بل څوک د سره کولے نشی) ددی دعا نه وروستو حضرت علیؓ وخاندل ابن ربیعه فرمائی چی ما ترینه د خندا تپوس وکړو نو دویؓ وفرمائیل چی حضور ﷺ هم داسی کړی وو داسی دعا ئی وئیلی وه او بیا مسکے شوے وو ما هم د حضور ﷺ نه د مُسکا تپوس کړے وو لکه چی تا وکړو نو حضور ﷺ وفرمائیل چی بندی کله دا وایئ چی اے الله زما گناهونه ستا نه بغیربل څوک نشی بخلے نو الله تعالیٰ خوشحاله شی او فرمائی چی زما بنده ته دا معلومه ده چی زما نه بغیر بل څوک گناه نشی بخلے۔

(اللهم رب اغفر لی ولوالدی فانه لا یغفر الذنوب الا انت ،اللهم لا احصی نثاء علیک لک الکبریاء ولعظمة)

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، أَنْبَأَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَوْنٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ سَعْدٌ: لَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ. قَالَ: قُلْتُ: كَيْفَ كَانَ؟ قَالَ: كَانَ رَجُلٌ مَعَهُ تُرْسٌ، وَكَانَ سَعْدٌ رَامِيًا، وَكَانَ يَقُولُ كَذَا وَكَذَا بِالتُّرْسِ يُغَطِّي جَبْهَتَهُ، فَنَزَعَ لَهُ سَعْدٌ بِسَهْمٍ، فَلَمَّا رَفَعَ رَأْسَهُ رَمَاهُ فَلَمْ يُخْطِئْ هَذِهِ مِنْهُ - يَعْنِي جَبْهَتَهُ - وَانْقَلَبَ الرَّجُلُ، وَشَالَ بِرِجْلِهِ: ((فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ)). قَالَ: قُلْتُ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكَ؟ قَالَ: مِنْ فِعْلِهِ بِالرَّجُلِ

عامر ابن سعدؓ فرمائی چی زما پلار سعدؓ فرمائیل چی حضور ﷺ د خندق په ورځ باندی دومره وخندل چی غاښونه مبارک ئی ښکاره شول ،عامرؓ فرمائی چی ما تپوس وکړو چی په څه وجه ئی خندلی وو دویؓ وفرمائیل چی یو کافر ډهال راغستے وو او سعدؓ خو ډیر تیر انداز وو خو هغه خپل ډهال اخوا دیخوا کوو چی د مخ حفاظت پری وکړی (او د سعدؓ تیر لگیدو ته پری ندی خو دے(سعدؓ) خو مشهور تیر انداز وو)سعدؓ یو پیره غشے راویستو او په لینده کښ ئی راخکلو او په انتظار وو خو چی کله ده د ډهال نه سر راوچت کړو نو داسی

ولگیدو چی تندے ئی خطا نشو او سمدستی راپریوت او خپی پری دپاسه راواوڑیدی نو حضورﷺ په دی باندی وخندل ما ووی په دی کښ په کومه خبره باندی نو وئی فرمائی د سعدؓ په دی کار باندی ۔

فائده: په دی قصه کښ دا شبه راتله چی کیدے شی د خپی راوڑیدو او ستر ښکاره کیدو بنادی خندلی وی دی وجے د دوباره تپوس ضرورت راغے نو دویؒ وفرمائیل چی نه بلکه زما د نخے په خه والی باندی او ددی سره د دومره احطاط سره په غشی لگیدو باندی چی ده خو چالاکی کوله او ډهال ئی زرزر اخوا دیخوا کوو مگر سعدؓ پری هم په داسی تدبیر باندی ورسم کړو چی څه ته ئی سم نه کړو ۔

باب ما جاء فی صفة مزاح رسول اللهﷺ

د حضورﷺ د مزاح په باره کښ

فائده: د حضورﷺ نه مزاح ثابت دے او منع هم راغلی ده لکه چی په ترمذی کښ د ابن عباسؓ په روایت کښ ددی منع راغلی ده ،امام نوویؒ په دواړو کښ داسی جمع کړی ده چی دومری ډیر مزح کول چی د زړه د سختیا سبب شی یا د الله د ذکر نه د غفلت سبب شی یا د یو مسلمان د تکلیف سبب شی یا وقار او دبدبه ختمه کړی دا ټول صورتونه په منع کښ داخل دی او چی ددی ټولو نه خالی وی صرف د بل کس زړه خوشحالول وی نو دا مستحب دی لکه عبد الله ابن حارثؓ فرمائی چی ما د حضورﷺ نه زیات خوش طبعۍ واله بل څوک ندے لیدلے ځکه چی د حضورﷺ خوش طبعی خو د گرانۍ په د مخر او ناز سبب وو۔

گر طمع خواہد زمن سلطان دیں　　　　خاک بر فرقِ قناعت بعد ازیں

دغه شان د حضورﷺ دپاره د مزاح یو ضرورت هم وو چی د حضورﷺ وقر دومره ډیر وو چی د یوی میاشتے په فاصلے سره به د حضورﷺ رعب رسیدو ، دی وجے نه که حضورﷺ مزاح نه کولے نو حاضرینو ته به په مجلس کښ ناسته گرانه شوی وه، او د فائدے اسباب به بند شوی وو،او دغه شان تر قیامته پوری به چی د حضورﷺ په اتباع کښ کومو مشرانو او شیخانو ځان ډیر کوشش کوو هغوی به هم بیا قصداً د تبسم او مزاح نه ځان ساتلو او دا به ددوی د خادمانو دپاره د مشکلاتو سبب جوړیدو ، الله دی بے انتهاء درود او سلام په هغه ذات باندی ولیږی چی چا د امت د سهولت هره دروازه کهولاؤ کړی ده، سفیان ابن عیینهؒ ته چا ووی چی مزاح هم یو آفت دے دویؒ وفرمائیل نه بلکه سنت دے خو د هغه چا دپاره چی څوک ددی ځائے پیژنی او خه مزاح کولے شی۔

> حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ ، أَنْبَأَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: ((يَا ذَا الْأُذُنَيْنِ)) قَالَ مَحْمُودٌ: قَالَ أَبُو أُسَامَةَ: ((يَعْنِي يُمَازِحُهُ))

حضرت انسؓ فرمائی چی حضورﷺ یو پیره ده ته د مزاح په طور وفرمائیل اے دوو غوږونو واله۔

فائده: غوږونه خو د هر چا دوه وی خو ده ته دوؤ دوه غوږ ے وئیل یا خو څه دمقام خصوصیت به وی لکه غوږونه به دده لوی وو یا به تیز وو د لرے نه به ئی اواز اوریدو ،اودا اخرئ توجیه ډیره خه ده۔

حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: إِنْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُخَالِطُنَا حَتَّى يَقُولَ لِأَخٍ لِي صَغِيرٍ: ((يَا أَبَا عُمَيْرٍ، مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ؟)) قَالَ أَبُو عِيسَى: " وَفِقْهُ هَذَا الْحَدِيثِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُمَازِحُ وَفِيهِ أَنَّهُ كَنَّى غُلَامًا صَغِيرًا فَقَالَ لَهُ: يَا أَبَا عُمَيْرٍ. وَفِيهِ أَنَّهُ لَا بَأْسَ أَنْ يُعْطَى الصَّبِيُّ الطَّيْرَ لِيَلْعَبَ بِهِ. وَإِنَّمَا قَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((يَا أَبَا عُمَيْرٍ، مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ؟)) لِأَنَّهُ كَانَ لَهُ نُغَيْرٌ يَلْعَبُ بِهِ فَمَاتَ، فَحَزِنَ الْغُلَامُ عَلَيْهِ فَمَازَحَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((يَا أَبَا عُمَيْرٍ، مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ؟))

حضرت انسؓ فرمائی چی حضور ﷺ به به زمونږ سره مزاح کوو لکه چی زما یو وړوکے ورور وو حضور ﷺ هغه ته وفرمائیل (یا ابا عمیر ما فعل النغیر؟)اے ابو عمیره هغه نغیر دِ څه شو؟۔

فائده: نغیر یو مرغۍ ده چی ددی ترجمه عالمان په (لال) سره کوی حیات الحیوان کښ ئی بلبل لیکلے دے امام ترمذیؒ فرمائی چی ددی حدیث حاصل دادے چی حضور ﷺ ددی ماشوم کنیت بیان کړو ددی وجے نه چی دی ماشوم یوه مرغۍ ساتلی وه او هغه تری مړه شوه چی ددی وجے دے ډیر غمجن وو ،حضور ﷺ ته معلومه وه خو دده د چیړلو د پاره ئی وفرمائیل چی هغه بغیر دِ څه شو؟،

دا حدیث په یو اختلافی مسئله کښ د احنافو تائید کوی هغه مسئله داده چی په د مدینے په حرم کښ ښکار کول د شوافعو په نزد باندی د مکے د حرم پشان دی او د احنافو په نزد په دی کښ فرق دے چی د مکے په حرم کښ ښکار جانز ندے او د د مدینے په حرم کښ جائز دے لکه چی حضور ﷺ په دی باندی دلته انکار ونکړو دا د احنافو د دلائیلو نه یو دلیل دے ،په دی کښ اختلاف دے چی ابو عمیر دده د مخکښ نه کنیت وو کنه حضور ﷺ ورته په اول ځل بانده وفرمائو ،بعضو عالمانو په دی کښ د سلو نه ډیر ے مسئلے او فائدے خودلی دی ،د هغې ذات نه قربان شم چی د چا د مزاح په یوه جمله کښ د سلو سلو مسئلو حل وی ،او د هاغ عالمانو قبرونه دِ الله د نور نه ډک کړی چا چی د خپل رسول اکرم ﷺ د حدیثو دومره خدمت وکړو چی د یو یو حدیث نه ئی څو څو مسئلے راویستلی دی او خوری کړی ئی دی ۔

دی حدیث کښ یو اشکال دا هم دے چی په دی کښ د ځناور په پنجره کښ بندول او بیا د ماشوم د هغې سره لوبی کول راغلی دی نو دا خو ځناور لره تکلیف ورکول دی او د ځناور د تکلیف ورکولو نه منع راغلی ده،

ددی جواب دادے چی صرف بندول د ځناور تکلیف ورکول ندی بلکه تکلیف ورکول جدا شے دے ، ددی وجے نه عالمان فرمائی چی د ځناور ساتل د هغې چا د پاره جائز دی څوک چی ئی خیر خبر اخلی او کوم ماشوم چی ناپوهه وی یا سخت زړه واله وی او ځناور له تکلیف ورکوی د هغه د پاره جائز ندی،

حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ قَالَ: أَنَا حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ: أَنبأَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّكَ تُدَاعِبُنَا قَالَ: ((إِنِّي لَا أَقُولُ إِلَّا حَقًّا)) تَدَاعِبُنَا يَعْنِي تُمَازِحُنَا

حضرت ابو هریرةؓ فرمائی چی صحابهٔ عرض وکړه اے د الله رسوله ﷺ تاسو خو زمونږ سره مزاح هم کوئ حضور ﷺ وفرمائیل او او خو زه غلطه خبره چرته هم نه کوم۔

فائده: د صحابهؓ د سوال وجه داوه چه حضورﷺ خو د مزاح نه منع هم فرمائیلی ده او دغه شان د اوچت شان هم خلاف دی چی دا وقار ختموی ،حضورﷺ وفرمائی چی زما خوشطبعی په دی کښ داخله نده،لکه شی د باب په شروع کښ ددی څه تفصیل ذکر شوے دے۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَجُلًا اسْتَحْمَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: ((إِنِّي حَامِلُكَ عَلَى وَلَدِ نَاقَةٍ)) فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَا أَصْنَعُ بِوَلَدِ النَّاقَةِ؟ فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((وَهَلْ تَلِدُ الْإِبِلَ إِلَّا النُّوقُ))

حضرت انسؓ فرمائی چی یو کس حضورﷺ ته درخواست وکړو چی ماله سورلۍ راکړئ حضورﷺ وفرمائیل د اوښے یو بچے به درله درکړو ،سوال کونکی ووی زه د اوښے په بچی څه کوم ماله سورلی پکار ده، حضورﷺ وفرمائیل هر اوښ د اوښی بچے وی۔

فائده: د سوال کونکی د خیال راغے چی وړوکے بچے به راکوی چی سورلۍ قابل به نه وی ،

په دی حدیث کښ د مزاح نه علاوه دی طرفته هم اشاره ده چی سړی له د بل چا خبره ډیره په غور سره اوریدل پکار دی او ځان پری پوهه کول پکار دی۔

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ كَانَ اسْمُهُ زَاهِرًا وَكَانَ يُهْدِي إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَدِيَّةً مِنَ الْبَادِيَةِ، فَيُجَهِّزُهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((إِنَّ زَاهِرًا بَادِيَتُنَا وَنَحْنُ حَاضِرُوهُ))وَكَانَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّهُ وَكَانَ رَجُلًا دَمِيمًا فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا وَهُوَ يَبِيعُ مَتَاعَهُ فَاحْتَضَنَهُ مِنْ خَلْفِهِ وَهُوَ لَا يُبْصِرُهُ، فَقَالَ: مَنْ هَذَا؟ أَرْسِلْنِي. فَالْتَفَتَ فَعَرَفَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ لَا يَأْلُو مَا أَلْصَقَ ظَهْرَهُ بِصَ/دْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ عَرَفَهُ، فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ((مَنْ يَشْتَرِي هَذَا الْعَبْدَ)*-)فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِذًا وَاللهِ تَجِدُنِي كَاسِدًا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((لَكِنْ عِنْدَ اللهِ لَسْتَ بِكَاسِدٍ)) أَوْ قَالَ: ((أَنْتَ عِنْدَ اللهِ غَالٍ))

حضرت انسؓ فرمائی چی یو کس د ځنګل اسیدونکے چی نوم ئی زاهر ابن حرام وو هغه چی به که خدمت کښ حاضریدو نو د ځنګل سبزی ترکاری به ئی حضورﷺ له هدیه ورکوله او چی کله به ئی د واپسۍ اراده وکړه نو حضورﷺ به ورله د ښار د خوراک څښاک سامان ورکوو یو ځل حضورﷺ وفرمائیل زاهر زمونږ ځنګل دے او مونږ دده ښار یو،دحضورﷺ دده سره خاص تعلق وو زاهر ډیر ښائسته هم نه وو ،یو ځل په یو ځائے کښ ولاړ وو سامان ئی خرخوو چی حضورﷺ پټ راغے او دے ئی د شانه راونیوو ده اے څوک ئی ما پریګده خو چی کله ورته د سترګو په ګوټونو کښ وخکاریدو نو حضورﷺ ئی وپیژندو نو خپله ملا ئی ډیر په اهتمام سره شاته کړه چی د حضورﷺ د سینے مبارکی سره پیوست وی دا د زرګونو نعمتونو نه څه دی ،حضورﷺ اواز وکړو دا غلام څوک اخلئ،زاهر وفرمائیل د اے رسوله ﷺ که ته ما خرڅ کړی نو کهوټه او کم کیمته به راوخیژم،حضورﷺ وفرمائیل نه د الله په نزد باندی ته ډیر ګران ئی ۔

فائده: د حضورﷺ د شانه راتلل او د زاهر نه لاس تاوهل او په سترګو باندی لاس کیخودل خو مزاح وو او د حضورﷺ دا آواز کول چې د اغلام څوک اخلئ دا هم مزاح وو ځکه چې حضرت زاهرؓ غلام نه وو ازاد وو ،خو د حضورﷺ دا ارشاد فرضًا او تشبیهًا وو،

بعضې شرحه کونکو لیکلی دی چې دا حدیث خو په ظاهره باندی مزاح دے خو حقیقت کښ پکښ ډیر رازونه پراته دی ،ځکه چې حضورﷺ کله دے د سامان په خر څولو کښ دومره مشغول ولیدو نو حضورﷺ د توجه الی الله کمی محسوسه کړه دی وجې نه ئې اول تری لاس تاؤ کړل چې د حضورﷺ سره د پیوست کیدو سره د الله طرفته توجه راتلل خو ظاهره ده، او بیا ئې د تنبیه په طور باندی وفرمائیل چې دا غلام څوک اخلئ دی وجې نه چې څوک په غیر الله کښ دومره مشغول دے نو ګویا دے د خپل نفس غلام دے ،لیکن د حضورﷺ سره په دی پیوست کیدو سره د هغهؓ پوره توجه الی الله حاصله شوی وه دی وجې نه ورته حضورﷺ بیا وفرمائیل چې ته د الله تعالیٰ په نزد قیمتی ئې کم قیمته نه ئې۔

حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُصْعَبُ بْنُ الْمِقْدَامِ، حَدَّثَنَا الْمُبَارِكُ بْنُ فَضَالَةَ، عَنِ الْحَسَنِ قَالَ: أَتَتْ عَجُوزٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، ادْعُ اللهَ أَنْ يُدْخِلَنِي الْجَنَّةَ، فَقَالَ: ((يَا أُمَّ فُلَانٍ، إِنَّ الْجَنَّةَ لَا تَدْخُلُهَا عَجُوزٌ)) قَالَ: فَوَلَّتْ تَبْكِي فَقَالَ: ((أَخْبِرُوهَا أَنَّهَا لَا تَدْخُلُهَا وَهِيَ عَجُوزٌ)) إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَقُولُ: ﴿إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا عُرُبًا أَتْرَابًا﴾ [الواقعة:-]

حضرت حسن بصریؒ فرمائی چې د حضورﷺ په خدمت کښ یوه بوډئ راغله او وئې فرمائیل اے د الله رسولهﷺ دعا وکړئ چې الله تعالیٰ م اجنت ته بوزی حضورﷺ وفرمائیل بوډئ ځځه به جنت ته نه ځی،هغه په په ژړا واپس شوه حضورﷺ وفرمائیل دی ته ووائیئ چې د بوډاوالی په حالت کښ به جنت ته نه ځی بلکه الله تعالیٰ به ټولی بوډئ ګانی کم عمره پیغلی جوړی کړی او د الله تعالیٰ په دی قول(﴿إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا عُرُبًا أَتْرَابًا﴾) کښ د دی بیان دے چې مطلب ئې دادے چې مونږ دا زنانه خاص طور باندی جوړی کړی دی (یعنی داسی چې پیغلی دی)(بیان القرآن) یعنی ہمیشه به پیغلی وی (یعنی د صحبت نه بعد به بیا پیغلی کیږی۔

باب ما جاء فی صفة کلام رسول اللهﷺ فی الشعر

د حضورﷺ د شعر په باره کښ د ارشاداتو بیان

فائده: یعنی د حضورﷺ نه چې کوم اشعار اوریدل په روایاتو کښ راغلی وی د هغې ذکر۔

شعر هغې کلام ته وائی کوم چې قصدًا قافیے والا،او وزن والا جوړ کړے شوے وی یعنی په ارادے سره د شعر په طرز جوړ کړے شوی وی ،د حضورﷺ شاعر نه کیدل یقینی دی په قرآن کښ صفا ددی بیان شته او د کافرانو هغه خبری کومو کښ چې حضورﷺ د جادو ګر یا شاعر یا مجنون کیدو په باره کښ دی هغه قرآن ډیر په تعجب ، سره ذکر کړی دی او د حضورﷺ د شاعرئ متعلق قرآن صفا ارشاد فرمائیلے (وما علمناه الشعر وما ینبٰغی له) مونږ دوی یعنی محمد ﷺ له د شاعرئ علم ندے ورکړے او د شاعرئ علم ددویﷺ د شان مناسب هم ندے۔

بیا چی د حضورﷺ په کلام کښ چی چرته موزون موندلے شی هغه بغیر د قصد او ارادے دی او بغیر د ارادے نه چی کوم کلام موزون شی هغه شعر ندے۔

د بنده (حضرت شیخؒ) په نزد باندی دا هم د حضورﷺ شاعر نه کیدل هم معجزه ده چی د حضورﷺ شاعر نه کیدل د عجز دوجے نه دی ،بلکه دکوم کس په کلام کښ چی بغیر د ارادے نه موزونیت رازی که چرے دے قصدًا موزون جوړول وغواړی نو ځومره بے تکلفه به بهترین جوړ کړی ،لیکن الله تعالیٰ ددویﷺ شان دد ے نه ډیر اوچت جوړ کړے وو دے وجے نه ئی چرت دی طرفته توجه هم نده کړی ،

د شعرونو د خه او بدو په باره کښ مختلف روایات : بعضے روایاتو نه معلومیږی چی شعر خه شے دے او بعضو نه دا معلومیږی چی شعر منع دے او بد شے دے۔لیکن فیصله کونکی خبره داده چی په حدیث کښ راغلی دی چی د شعر په ذات کښ خه والے یا بدی نشته،که مضمون ئی خه وی نو خه او که مضمون بد وی بد ،یعنی کومه درجه چی د مضمون وی حرام وی یا مکروه یا خلاف اولیٰ په دغه درجه کښ به شعر هم وی لیکن که مضمون ئی بهتر هم وی نو بیا هم په دی کښ ډیر مشغولیدل منع دی ۔

په دی باب کښ مصنف نهه حدیث ذکر کړی دی۔

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ ،حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قِيلَ لَهَا: هَلْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَمَثَّلُ بِشَيْءٍ مِنَ الشِّعْرِ ؟ قَالَتْ: كَانَ يَتَمَثَّلُ بِشِعْرِ ابْنِ رَوَاحَةَ، وَيَتَمَثَّلُ بِقَوْلِهِ: ((وَيَأْتِيكَ بِالأَخْبَارِ مَنْ لَمْ تُزَوِّدِ))

حضرت عائشهؓ نه چا تپوس وکړو چی حضورﷺ به چرته شعر فرمایه؟دویؓ وفرمائیل او مثال په طور کله کله به ئی د عبد الله ابن رواحه یو شعر فرمایه کله کله د بل شاعر لکه چی کله به ئی د طرفه دا مصرعه لوستله (ویاتیک بالاخبار من لم تزود) یعنی تاله خبر داسی کس هم راوړی چا له چی تا څه قسم عوض نه وی ورکړی ،یعنی د واقعاتو د تحقیق دپاره د څه ځائے حالات معلومولو دپاره تنخوا ورکول غواړی د سفر خرچ ورکولے کیږی او حالاتو د معلومولو دپاره کس لیږلے کیږی مگر کله کله څوک کور ته راشی او ټول حالت بیان کړی څه قسم خرچ پری را نه شی ،

بعضے عالمان وائی چی دا حضورﷺ خپل مثال بیان کړو چی زه بغیر د اجرت او عوض نه د جنت او دوزخ او د تیرو پیغمبرانو حالات بیانوم او د آئینده راتلونکو واقعات بیانوم بیا هم دا کافر قدر نه کوی (په دی حدیث کښ د دوؤ شاعرانو ذکر دے حضرت عبد الله ابن رواحهؓ خو مشهورصحابی دے د حضورﷺ د هجرت نه مخکښ مسلمان شوے وو او د حضورﷺ مخے ته په غزوه موته کښ شهید شوے وو، دویم طرفه ابن عبد د عربو مشهور شاعر دے د ادب مشهور کتاب سبعه معلقه کښ دویمه معلقه دده ده دوی د اسلام زمانه نده موندلے ،دا مصرعه دده ده۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ ،حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ أَصْدَقَ كَلِمَةٍ قَالَهَا الشَّاعِرُ كَلِمَةُ لَبِيدٍ: أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللَّهَ بَاطِلٌ،وَكَادَ أُمَيَّةُ بْنُ أَبِي الصَّلْتِ أَنْ يُسْلِمَ"

حضرت ابو هریرهؓ فرمائی چی حضورﷺ ارشاد وفرمایه چی د ټولو نه رشتیا خبره چی یو شاعر وئیلی ده هغه د لبید ابن ربیعه دا کلمه ده(الا کل شیئ ما خلا الله باطل) خبردار د الله تعالیٰ نه علاوه ددنیا هر شے فانی دے او امیه ابن صلت نزدے وو چی ایمان ئی راوړے وے۔

فائده:لبید یو مشهور شاعر وو خو د مسلمانیدو نه وروستو ئی شعر وئیل پریخودلے وو،فرمائیل به ئی چی الله تعالیٰ ماله د اشعارو نعم البدل راکړے دے ،دویؒ په مکرمو صحابهؓ کښ دی څلویښت دپاسه سل کاله عمر ئی موندلے دے، دد ے دویمه مصرعه(وکل نعیم لامحالة زائل) چی ددی ترجمه داده چی ددنیا ہر نعمت څه نه څه وخت زائل کیدونکے دے ۔

او امیه ابن صلت هم یو مشهور شاعر وو چی په خپلو اشعارو کښ حقائق بیانوو د قیامت منونکے وو لین توفیق ورته میلاؤ نشو او مسلمان شو ے ندے د اتم حدیث لاندی دده لګ تشریح رازی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى ،حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ جُنْدُبِ بْنِ سُفْيَانَ الْبَجَلِيِّ قَالَ: أَصَابَ حَجَرٌ أُصْبُعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَمِيَتْ، فَقَالَ: ((هَلْ أَنْتِ إِلَّا أُصْبُعٌ دَمِيتِ، وَفِي*/ سَبِيلِ اللَّهِ مَا لَقِيتِ))

جندب ابن عبد اللهؓ فرمائی چی یو ځل یو کانړے د حضورﷺ په ګوته مبارکه باندی لګیدلے وو هغه زخمی شوی وه نو حضورﷺ دا شعر فرمائیلے وو چی حاصل ئی دادے "ته خو یوه ګوته ئی چی تاته صرف دا تکلیف رسیدلے دے چی وینی شوی ئی او دا هم بیکاره نده بلکه د الله په لار کښ دا تکلیف راغلے چی ثوب به ئی میلاؤ شی ۔

فائده:په دی حدیث باندی وس دا اشکال کیږی چی حضورﷺ شعر څنګه وفرمایه مختصر جواب تیر شو ے هم دے خو په دے ځائے کښ یو جواب دا هم ورکولے کیږی چی دیته رجز وائی شعر ندے ،بعضے وائی چی یو نیم شعر باندی سړے شاعر کیږی نه نو دا د آیت(وما علمناه الشعر) مخالف ندے، ، بعضے فرمائی چی دمیت او لقیت کښ تاء ساکنه ده مکسوره نده دی صورت کښ د وزن نه بلکل ووتو ، د بنده په نزد باندی که دا توجیه وشی چی دا شعر د حضورﷺ ندے بلکه منقول دے د بل چا نو بیا بلے توجیه ته ضرورت نشته ،لکه چی واقدیؒ دا شعر ولید ابن ولید ته منسوب کړے دے ،او ابن ابی الدنیا په خپل کتاب محاسبة النفس کښ ابن رواحة ته منسوب کړے دے ،د دوؤ شاعرانو نه د یو شعر وئیل منع ندی کیدے شی دواړو وئیلے وی ،په دی کښ اختلاف دے چی دا قصه د کوم وخت ده جمهور فرمائی چی د احد د جنګ ده او بعضے وائی د هجرت نه مخکښ ده۔

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ ،حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْبَجَلِيِّ، نَحْوَهُ
حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ ،حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ قَالَ: أَنْبَأَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ ق+الَ: قَالَ لَهُ رَجُلٌ: أَفَرَرْتُمْ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا عُمَارَةَ؟ فَقَالَ: لَا وَاللَّهِ مَا وَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَكِنْ وَلَّى سَرَعَانُ

النَّاسِ تَلَقَّتْهُمْ هَوَازِنُ بِالنَّبْلِ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَغْلَتِهِ، وَأَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ آخِذٌ بِلِجَامِهَا، وَرَسُولُ اللهِ يَقُولُ: ((أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ، أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ))

براء ابن عازبؓ نه یو کس تپوس وکړو چې تاسو ټولو حضورﷺ پریخې وو په جنګ حنین کښ او تختیدلی وئ دوی وفرمائیل نه حضورﷺ شا کړې نه وه بلکه د فوج بعض تادی ګرندو چې ډیر پکښ د قبیلې بنی سلیم او د مکې نوی مسلمانان وو د قبیلې هوازن د غشو نه ئې مخ واړوو حضورﷺ(مشران صحابه ورسره کیدل ظاهر دی) په خپل قچر باندی ناست وو او ابو سفیان ابن الحارث د هغې واګې نیولې وو ،حضورﷺ دغه وخت دا فرمائیل((أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ، أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ)) زه بے شکې نبی یم او زه د عبد المطلب بچې یم۔

فائده:حضورﷺ د خپل پلار په ځائې باندی بابا طرفته نسبت وکړو ځکه چې دوی(عبد المطلب)د حضورﷺ د غلبې وطلاع د قریشو کافرانو له ورکړې وه او دا د هغې تصدیق وو، بعض وائی چې د حضورﷺ والد صاحب چونکه د پیدائش نه مخکښ وفات شوے وو دی وجې نه حضورﷺ په ابن عبد المطلب سره مشهور وو، او دا هم ده چې عبد المطلب سردار وو مشهور وو ددی مشهورتیا دوجې ئې دوی ته نسبت وفرمایه، ابن حجرؒ دا هم لیکلی دی چې په کافرانو کښ داخبره مشهوره وه چې د عبد المطلب په اولاد کښ به یو کس پیدا کیږی او د خلقو د هدایت ذریعه به وی او آخرے پیغمبر به وی دی وجې نه حضورﷺ ورته مشهوره خبره یاده کړه ۔

غزوه حنین په ۸ هجری کښ شوے دے ،د عربو قبیلې د ډیر وخت نه د مکې د فتح په انتظا روو چې که حضورﷺ په مکې باندی قبضه وکړه نو پوهه شئ چې دے غالب دے (او بے تپوسه ئې بیا تابعداری کوئ) او که مکه فتح نه شوه نو پوهه شئ چې دے نشی غالب کیدے،

کله چې مکه فتح شوه نو قبیله هوازنو وغیره چې د حنین وغیره اسیدونکی وو دوی هم د خپل مټو زور کتلو فیصله وکړه او څه نورے قبیلې ورسره شوی او په شریکه په حنین کښ جمع شول (چې داد نکې نکرمې نه طائف او عرفات طرفته په لس میله فاصله کښ دے) بعض تجربه کار بوډاګانو دوی منع هم کړل خو څه جزباتی ځوانانو ونه منله او دا ئې ووی چې دوی(مسلمانانو) د جنګیالو سره ندی مخ شوی دی وجې نه ګټه کوی (مونږ به ورته چل وخایو) او هسې نه چې په مونږ باندی حلمه وکړی دی وجې نه ئې پخپله ابتداء وکړه او شل زره فوج ئې تیار کړو،حضورﷺ ته چې که پته ولګیده نو لس،دولس زره مجمع چې پکښ مهاجر انصار او د مکې نوی مسلمانان وو (او یو داسې جماعت هم چې لا مسلمان شوی نه وو په دی کښ بعضې کسان د غنیمت په لالچ باندی شریک شول او بعض د جنګ تماشې د پاره تلی وو)

حضورﷺ ددی لښکر سره په ۹ شوال ۸ هجری باندی روان شو مسلمانانو ته حنین ته د تلو په مینځ کښ په یو ډیر تنګ تنګې باندی تیریدل وو ،دشمنانو خپل لښکر په دغه غرونو کښ پټ کړی وو مسلمانان چې کله دد غې تنګې نه تیریدل نو د دشمن فوج د غشو باران جوړ کړو ،مسلمانان په دی ناساپه حملې سره ډیر پریشانه شول او یو خوا بل خوا خواره شول د حضورﷺ سره علاوه د څو مشرانو صحابهؓ نه لکه ابوبکرؓ ،عمرؓ،علیؓ،عباسؓ،وغیره نور څوک پاتی نشو،په دی حالت کښ د بعضې کمزوری ایمان واله عقیدے هم ګډے وډے شوی او بعضو خو اوازونه او خبرے اورول شروع کړی ،بعض په تیختته مکې واپس

راغلل او د مسلمانانو د شکست خبر ئی هغې خلقو ته واوروو کوم چی لا مسلمانان شوی نه وو،یا چا چی په ظاهری ایمان قبول کڑے وو،

د حضورﷺ ہاشمی وینه دغه وخت په جوش کښ وه دویﷺ په دی خوفناک حالت کښ د خپلی سورلئ نه راکوز شو او پیاده د دشمن طرفته روان شو او دا ئی فرمائیل(انا النبی لا کذب انا انب عبد المطلب)

حضرت عباسؓ مهاجرین او انصار او اصحاب شجره ځانله ځانله رابلل او وئیل اے چرته روان یئ دیخوا راشئ،د آواز اوریدل وو چی غمجن صحابہؓ په اواز باندی د لبیک وئیلو سره داسی راواپس شول لکه اوښه چه خپل بچی ته واپس کیږی،د صحابہؓ واپس کیدل وو چی په دواړو ډلو کښ یو گرم جنگ وشو، حضورﷺ د زمکی نه څه کوری شگی راواغستی او (شاهت الوجوه) ئی وفرمائیل او مقابل باندی ئی و نوستے څه وخت د جنگ دغه حالت وو ددی نه وروستو د جنگ مخ داسه بدل شو چی کوم میدان کښ صحابہؓ پریشانه وو وس کافران بد حواسه خکاری او خپل مال او اولاد د مسلمانانو د پاره د غنیمت په طور پریږدی او تختی او په دیخوا گوری هم نه،د ضروروت تر حده قصه مختصر کڑے شوه تفصیل ئی د تاریخ په کتابونو کښ کتلے شئ۔

دلته یوه خبره د ډیرغور قابله ده هغه دا چی د یوی واقعے متعلق صرف یو حدیث دوه کتل او بیا په هغې واقعے باندی اشکالات کول کم علمی ده، په یو دوه حدیثونو کښ د واقعے تفصیل نه خو پورپ رازی او نه مقصودوی ،هره واقعه متعلق که څه رائے قائمول وی نو تر څو چی د هغې ټولے واقعے تفصیلی حالات مخے ته نه وی نو رائے قائمول فضول دی ،ددی واقعے متعلق چرته یو مختصر تاریخ کتل یا یو ده حدیثونو ترجمه کتل او بیا دا وئیل چی د صحابہؓ ټول لس زره لښکر تختیدلے وو او دوه څلور صحابوؓ نه علاوه د حضورﷺ سره څوک نه وو دا د واقعه خلاف کیدو سره سره د عقل نه هم خلاف ده، دکافرانو شل زره لښ کر ته بیا څه گرانه وه چی دوه څلور کسان راگیر کڑی چی ټول تختدلی وو، دا لا څه کوی چی په یو روایت کښ راغلی دی چی حضورﷺ یواځی وو څوک ورسره هم نه وو،ډیر تعجب د هغې خلقو نه دے څوک چی د جنگ د حالاتو نه خبر وی د لښکر ترتیب او د حملے کولو په چل باندی علم لری هغوی هم دداسی روایت نه متاثره شی ۔

د لښکر د عام ترتیب موافق حضورﷺ ددی لښکر هم په پنځوو حصو کښ تقسیم کڑے وو۔ مقدمة الجیش (اوله حصه) میمنه،میسر(ښئ او گسه حصه)قلب(مینځنئ حصه) کومه کښ چی حضورﷺ د امیر په حیثیت باندی جلوه اوفروز وو او ساقه(ورستنئ حصه) ۔

ددی نه علاوه د هر هر جماعت زانله زانله امیر وو او مستقل جنډه ورسره وه ،د مهاجرینو جنډا د عمرؓ سره وه،او حضرت علیؓ،سعد ابن وقاصؓ،اسید ابن حضیرؓ،خباب ابن منذرؓ وغیره حضرات د یوی یوی ډلے امیران وو او په خپل خپل مقرر ځائے باندی ددی ډیوټی وه۔

مقدمة الجیش کښ د بنو سلیم جماعت وو او ددوی جنډه د حضرت خالد ابن ولیدؓ په لاس کښ وه ،ددی جماعت سره دا قصه مخے ته راغلی وه چی اول کښ دشن په بائللو شو او دا جماعت په گټه کښ وو دوی مخکښ شول او ځان ئی غالب وگڼړو او غنیمت طرفته متوجه شول، او پټ شوی دشمنان دوی د

هر طرف نه راګیر کړل چې وس ددوی کمزوری یقیني وه، ددی کمزورئ او شکست سره په ټول لښکر کښ تشویش خور شو او یوخوا بل خوا منډه وخل ضروری وو،لیکن ددی دا مطلب اغستل چې ټول لښکر تختیدلے وو د حالاتو نه د ناخبرئ وجه ده۔

لکه عبد الرحمانؒ د یو کس بیان نقل کوی چې دغه کافر وو :چې کله مونږ په مسلمانانو باندی په حنین کښ حمله وکړه او دوی مونږ په وروستو روان کړل نو دوی زومونږ د مقابلے طاقت و نه لرلو او په شا باندی تلل مونږ پسے هم روان وو په تللو تللو مونږ یو داسی کس ته ورسیدو چې چې په سفین قچر باندی ناست وو او ډیر خکولی مخ ئی وو خلق دده چاپیره جمع وو ،ده چې مونږه ولیدو نو شاهت الوجوه ارجعو ئی ووی،دا وئیل وو چې زمونږ کمزوری کیدل شروع شول او دغه ډله په مونږ غالبه شوه۔

دی وجے نه د حضرت براءؓ روایت کوم چې دلته ذکر شو دا فرمائی چې حضورﷺ مخ ندے اړولے بلکه څه تادی ګرندی چې غشی یئ برداشت نه کړل وتختیدل،

ددی سره دا واقعه هم پیښه شوی وه چې حضورﷺ په کومه طرف باندی روان وو هغه ئی پریخود او ښے طرفته روان شو ، د غور خبره دا هم ده چې په داسی انتشار کښ به چاته معلومه شی چې حضورﷺ وس کوم طرفته د تلو اراده ده؟ په داسی وخت کښ د حضورﷺ سره د سلو کسانو پاتی کیدل په یو روایت کښ او د اتیاؤ پاتی کیدل په بل روایت کښ راغلی دی ،تردی چې کله حضورﷺ خپل قچر په تیزئ سره ورمخکښ کړو نو خلق د مخے نه ډډ ے ته شول او صرف دولس کسان پاتی شول او بیا صرف څلور کسان پاتی شول کومو چې د قچر واګی وغیره نیولی وو تردی چې کله قچر هم د حضورﷺ په خوښه بانده مخکښ نشو تلو نو بیا حضورﷺ راکوز شو او یوازی د شګو یو موټے راواغستو او دشمن ته ورمخے ته شو،دا هغه وخت دے کوم چې بخاریؒ نقل کړے دے چې حضورﷺ یوازی وو څوک هم ورسره نه وو،

ددی سری دا یو اجمال مضمون چې په دی جنګ کښ خلق تختیدلی وو په ذهن کښ ساتل او دا خبره کول چې ټول صحابهؓ تختیدلی وو په واقعه باندی د صحیح نظر نه کولو وجه ده۔

چونکه په ټول لښکر کښ انتشار وو او یقینًا بعضے ےختیدلی هم وو بلکه بعضے په دی باندی خوشحاله هم وو لکه چې په تفصیلی واقعاتو کښ ذکر دی ،یو ته د بل خبر نه وو لکه چې دا د انتشار لازمی تنیجه ده ،دی وجے نه حضورﷺ په حضرت عباسؓ باندی خلقو ته اوازونه وکړل (چې دےؓ ډیر تیز اواز وله وو) او مهاجرو انصارو او اصحاب شجره ته ئی جدا جدا اوازونه وکړل چې ددی په اوریدو سره ټول د حضورﷺ خواته راجمع شول، او په دویمه حمله کښ بیا مسلمانان په ګټه وو۔

بحر حال په دی مضمون کښ چې د حضورﷺ سره په دغه وخت باندی څومره کسان وو مختلف روایات دی ،او هر روایت په خپله خپله موقع باندی لګی،تردی چې د بخاریؒ روایت چې حضورﷺ بیخی یوازی وو څوک نور نه وو هم په خپل ځائے صحیح دے لکه چې حضورﷺ د قچر نه راکوز شو او پیدل ورمخکښ شو نو دغه وخت د حضورﷺ نه ورستو وو او حضورﷺ یواز ے مخکښ روان وو ،خو په یو روایت کښ هم دا نشته چې کوم صحابهؓ چې څه وخت د حضورﷺ خواته وو ددی نه علاوه ټول تختیدلی وو۔

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، أَنْبَأَنَا ثَابِتٌ، عَنْ أَنَسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ فِي عُمْرَةِ الْقَضَاءِ، وَابْنُ رَوَاحَةَ يَمْشِي بَيْنَ يَدَيْهِ، وَهُوَ يَقُولُ: خَلُّوا بَنِي الْكُفَّارِ عَنْ سَبِيلِهْ ... الْيَوْمَ نَضْرِبُكُمْ عَلَى تَنْزِيلِهْ ضَرْبًا يُزِيلُ الْهَامَ عَنْ مَقِيلِهْ ... وَيُذْهِلُ الْخَلِيلَ عَنْ خَلِيلِهْ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: يَا ابْنَ رَوَاحَةَ، بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي حَرَمِ اللَّهِ تَقُولُ الشِّعْرَ، فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((خَلِّ عَنْهُ يَا عُمَرُ، فَلَهِيَ أَسْرَعُ فِيهِمْ مِنْ نَضْحِ النَّبْلِ))

حضرت انسؓ فرمائی حضرت انسؓ فرمائی چی کله حضور ﷺ د عمرة القضآء د پاره مکے مکرمے ته تشریف یوړو نو عبد الله ابن رواحهؓ په غاړه باندی توره وه او د حضور ﷺ د اوښی مهار ئی نیولے وو او مخکښ مخکښ روان وو او دا شعرونه ئی لوستل: خَلُّوا بَنِي الْكُفَّارِ عَنْ سَبِيلِهْ ... الْيَوْمَ نَضْرِبُكُمْ عَلَى تَنْزِيلِهْ ضَرْبًا يُزِيلُ الْهَامَ عَنْ مَقِيلِهْ ... وَيُذْهِلُ الْخَلِيلَ عَنْ خَلِيلِهْ:

اے د کافرانو بچو لاره خالی کوئ نن به د حضور ﷺ په منع کولو باندی لکه چی تاسو تیر کال منع کړے وو مونږ ستاسو سره داسی کار وکړو چی کهپړئ به د تن جدا کړو او دوست به ددوست نه بے پرواه کړو،حضرت عمرؓ دوی منع کړل چی په کښ او د حضور ﷺ مخی ته شعرونه وائی حضور ﷺ وفرمائیل عمره دے پریده دا شعرونه په اثر کښپه دوی بنادی د غشو ورولو نه ډیر سخت دی۔

فائده: په ٦ هجری کښ حضور ﷺ د عمرے اراده فرمائیلی وه لیکن د مکے کافرانو حضور ﷺ د حدیبیۓ په مقام کښ هسار کړی وو،په دغه وخت کښ کوم شرطونه چی د فریقینو په مینځ کښ مقرر شوی وو په هغے کښ دا هم وو چی په راروان کال باندی به عمره پوره کوی ،ددی معاهدی په وجه په ٧ هجری ذی القعده کښ حضور ﷺ د عمرے اراده وفرمائیله۔

دا عمره د احنافو په نزد باندی د تیرے عمرے قضاء ده او ددی نم عمرة القضاء هم د احنافو تائید کوی، دبعضو شوافع په دی کښ اختلاف دے ددی بحث په شرحو کښ موجود دے۔

په دی سفر کښ حضور ﷺ د میمونهؓ سره نکاح کړی ده او په خه باعزته طریقے سره ئی عمره ادا کړه او د قرار داد موافق دری ورځے ئی مکے کښ تیرے کړی او بیا ئی مدینے منورے ته واپسی وکړه،حضرت عمرؓ د حضور ﷺ د ادب او د حرم د احترام په وجه حضرت ابن رواحی منع کړو،لیکن حضور ﷺ د مقامی او وقتی ضرورت په بنیاد باندی دا پریخودل چی شعرونه هم لسانی جهاد دے،په یو حدیث کښ راغلی دی چی کعبؓ حضور ﷺ ته ووئیل چی الله تعالیٰ خو په قرآن کښ د شعر مذمت بیان کړے دے ،نو حضور ﷺ وفرمائیل مؤمن په توره باندی هم جهاد کوی او ژبه هم او دا شعرونه هم داسی دی لکه چی غشی ورئ،ددی حدیثونو نه معلومه شوه چی شعرونه هم د جهاد په حکم کښ دی مگر کوم شرائط او قاعدے چی په جهاد کښ ضروری دی دلته هم ضروری دی۔

*حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَنْبَأَنَا شَرِيكٌ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: ((جَالَسْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْثَرَ مِنْ مِائَةِ مَرَّةٍ وَكَانَ أَصْحَابُهُ يَتَنَاشَدُونَ الشِّعْرَ وَيَتَذَاكَرُونَ أَشْيَاءَ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ وَهُوَ سَاكِتٌ وَرُبَّمَا تَبَسَّمَ مَعَهُمْ))

جابر ابن سمرةؓ فرمائی چی زه د حضورﷺ په خدمت کښ د سلو نه زیات مجلسونو کښ ناست شوے یم چی په هغې کښ به صحابهؓ شعرونه وئیل او د جاهیلیت د زمانې قصې به ئې کولے او حضورﷺ به دوی منع کول نه او په خاموشۍ سره به ئې اوریدل بلکه کله کله به ئې ددوی سره په خندا کښ شرکت هم کوو۔

فائده: یعنی که په دغې تذکرو کښ به د خندا څه خبره وه نو حضورﷺ به هم تبسم فرمایه،ددی نه دا معلومه شوه چی د حضورﷺ خاموشی به د ناراضګۍ د وجې نه نه وه بلکه په توجه سره د اوریدو دپاره وه، دی وجې نه حضورﷺ به هم د خندا په خبره باندی مسکے کیدو۔

حضرت زید بن ثابتؓ د وحی کاتب فرمائی چی زه به د حضورﷺ په ګاونډ کښ اُسیدم چی کله به وحی نازلیده نو زه به ئې راغوښتم او هغه به مې لیکو ،کله چی به مونږه د دنیا ذکر کوو نو حضورﷺ به هم د دنیا ذکر کوو او چی مونږ به د آخرت ذکر کوو نو حضورﷺ به هم د آخرت ذکر کوو،چی د خوراک خبره به مو کوله نو حضورﷺ به د خوراک د نوعې خبرے فرمائیلی ،مطلب دا چی د حضورﷺ په مجلس کښ به د کومو خبرو ذکر راغې نو حضورﷺ به هم د صحابهؓ د زړه خوشحالولو د پاره دهغې ذکر فرمایه ،دا به نه وه چی ہمیشه به د حضورﷺ په مجلس کښ صرف د دین خبری شروع وی او بله خبره به نه وه، ځکه چی د مختلفو نوعو خبرو سره به د حضورﷺ سره محبت او موانست سیوا کیدو، او کله چی ہر وخت صرف یوه خبره وی نو اکثر دا د خلقو د توحش او ډډے ته کیدو سبب جوړیری خصوصًا د نااشنا خلقو د پاره ځکه اکثر هغوی د دنیاوی ضرورت دپاره راغلی وی او دغه تذکرے ددوی د تعلق سبب جوړ شی۔

> حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَنْبَأَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " أَشْعَرُ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَتْ بِهَا الْعَرَبُ كَلِمَةُ لَبِيدٍ:أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللَّهَ بَاطِلٌ"

ابوهریرةؓ د حضورﷺ ارشاد نقل کوی چی د عربو په شاعرانو کښ بهترینه کلمه هغه ده کومه چی لبید وئیلے دی: أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللَّهَ بَاطِلٌ"

فائده: د ابوهریرةؓ دا حدیث د باب په ۲ نمبر باندی تیر شوے دے،

> حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الطَّائِفِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْشَدْتُهُ مِائَةَ قَافِيَةٍ مِنْ قَوْلِ أُمَيَّةَ بْنِ أَبِي الصَّلْتِ الثَّقَفِيِّ، كُلَّمَا أَنْشَدْتُهُ بَيْتًا قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((هِيهْ)) حَتَّى أَنْشَدْتُهُ مِائَةً - يَعْنِي بَيْتًا - فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((إِنْ كَادَ لَيُسْلِمُ))

حضرت شریدؓ فرمائی چی زه یو ځل د حضورﷺ په سورلۍ باندی ناست ووم دغه وخت ما حضورﷺ ته د امیه سل شعرونه واورول او په ہر شعر باندی به حضورﷺ فرمائیل چی نور وایه په اخیر کښ حضورﷺ وفرمائیل دده اسلام راوړل ډیر نزدے وو۔

فائده: ددی وجه مخکښ تیره شوی ده چی دده په شعرونو کښ به د توحید او د قیامت وغیره حق امورو اعتراف وو او نصیحتونه به پکښ ډیر وو دا وجه د حضورﷺ د اوریدلو وو او دا وجه د ده د اسلام د قربت وه ،بعضے علامنو لیکلی دی چی د حضورﷺ دا رشاد ددی شعر په باره کښ وو ۔

لک الحمد والنعماء والفضل ربنا　　　فلاشئ اعلیٰ منک حمدًا و لا مجدًا

اے زمونږه ربه ستا دپاره ټول تعریفونه دی او صرف ستا په ملک کښ دی ټول نعمتونه او صرف ستا دپاره ټول فضیلتونه دی ،نه ستا نه ډیر څوک د تعریف قابل دے او ستا نه ډیر څوک د لوئۍ قابل دے۔

حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُوسَى الْفَزَارِيُّ، وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، وَالْمَعْنَى وَاحِدٌ، قَالَا: أَنْبَأَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ لِحَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ مِنْبَرًا فِي الْمَسْجِدِ يَقُومُ عَلَيْهِ قَائِمًا يُفَاخِرُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَوْ قَالَ: يُنَافِحُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَيَقُولُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((إِنَّ اللَّهَ يُؤَيِّدُ حَسَّانَ بِرُوحِ الْقُدُسِ مَا يُنَافِحُ أَوْ يُفَاخِرُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ))
حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُوسَى، وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ

حضرت عائشهؓ فرمائی چی حضورﷺ به په جومات کښ د حسان ابن ثابتؓ دپاره ممبر کیخودو چی په دی باندی ودریږی او د حضورﷺ د طرف نه مفاخره وفرمائی یعنی د حضورﷺ په تعریف کښ د فخر شعرونه ووائی ،یا دحضورﷺ د طرف نه جواب ورکړی یعنی د کافرانو د الزاماتو جواب ورکړی دا د راوی شک دے ،او حضورﷺ به فرمائیل چی الله تعالیٰ د جبریلؑ په سبب د حسانؓ امداد کوی تر څو چی دے ددین امداد کوی۔

فائده: جهاد په هر وخت او هره زمانه کښ په مختلفو طریقو باندی وی ،د حضورﷺ په زمانه کښ یو جهاد بالسیف وو چی په توره باندی د یو بل فیصله وکړے شی ،دویم جهاد لسانی وو چی د وخت مناسب شعرونه او قصیدے ووئیلے شی، په دغې شعرونو باندی به مقابلے کیدے او د یو بل د فخر واقعات به ئی بیانول ،لکه نن سبا چی د مناظرو طرز دے ،

یو ځل د بنو تمیم یو وفد راغے چی د دوی سره ددوی شاعر هم اقرع هم وو دوی حضورﷺ ته د د فخریه شعرونو او بیانونو د مناظرے دعوت ورکړو ،حضورﷺ وفرمائیل زه خو نه د شعرونو د پاره رالیږلے شوے یم او نه دفخر د پاره خو زه دا مناظره هم وکړه۔

ددوی د مناظر پاسیدو نو حضورﷺ ثابت ابن قیسؓ ته حکم وکړو چی په مقبله کښ تقریر وکړه ،ددی نه وروستو ددوی شاعر ودریدو نو حضورﷺ په جواب کښ حضرت حسان بن ثابتته حکم وکړو په دواړو مناظرو کښ مسلمانان غالب شول او د ټولو نه اول ددوی شاعر مسلمان شو ،

غرض دا چی دغه وخت د شعرونو د مقابلو عام رواج وو او دا شعرونه به ډیر نقل کیدل،او دی شعرونو به په دوی باندی اثر هم کوو،لکه چی ددی باب په پنځم حدیث کښ تیر شوی دی

په مسلم شریف کښ د عائشهؓ نه دا ارشاد وارد دے چی هجو په قریشو باندی د غشو ورولو نه ډیر فائده مند دی ،په مشکوٰة شریف کښ پوره دا نقل کړی دی حضرت کعبؓ د حضورﷺ نه د شعرونو په باره کښ

تپوس وکړو نو حضورﷺ وفرمائیل چې مؤمن په توره باندی هم جهاد کوی او په ژبه باندی هم ،ددی قصے په یو روایت کښ دی چې په خدائۓ قسم دا شعرونو په وی باندی داسی لګی لکه غشی۔

باب ما جاء فی کلام رسول اللهﷺ فی السمر

د حضورﷺ د شپے په قصه ګوئۓ کښ خبری

فائده:یعنی حضورﷺ چې کومے قصے په دی کښ نقل فرمائیلی دی ،مصنفؒ دلته دوه حدیثونه نقل کړی دی ۔

حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ صَبَّاحٍ الْبَزَّارُ، حَدَّثَنَا أَبُو النَّضْرِ، حَدَّثَنَا أَبُو عَقِيلٍ الثَّقَفِيُّ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَقِيلٍ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: حَدَّثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ نِسَاءَهُ حَدِيثًا، فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ: كَأَنَّ الْحَدِيثَ حَدِيثُ خُرَافَةَ فَقَالَ: " أَتَدْرُونَ مَا خُرَافَةُ؟ إِنَّ خُرَافَةَ كَانَ رَجُلًا مِنْ عُذْرَةَ، أَسَرَتْهُ الْجِنُّ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَمَكَثَ فِيهِمْ دَهْرًا، ثُمَّ رَدُّوهُ إِلَى الْإِنْسِ فَكَانَ يُحَدِّثُ النَّاسَ بِمَا رَأَى فِيهِمْ مِنَ الْأَعَاجِيبِ، فَقَالَ النَّاسُ: حَدِيثُ خُرَافَةَ"

حضرت عائشةؓ فرمائی چې یو ځل حضورﷺ خپل کور والو ته یوه قصه بیان کړه یو ښځې ووئیل چې دا قصه په حیرانتیا کښ د خرافه د قصو په شان ده په عربو کښ د خرافه قصے ضرب المثل وے حضورﷺ وفرمائیل چې خرافه پیژنی چې څوک وو او اصل قصه ئی څه ده؟ خرافه د بنو عذره یو سرے وو پیریانو نیولے وو او قید کړے ئی وو یو زمانه دے پیریانو د ځان سره وساتلو بیا ئی په خلقو کښ پریخودو (ده به دا قید د زمانۓ عجیبه قصے خلقو ته بیانولے او هغوی بی حیرانیدل ددی نه وروستو خلق هری نااشنا قصے ته خرافه وائی ۔

فائده: ممکنه ده چې ددی سړی نوم بل وی او دده قصے به دی خلقو دروغ او منګړتی ګڼړلی ددی وجے قرته خرافه وائی ، د جاهلیت په زمانه کښ د پیریانو ډیره غلبه او زور وو دوه خلق ډیر زیات تنګول،خلق به ئی نیول او بوستل،خبرے به ئی ورسره کولے او د ځځو سره به ئی زنا کوله چې دد ے قصے مشهورے دے۔

د اسلام راتلو سره ددوی زور کم شو تردی چې بعضے خلق وائی چې د پیریانو وجود مخکښ وو وس نیشته،لیکن دا صحیح نده البته هغه زور ئی وس نیشته کوم چې پخوا وو ،لکه چې حضورﷺ دنیا ته د راتلو په وخت د پیریانو حیرانی او پریشانی او خفګان په چې دلالت کوی ،

په بخاری شریف کښ حضرت عمرؓ د یو نجومی د پیریۓ محبوبے د درد نه ډګ شعرانه نقل کړی دی ،او پیریانو د غم او حسرت حال ئی بیان کړے دے ،امام سیوطیؒ په خصائل کبریٰ کښ ډیر واقعات ذکر کړی دی ۔

حدیث ام زرع

د ام زرع حدیث دا د ذکر شوی باب دویم حدیث دے خو ددی قصے ډیره اوږده ده او مشهوره ده لکه چې په دی باندی مختلف کتابونه هم لیلے شوی دی ددی وجے امام ترمذی لګ جدا والے ددی وکړو، ددی

حدیث مختلف نومونه دی مگر مشهور نوم ئی دادے ،چونکه قصه اوږده ده ددی وجے نه د هرے ښځے قصه او د هغے فائده جدا جدا ذکر کولے شی ۔

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ السَّعْدِيُّ وَأَحْمَدُ بْنُ جَنَابٍ كِلَاهُمَا عَنْ عِيسَى وَاللَّفْظُ لِابْنِ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَخِيهِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: جَلَسَ إِحْدَى عَشْرَةَ امْرَأَةً فَتَعَاهَدْنَ وَتَعَاقَدْنَ أَنْ لَا يَكْتُمْنَ مِنْ أَخْبَارِ أَزْوَاجِهِنَّ شَيْئًا: فَقَالَتِ الْأُولَى: زَوْجِي لَحْمُ جَمَلٍ غَثٍّ عَلَى رَأْسِ جَبَلٍ وَعْرٍ، لَا سَهْلٌ فَيُرْتَقَى، وَلَا سَمِينٌ فَيُنْتَقَلُ. قَالَتِ الثَّانِيَةُ: زَوْجِي لَا أَبُثُّ خَبَرَهُ، إِنِّي أَخَافُ أَنْ لَا أَذَرَهُ، إِنْ أَذْكُرْهُ أَذْكُرْ عُجَرَهُ وَبُجَرَهُ. قَالَتِ الثَّالِثَةُ: زَوْجِي الْعَشَنَّقُ، إِنْ أَنْطِقْ أُطَلَّقْ، وَإِنْ أَسْكُتْ أُعَلَّقْ. قَالَتِ الرَّابِعَةُ: زَوْجِي كَلَيْلِ تِهَامَةَ، لَا حَرٌّ وَلَا قُرٌّ، وَلَا مَخَافَةَ وَلَا سَآمَةَ. قَالَتِ الْخَامِسَةُ: زَوْجِي إِنْ دَخَلَ فَهِدَ، وَإِنْ خَرَجَ أَسِدَ، وَلَا يَسْأَلُ عَمَّا عَهِدَ. قَالَتِ السَّادِسَةُ: زَوْجِي إِنْ أَكَلَ لَفَّ، وَإِنْ شَرِبَ اشْتَفَّ، وَإِنِ اضْطَجَعَ الْتَفَّ، وَلَا يُولِجُ الْكَفَّ لِيَعْلَمَ الْبَثَّ. قَالَتِ السَّابِعَةُ: زَوْجِي عَيَايَاءُ أَوْ غَيَايَاءُ طَبَاقَاءُ كُلُّ دَاءٍ لَهُ دَاءٌ، شَجَّكِ أَوْ فَلَّكِ أَوْ جَمَعَ كُلًّا لَكِ. قَالَتِ الثَّامِنَةُ: زَوْجِي الْمَسُّ مَسُّ أَرْنَبٍ وَالرِّيحُ رِيحُ زَرْنَبٍ. قَالَتِ التَّاسِعَةُ: زَوْجِي رَفِيعُ الْعِمَادِ طَوِيلُ النِّجَادِ عَظِيمُ الرَّمَادِ قَرِيبُ الْبَيْتِ مِنَ النَّادِ. قَالَتِ الْعَاشِرَةُ: زَوْجِي مَالِكٌ وَمَا مَالِكٌ مَالِكٌ خَيْرٌ مِنْ ذَلِكِ، لَهُ إِبِلٌ كَثِيرَاتُ الْمَبَارِكِ، قَلِيلَاتُ الْمَسَارِحِ، إِذَا سَمِعْنَ صَوْتَ الْمِزْهَرِ أَيْقَنَّ أَنَّهُنَّ هَوَالِكُ. قَالَتِ الْحَادِيَةَ عَشْرَةَ: زَوْجِي أَبُو زَرْعٍ وَمَا أَبُو زَرْعٍ؟ أَنَاسَ مِنْ حُلِيٍّ أُذُنَيَّ، وَمَلَأَ مِنْ شَحْمٍ عَضُدَيَّ، وَبَجَّحَنِي فَبَجِحَتْ إِلَيَّ نَفْسِي، وَجَدَنِي فِي أَهْلِ غُنَيْمَةٍ بِشِقٍّ فَجَعَلَنِي فِي أَهْلِ صَهِيلٍ وَأَطِيطٍ وَدَائِسٍ وَمُنَقٍّ، فَعِنْدَهُ أَقُولُ فَلَا أُقَبَّحُ، وَأَرْقُدُ فَأَتَصَبَّحُ وَأَشْرَبُ فَأَتَقَمَّحُ، أُمُّ أَبِي زَرْعٍ فَمَا أُمُّ أَبِي زَرْعٍ، عُكُومُهَا رَدَاحٌ، وَبَيْتُهَا فَسَاحٌ، ابْنُ أَبِي زَرْعٍ، فَمَا ابْنُ أَبِي زَرْعٍ، مَضْجَعُهُ كَمَسَلِّ شَطْبَةٍ، وَتُشْبِعُهُ ذِرَاعُ الْجَفْرَةِ، بِنْتُ أَبِي زَرْعٍ، فَمَا بِنْتُ أَبِي زَرْعٍ، طَوْعُ أَبِيهَا وَطَوْعُ أُمِّهَا، مِلْءُ كِسَائِهَا، وَغَيْظُ جَارَتِهَا، جَارِيَةُ أَبِي زَرْعٍ، فَمَا جَارِيَةُ أَبِي زَرْعٍ، لَا تَبُثُّ حَدِيثَنَا تَبْثِيثًا، وَلَا تُنَقِّثُ مِيرَتَنَا تَنْقِيثًا، وَلَا تَمْلَأُ بَيْتَنَا تَعْشِيشًا، قَالَتْ: خَرَجَ أَبُو زَرْعٍ وَالْأَوْطَابُ تُمْخَضُ، فَلَقِيَ امْرَأَةً مَعَهَا وَلَدَانِ لَهَا كَالْفَهْدَيْنِ، يَلْعَبَانِ مِنْ تَحْتِ خَصْرِهَا بِرُمَّانَتَيْنِ، فَطَلَّقَنِي وَنَكَحَهَا، فَنَكَحْتُ بَعْدَهُ رَجُلًا سَرِيًّا، رَكِبَ شَرِيًّا، وَأَخَذَ خَطِّيًّا، وَأَرَاحَ عَلَيَّ نَعَمًا ثَرِيًّا، وَأَعْطَانِي مِنْ كُلِّ رَائِحَةٍ زَوْجًا، وَقَالَ: كُلِي أُمَّ زَرْعٍ، وَمِيرِي أَهْلَكِ، فَلَوْ جَمَعْتُ كُلَّ شَيْءٍ أَعْطَانِيهِ، مَا بَلَغَ أَصْغَرَ آنِيَةِ أَبِي زَرْعٍ. قَالَتْ عَائِشَةُ: فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((كُنْتُ لَكِ كَأَبِي زَرْعٍ لِأُمِّ زَرْعٍ))

حضرت عائشهؓ فرمائی چی یوځل یؤولس ښځے یو ځائے کیناستے چی د خپلو خاوندانو پوره پوره حال به رشیا رشتیا وائیو څه به نه پټوو۔

فائده: ددی یؤولس ښځو نومونه په صحیح روایت کښ ثابت ندی اګر چه په بعضو روایاتو کښ د بعضو نومونه راغلی دی ۔دوی یا خو یمنی وی یا حجازی او په نومونو کښ ډیر اختلاف دے ددی وجے نومونه حذف کړے شو ،ددوی خاوندان په څه ضروریاتو باندی تلی وو دوی خوشے وی د زان مشغولولو دپاره ئی خبری شروع کړی او دا ئی لوظ وکړو چی د خپل خاوند به صحیح حال بیانوو۔

۱ ـ یوی خځې ووی زما خاوند د ناکاره ټپ اوښ د غوښې پشان دے (گویا د غوښې یوه ټکړه ده چې ژوند پکښ شته هم نه او غوښه هم د اوښ چې چې ډیر رغبت پکښ هم نه وی) او غوښه هم د غر په یو داسې سوکه باندې ایخودے شوے وی چې نه د غر لاره اسانه ده چې ددی وچے نه ختل ممکن وی او نه غوښه داسې ده چې ددی دپاره خامخوا دا تکلیف اوچت کړے شی او دا راکوزه کړے شی ـ

فائده: مطلب دا چې یو بے کاره سړے دے چې نه تری د چا ذات ته فائده شته او نه مال ته،او سره ددی نه دومره تکبر پکښ دے چې رسیدل ورته مشکل دی نه د یوځائے کیدو دے او نه د پریخودو د څه بیمارئ علاج ندے بیکاره دے او بد خلقه او سخت مزاجه دومره دے چې دته رسائی هم مشکله ده۔

۲ ـ دویمې ووئیل زه د خپل خاوند ووایئم نو څه ووائیم زه د هغه متعلق څه نشم وئیلے که وائم نو بیا د ذکر به نه وی او که وائیم نو ټول عیبونه به ظاهری او باطنی به وائیم۔

فائده: یعنی د هغه به کوم کوم عیب وائم ټول عیب عیب دے چې درے څلور عیبه وی نو بیان شی چې ټول عیب عیب وی نو کوم کوم به بیانوم،دومره اوږد بیان دے چې اوریدونکی به ستړی شی ،بعضے شرح کونکو لیکلی دی چې دی د لوظ خلاف وکړو خو صحیح داده چې دی ټوله خبره مختصر وکړه چې هغه د عیبونو مجسمه ده۔

۳ـ دریمې ووی زما خاوند لوے ډانگ دے یعنی ډیر دنگ دے که څه خبره کوم نو طلاق راکوی او که غلی پاتی کیږم نو بس زوړنده یم۔

فائده: دده ډیر دنگ والے ئې ځکه بیان کړو چې د مشهور قول موافق دا په کم عقل توب باندی دلالت کوی او راروانه خبره دده د بے وقوفۍ بیان دے ،دی وجے ئې ذکر کړو چې بد صورته هم دے د منارے پشان چې بغیر د مناسب جسامت نه بده ښکاری او بد اخلاقه داسې دے چه که خبره د خلے نه راوباسم نو یا دخپل ضرورت خبره کوم نو فورًا به طلاق راکړی او که زه څه ضرورت نه بیانوم نو پخپله بے پرواه دے بس داسې گیره یم نه په واده کړو کښ شمار یم چې د خاوند توب څه خبره خو هډو شته نه او نه په بے خاونده کښ شمار یم چې بل ځائے وگورم، بعضو روایاتو کښ دی چې په دی کښ یوه جمله دا هم ده چې مطلب یئ دادے چې زه هر وخت داسې یم لکه چې د تیرے تورے لاندی څوک وی او هر وخت ورسره دا فکر وی چې کله به ئې راکاږی او کار به راله تماموی۔

۴ـ څلورمې ووے زما خاوند د تهامې د شپې پشان دے نه گرم دے نه یخ بلکه درمیانه دے نه تری څه یره شته او نه خفگان،ددی خځې نوم مهدد بنت ابی هزومه خودلے شی تهامه د مکے مکرمه خواوشاه ته وئیلے شی ددی شپه همیشه معتدله وی اگر که د ورځې ډیره گرمی وی ـ

۵ـ پنځمې ووی چې زما خاوند کله کور ته راشی نو پړانگ شی او چې کله بهر ووزی نو زمرے شی او څه چه کور کیږی د هغې تحقیق نه کوی ـ

فائده: ددی خځې نوم کبشه خودلے شی په دی کښ اختلاف دے چې دی د خپل خاوند مذمت ک ړے دے کنه صفت،د خبرو نه دواړه مطلبه راویست شی خو ظاهره تعریف معلومیږی ـ

خو که مذمت شی نو نو بیا ئی مطلب دادے چی کله کور ته راشی نو د پڑانگ پشان اوده وی نو نه خبره کوی او نه په کار کښ کار ساتی او چی باهر لاڑ شی نو خه شریفانه انداز کښ برتاؤ کوه که په کور کښ مصیبت راشی نو پرواه ئی نه وی نه تپوس کوی ۔

که صفت شی نو بیا ئی مطلب دادے چی کله کور ته راشی نو ڈیر ے خبره وی په هره خبره کښ خو نه راوباسی خفه کیږی نه داسی ے خبره وی لکه اوده چی وی ،زمونږ چی څه خوښ وی پخوو او خورو په څه کښ کار نه ساتی او نه زمونږ نه ددی تحقیق کوی چی فلانے کار ولی شوے او فلانۍ خبره ولی داسی ده،کور چی د خوروک سامان وی نو دا تپوس نه کوی چی دا کوم ځائے خرچ شو او هغه کوم ځائے که کوم ځائے زمونږ خوښ وی هلته ئی خرچ کوو،او چی بهر ووزی نو د زمرو پشان خه غرڑیگی ۔

٦ ۔شپږمی ووی زما خاوند چی خوراک کوی نو ټول رانغاړی،او چی څکل کوی نو ټول ختموی چی اوده کیږی نو په یوه کپړه کښ اوده کیږی او زما طرفته لاس هم نه کوی چی زما حال ورته معلوم شی ۔

فائده:ددی خبرو نه هم مذمت او صفت دواړه معلومیږی خو مذمت ئی ڈیر ظاهر دے،لکه چی د ترجمے نه به معلوم شوی وی ،که صفت وی نو مطلب به دا وی چی کله خوراک کوی نو هر څه خوره یو خوا میوه بل خوا سبزی مختلف قسمونه وغیره،او چی د څکلو نمبر رازی نو یو خوا پۍ بل خوا شراب بل خوا شربت وغیره غرض دده په دستر خوان باندی هر څه وی یعنی خرچی کونکے دے بخیل نه دے لکه چی دال وی غوښه نه وی او اوبه وی پۍ نه وی وغیره ،د جهگړو نه لری وسیگی او بل په گریوان /پرهر کښ لاس نه ور اچوی او د غیبونو تجسس نه کوی کوتاهۍ نه تالاش کوی ،او که مذمت وی لکه چی د اکثرو دا رائے ده نو بیا مطلب دادے چی چی کله د خوراک نمبر راشی نو څه چی مخے ته وی ټول خوری اگر که کور والو ته پاتی نشی او چی څکل کوی نو ټول تیروی ،او پردو پشان په خپل څادر کښ اوده کیږی او زما سره اوده کیدل خو څه کوی زما وجود له لاس هم نه راوړی چی د زما د گرمۍ یخنۍ نه خبر شی ۔

٧ ۔اوومی ووی زما خاوند د صحبت نه عاجزه دے نامرده دے او دومره ے وقوفه دے چی خبری هم نشی کولے د دنیا یوه بیماری داسی نشته چی په هغه کښ نه وی ،اخلاق ئی دادی چی یا مِ سر ولی یا مِ نور بدن زخمی کوی او په دواړو هم ناراسته نه کوی۔

٨ ۔اتمے ووی زما خاوند په نرم والی د سوئی پشان نرم او په خوشبوئی کښ د زعفرانو پشان دے ۔

فائده: ددی نوم ناشره بنت اوس خودلے شی ،ددی صفت خلاصه دا چی هغې نرم مزاجه دے سخت او بد خویه ندے،لذت جسمانی او روحانی پکښ دواړه موجود دے، چی نازک بدن دے تاویدل تری زړه غواړی او نرم مزاج داسی چی د غصے نوم هم نه اخلی او سره دی خوش بویه هم دے،په بعضو روایاتو کښ ددی یوه جمله بله هم ده ترجمه ئی داده چی زه په ده باندی غلبه یم او هغه په خلقو باندی غالب دے ،یعنی زما د غالب کیدل په ناکاره کیدو باندی ندی ددی وجے نه چی هغه په خلقو باندی غالب دے خو یا زما د محبت او یا د هغه د شرافت دوجے دی۔

٩ ۔نهمی ووی زما خاوند اوجت شان والا ڈیر میلمه دوست اوچت کور والا او ڈیرو ایرو واله دے دنگ قد والا دے د هغه کور مجلس او دارلمشورے ته نزدے دے۔

فائده:ددی په دی خبرو کښ هم ډیرصفتونه کړی دی ،اول دا چی کور ئی اوچت دے دد ے نه که حقیقتًا د کور د عمارت دنگ والے مرادوی نو بیا تری دده مشرئ او مالداریٔ طرفته اشاره ده ځکه چی لوئے کور مالدار جوړو ے شی ،او که د کور په اوچت مقام باندی کیدم مرادوی نو بیا تری نو بیا د سخاوت او شریف کیدو نخه ده لکه چی د عربو سخیانو به په اوچت مقام باندی کور جوړوو چی مسافر ئی د لر ے نه وینی او رازی،بعضے عالمون لیکلی دی چی د د اوچت مکان نه د حسب او نسب اوچت والے مراد دے یعنی اوچت نسب واله دے۔

دویم صفت ئی دده د میلمه دوست کیدو دے ځکه چی کوم کور کښ د میلمه د پاره خوراک ډیر تیاریږی هلته ایری ډیری وی ۔

دریم دده دنگ والے ده دنگ قد چی د حد نه سِوا نه وی نو په نارینۀ کښ خه صفت دے ،د کور د دارالمشور ے ته نزدے کیدو مطلب دادے چی دے د رائے خاوند دے خلق دده نه مشو ے اغستو دپاره ډیر رازی نو گویا چی هر وخت دده کور دارالمشوره وی ،او د بنده په نزد باندی دا احتمال هم شته چی کور ئی د دارالمشور ے خواته ځکه جوړ کړ ے دے چی د جمع کیدونکو دپاره په تیاریٔ وغیره کښ وخت نه لگی او د لر ے کیدو عذر کولو ضرورت رانه شی ۔

۱۰ ۔لسمی ووی زما خاوند خو مالک دے او د مالک به څه ووائی هغه ددی ټولو نه کوم چی تر وسه تعریفونه وشول او کوم چی زه بیانوم ډیر د تعریف قابل دے ،دده اوښان ډیر دی چی د مکان خواته پنډولے کیږی او چراه گاه ته د سر د پاره لگ زی ،دغه اوښان چی کله دده د باجے اواز واوری نو پوهه شی چی زمونږ د هلاکت وخت دے۔

فائده:ددی نوم کبشه بنت ملک خودلے شی دی د خپل خاوند د سخاوت تعریف کړ ے دے ،ځکه چی اوښان سر له لاړ شی نو د میلمه د پاره بیا انتظار وی د راتلو او دده سره هر وخت میله موجود وی ددی وجے دده اوښان په اوخور باندی ساتلے شی چی د میلمه دپاره په وخت باندی ذبح کړ ے شی ،د باجے د اواز په تفسیر کښ بعضو وئیلی دی چی دده عادت دا دے چی کله میلمه راشی نو د خوشحالئ نه باجه وخی نو اوښان چی دا اواز واوری نو پوهه شی چی میلمه راغلے دے زمونږ خیر نشته،

لیکن د عربو د دستور موافق دا مطلب ډیر خه دے چه کله به څه میلمه راغے نو دوی به په شرابو کبابو باندی او گانو بجانو باندی ددوی خه استقبال کوو ددی اواز نه به اوښانو ته پته ولگیده چی وس د خوراک وخت راروان دے او مونږ به ورله حلالوی۔

۱۱ ۔یولسمی ووی زما خاوند ابو ذرع وو د هغه څه صفت وکړم د کالو نه ئی زما غوږونه ډک کړی او په خوراکونو ئی په وازگو باندی زما مټی څربی کړی ،زه ئی داسی خوشحاله ساتلی یم چی زما نه زان ورک دے زه ئی د یو داسی غریب خاندان نه راوستل چی په څو بیزو باندی ئی گزاره کوله او داسی خاندان ته ئی راوستلم چی د چا سره اسونه،او ښان د ایوی غویان او زمینداران هر څه وو،سره ددی نه دده اخلاق دا وو چی په یوه خبره به ئی زی رټلم نه، زه به تر ناوخت اوده ووم چا به پاسولم نه،دخوراک دا حال وو چی زه به مړه شوم او پاته به شو رانه،

او د ابو ذرع مور د هغې به څه وائی د هغې لوئے لوئے لوخی به ہمیشه ډک وو،او کور ئې ډیر فراخه وو یعنی مالداره هم وه،او د خځو د عادت موافق شومه هم نه وه،ځکه چی د مکان د فراخئ نه د میلمنو ډیروالے مراد اغیستے شی ۔

او د ابو ذرع ځوے د هغه به څه وائی داسی سپک نرے وجود واله چی د ده د خوب زائے د ګګی څانګی یا د ګګی تورے پشان باریک وو ،د بیزے د بچی یو ولے به دده د خیټے مړولو دپاره پوره وو، یعنی بهادر وو چی د خوب دپاره ورله غټ انتظامات نه وو پکار بس د سپاهی پشان په لګ زائے کښ به سملاست ،دغه شان د خوراک حال ئې هم مختصر مګر د بهادرئ مناسب د غوښے څو ټوکړے به ئې خوراک وو،

د ابو ذرع لور پس ددی هم کمه کمه ووائم،د مور تابعداره،د پلار فرمان برداره،تازه او څربه د بنے دپاره سوے وو(یعنی بَنْ به دده د کمالاتو په وجه باندی سوزیده) په عربو کښ د هلک دپاره ټپ وجود او د چینځ څورب وجود ممدوح شمارلے شی ۔

د ابوذرع وینځه هم د کمال وه د کور خبره به ئې چرته بهر نه کوله،د خوراک څیز به ئې هم بغیر اجازت نه خرچ کوو،په کور کښ به ئې خزله نه پریخوده مکان به ئې پاک صفا ساتلو۔

زمونږ داسی ژوند څه په مزو باندی تیریدو چی یوه ورځ ابو ذرع چی په کوم وخت باندی پئ شاربلے کیدل دے د کوره ووتو نو په لاره کښ ارته یوه ښځه میلاو شوه چی د هغې د ملا د لاندی دوؤد زمرو پشان بچو د د دوؤ انارونو سره لوبے کولے،د زمرو سره تشبیه په لوبو کښ ده او د انار نه یا مراد حقیقتًا انار مراد دے چی ارغړوو ئې او یا تری د ښځې سینے مراد دی،پس هغه ئې داسه خوښه شوه چه ماله ئې طلاق راکړو،او د هغې سره ئې نکاح وکړه،طلاق ئې ځکه راکړو چی د بنی پ وجه غم نه وی او چی د هغې په زړه کښ دده قدر پیدا شی ۔

په یو روایت کښ دا هم دی چی ددی سره ئې نکاح وکړو نو هغې به باربار زما د طلاق مطالبه کوله آخر ماله پئ طلاق راکړو، ددی نه اروستو ما د یو سردار شریف سړی سی نکاح وکړه چی هغه شاه سوار دے ده ماله ډیر نعمتونه راکړل او په ہر قسم ځناورو کښ ئې یوه یوه جوړه ماله راکړه، او ماته چی ووی چی ام ذرع پخپله هم خوره او پلار کاله ته تری هم که غواړی نو لیګه، لیکن خبره داده چی که دے ماله هر څومره راکړه وکړی نو د ابوذرع یوی وړی غوندی ورکړی ته نه رسی،

حضرت عائشۃؓ فرمائی چی حضورﷺ دا قصه واوروله او بیا ئې وفرمائیل زه ستا دپاره داسی یم لکه د ام ذرع دپاره ابو ذرع۔

فائده: ددی نه وروستو په نورو حدیثونو کښ راغلی دی چی مګر زه تاله طلاق نه درکووم ،د طبرانی په روایت کښ دی چی حضرت عائشےؓ په جواب کښ وفرمائیل زما مور پلار په تا باندی قربان ابو ذرع څه دے ماته ته د هغه نه ډیر زیات ئې ۔

اللہ تعالیٰ دی د حضورﷺ د اتباع په دی مضمون کښ هم هر مسلمان ته نصیب کړی چی دا د پاک دامنئ باعث وی ۔ آمین۔

بعضے عالمانو په دی قصه باندی اعتراض کڑے دے چی کومو ځځو د خپلو خاوندانو بدئ بیان کڑی دا خو غیبت دے چی د حضورﷺ په مجلس کښ شوے دے ،او که حضورﷺ دا قصه پخپله ارشاد فرمائیلی وی نو بیا خو اشکال خه قوی شو،مگر صحیح داده چه دا په غیبت کښ نه رازی ځکه چه د ناشنا کس په باره کښ خبره کول چی مخاطب ئی نه پیژنی غیبت ندے۔ اللهم اغفر لکاتبه ولوادیه ولن سعیٰ فیه۔

باب ما جاء فی صفة نوم رسول اللهﷺ

د حضورﷺ د اوده کیدلو ذکر

فائده:یعنی حضورﷺ به څنګه اوده کیدو د اوده کیدو په وخت به ئی څه څه فرمائیل په دی باب کښ شپږ حدیثونه دی ۔

۲۵۰

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، أَنْبَأَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، أَنْبَأَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ وَضَعَ كَفَّهُ الْيُمْنَى تَحْتَ خَدِّهِ الْأَيْمَنِ، وَقَالَ: ((رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ)) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، مِثْلَهُ وَقَالَ: «يَوْمَ تَجْمَعُ عِبَادَكَ

حضرت براءؓ فرمائی چی حضورﷺ به کله آرام فرمایو نو ښے لاس به ئی د مخ مبارک لاندی کیخودو او دا دعا به ئی وفرمائیله((رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ))اے الله ما د قیامت د ورزے د عذاب نه وساتی۔

فائده: حصن حصین کښ دی چی درے پیرے به ئی دا دعا فرمائیله ،په بل حدیث کښ د عبد الله ابنم مسعودؓ نه دا مضمون هم نقل دے چی د هغے نه معلومیږی چی د حضورﷺ دا عام معمول وو،چی دا ډیرو حضراتو اوریدلی دی ۔

د حضورﷺ د معصوم کیدو سره سره داسی قسم دعاګانی وئیل یا خو د عبدیت د اظهار دپاره دی چی د بندګئ تقاضا د مولیٰ نه غوختل دی ۔یا د امت د تعلیم دپاره دی،

ددی حدیث نه د حضورﷺ په خی طرف باندی سملاستل معلومیږی او دا د حضورﷺ همیشه معمول وو ددی وجے نه په خی طرف باندی ملاسته مستحب هم ده،او په دی کښ یو خاص مصلحت هم دے چی د انسان زړه ګس طرفته وی نو په ښے طرف ملاستی سره زړه د پاسه راشی او انسان ډیر په ژور خوب باندی نه اوده کیږی بلکه چابک اوده وی او که په ګس طرف باندی سملی نو زړه لاندی راشی نو په دی صورت کښ خوب ډیر ژور وی ،ددی وجی چی خوب ژور وی بعضے طبیبان وائی چی په ګس اړخ باندی ملاسته خه ده چی په ژوَر خوب سره هضم خه رازی ،او دا صحیح ده خو نو نقصان پکښ دا شته چی ددوی ذهن ورته ندے رسیدلے ،هغه دا چی کله زړه د لاندی راشی نو تول مواد دپاسه شی او دا مواد په زړه باندی اثر کوی او زړه خو د نورو اندامونو بادشاه دے په دی باندی لګ اثر کیدل هم د ډیرو مرضونو سبب جوړدے شی ،دی وجے نه په ګس طرف اوده کیدو کښ اګرچی طبی مصلحت شته خو طبی

ضرر پکښ هم شته او د ضرر نه ځان بچ کول ډیر اہم دی ،دی وجے طبی حیثیت سره هم په خی طرف باندی ملاسته بهتره ده،۔

ددی سره سره په خی اړخ باندی ملاسته انسان ته د قبر ملاسته رایادوی او د مرګ د یادولو حکم هم دے ،او دینی او دنیاوی ډیرے فائدے د مرګ د یاد نه حاصلیږی سړه له پکار دی چی د لذت ختمونکے څیز په کثرت سره یادوی او حق خو داده چی سړے به داسی شے څنګه هیر کړی کوم چی په هر حال باندی راتلونکے دے ۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ قَالَ: «اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا»، وَإِذَا اسْتَيْقَظَ قَالَ: «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَمَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ»

حذیفهؓ فرمائی چی حضور ﷺ به کله په بستره باندی سملاسته نو دا به ئی ائیل (اللهم باسمک اموت و احیٰ) اے الله ستا په نوم باندی مرم یعنی اوده کیږم او ستا په نوم باندی به ژوندے کیږم یعنی بیا به راپاسم۔

فائده: خوب چونکه د مرګ سره مشابه دے دی وجے نه خوب ئی د مرګ او ویخیدل ئی د ژوندی کیدو سره تشبیه ورکړه،،او ددی وجے د خوب په وخت کښ په خی طرف باندی سملاستل پکار دی ځکه چی خوب د مرګ نمونه ده او چی کله به راپاسیدو نو دا دعا به ئی فرمائیله «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَمَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ»

ټول تعریفونه د الله تعالیٰ دپاره دی چی چا د مرګ نه بعد ژوند راکړو او دغه پاک ذات طرفته په قیامت کښ واپسی ده(یا د ژوند په پریشانو کښ هغه مرجع دے)

چونکه خوب د مرګ سره مشابه وو دی وجے نه ئی راپاسیدلو ته ژوند ووی،عالمانو لیکلی دی چی دلته دا هم د سوچ خبره ده چی داسی به د مرګ نه بعد د قیامت په ورځ دوباره ژوند وی ،په حقیقت کښ دا الله تعالیٰ په دی دنیا کښ د آخرت یو مثال جوړ کړے او د غور فکر دپاره ئی هر څه دلته پیدا کړی دی ددنیا ټول ژوند د یو خوب نه زیاته نده ،لکه یو کس ډیر خوشحاله دے مالداره دے هر قسم د راحت سامان ورسره موجود دے د څه قسم تکلیف ورته نشته ،دغه کس که خوب وینی او په قید کښ ځان په کوړو وخونکے وینی او په قسما قسم تکلیفونو کښ راګیر وی او دده دا خیال نه وی چی دا خوب دے دے ددی وجے نه خفه هم دے او ژاړی هم لیکن چی کله ئی سترګی وغړیږی نو ټول راحت او آرام ورته میلاؤ شی او د خوب هغه خفګان او تکلیف ورته بلکل نه محسوسیږی ،

دغه شان د یو دینداره کس دا حال دے که دے په دنیا کښ هر څومره په تکلیفونو کښ مبتلاء وه نو دا خوب دے چی د سترګو کهولاویدو سره به ده ته هر قسم راحتونه حاضر وی نو ددی تکلیف به بیا څه اثر وی ۔

ددی په مقابله کښ د هغې کس حال چی په خوب کښ ډیر په مزو کښ او ځان د اووه بر اعظمو بادشاه وینی خو چی راویخ شی نو په جیل خانه کښ پروت وی او کروڑی ورته تیاری وی نو د خوب ددی

مزو به دے څه فائده واخلی ،دا راز صحابهؓ پیژندلے وو دی وجے نه هغوی به د دنیا هر تکلیف ډیر په لذت سره برداشت کوو او دا به ئی کنړل چی دا خوب دے ،الله تعالی که په خپل رحم سره مونږ له هم دا دولت رانصیب کړی نو د هغه د رحم نه څه ناشنا نه ده۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا الْمُفَضَّلُ بْنُ فَضَالَةَ، عَنْ عُقَيْلٍ، أُرَاهُ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ كُلَّ لَيْلَةٍ جَمَعَ كَفَّيْهِ فَنَفَثَ فِيهِمَا، وَقَرَأَ فِيهِمَا قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ثُمَّ مَسَحَ بِهِمَا مَا اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِهِ، يَبْدَأُ بِهِمَا رَأْسَهُ وَوَجْهَهُ وَمَا أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِهِ يَصْنَعُ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ»

حضرت عائشهؓ فرمائی چی حضورﷺ به هره شپه چی کله چی په بستره باندی سملاستو نو دواړه لاسونه به ئی داسی یو ځائے کړل لکه دعا چی غواړی او په هغے بنادی به ئی دم وکړو او سورة اخلاص او معوذتین په ئی وفرمائیل او په ټول بدن باندی د سر نه تر خپو ترکومے چی به لاس رسیدو لاس به ئی ووخو او دا به ئی دری پیرے کول،د سر نه به ئی شروع کوله اول سر بیا مخ بیا د وجود مخکښ حصه بیا نور وجود۔

فائده:د حضورﷺ نه د اوده کیدو په وخت کښ مختلفۍ دعاګانی منقول دی او د قرآن پاک مختلف سورتونه وئیل هم ثابت دی ،یو حدیث کښ دا هم دی چی څوک د قرآن پاک سورة د اوده کیدو په وخت باندی ووائی نو الله تعالیٰ د حفاظت د پاره په ده باندی فرشته مقرره کړی چی هغه د ویخیدو پوری دده حفاظت کوی ،پخپله د حضورﷺ نه درے سورتونه فرمائیل په بره حدیث کښ ثابت دی ،ددی نه علاوه مسبحات یعنی د کومو سورتونو په اول کښ چی سبح،یسبح،سبحان،سبحْ سره شروع شوی ده ،دغه شان الم سجده او تبارک الذی ہمیشه وئیل راغلی دی دغه شان ایة الکرسی او د سورة البقرے اخیری آیتونه وئیل هم راغلی دی ،

یو صحابیؓ فرمائی چی ماته حضورﷺ وفرمائیل چی د اوده کیدو په وخت باندی ہمیشه سورة الکافرون وایه ددی نه علاوه نوری هم ډیروے دعاګانی د حضورﷺ نه ثابتی دی ۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَامَ حَتَّى نَفَخَ، وَكَانَ إِذَا نَامَ نَفَخَ فَأَتَاهُ بِلَالٌ فَآذَنَهُ بِالصَّلَاةِ، فَقَامَ وَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ» وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ"

حضرت ابن عباسؓ فرمائی چی حضورﷺ یو ځل اوده شو او خرړاړے ئی شروع کړو د حضورﷺ دا عادت وو چی اوده به شو نو خرړاړے به ئی کوو ،بیا حضرت بلالؓ راغے او د مانځه د تیارئ اطلاع ئی ورکړه حضورﷺ مانځه ته ودریدو او اودس ئی ونه فرمایه ،په دی حدیث کښ یوه قصه ده۔

فائده:د انبیاءﷺ دا خصوصیت دے چی ددوی په خوب سره اودس نه ماتیږی دی وجے نه حضورﷺ اودس ونه فرمایه،او ددی وجے حضورﷺ داوفرمائیله چی په خوب کښ د انبیاءﷺ سترګی اوده وی خو زړه ئی ویخ وی ددی وجے نه د انبیاءﷺ خوب هم وحی وی چی د شیطان د اثر نه محفوظ وی ۔

هغه قصه چې امام ترمذی ورته اشاره کړيده ،د ابن عباسؓ د خپلې ترور په کور کښې د اوده کيدو قصه ده چې د راتلونکی باب په پنځم حديث کښې رازی ،او ددی باب سره ئې څه خاص تعلق نه وو دی وجې نه ئې پريخوده۔

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَفَّانُ قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ قَالَ: «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَآوَانَا، فَكَمْ مِمَّنْ لَا كَافِيَ لَهُ وَلَا مُؤْوِي»

حضرت انسؓ فرمائی چې حضور ﷺ به کله خپلې بسرې ته تشريف وړو نو دا دعا به ئې فرمائيله «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَآوَانَا، فَكَمْ مِمَّنْ لَا كَافِيَ لَهُ وَلَا مُؤْوِي» تمام تعريفونه د هغې ذات دپاره دی چا چې ماړه کړو او زمونږ د ضرورتونو ئې بندوبست وکړو او د خوب دپاره ئې ځائې راکړو ډير خلق داسی دی چې نه ئې څوک کفايت کونکې شته او نه ئې څوک ځائې ورکونکې شته۔

فائده: چونکه د الله تعالیٰ دا عادت دے چه څوک خپل کارونه الله ته وسپاری نو الله تعالی هم دده کارونه د غيبو نه پوره کوی (ومن يتوکل علی الله فهو حسبه) ترجمه ئې چا داسی کړيده۔

خدا خود مير سامان است اربابِ توکل را

او د حضور ﷺ خو دا مضمون په طريقه اولیٰ سره وو دی وجې نه هلته کفايت هم په کامله طريقه وو ،او ددی نه بعد چې څوک څومره بهروسه په الله تعالیٰ باندی ساتی دغه هومره د الله تعالیٰ د طرفنه دده امداد کيږی ،په مختلف عنواناتو سره دا مضمون په مختلفو رواياتو کښې اغلے دے چې کوم کس باندی لوګه راشی او دے د خلقو نه ددی د ختمولو دپاره سوال وکړی نو دا به ختمه نشی او که د الله په دربار ددی د لری کولو درخواست وکړی نو ډير زر به ئې الله تعالیٰ په څه نه څه طريقه دده حاجت پوره کړی ۔

په يو حديث کښې د الله تعالی ارشاد دے "اے د آدم زويه که ته زما د عبادت دپاره فارغ شی نو زه به زتا ضرورتونه پوره کړم او ستا زړه به د غنیٰ نه ډک کړم ،کنه زړه به دی د فکرونو نه ډک کړم او ضرورتونه به دی نه پوره کيږی ۔

کوم خلق چې د دين د کار دپاره د د فرغت انتظار کوی نو هغوی دی ددی نه سبق حاصل کړی چې د فراغت لاره خاص د الله طرفته متوجه کيدل دی او د الله تعالی په کارونو کښې مشغول کيدل دی ،بره ذکر شوی دعا کښې حضور ﷺ د الله تعالی شکر طرفته متوجه کړی دی چې د هر کس دپاره په خپل حال باندی شکر ويستل ضروری دی چې دا د انعام د سِوا کيدو سبب دے(لان شکرتم لازيدنکم)که تاسو شکر کوئ نو زه به احساناتو کښې زياتے کوم ،او دی طرفته ئې متوجه کړل چې هميشه د ځان نه کمتر خلقو ته کتل پکار دی چې د زړه نه شکر ادا کړے شی ځکه چې څومره خلق داسی دی چې هغوی ته ډوډئ نه ميلاويږی ،څومره خلق داسی دی چې د هغوی کور نشته ـبے کوره ژوند تيروی ،دغه شان د الله تعالی پشان څوک هم مددګار نشته چې په مصيبتونو کښې دچا امداد وکړی نو د الله تعالی څومره احسانات دی چې الله تعالی دا هر څه نصيب کړی دی۔

حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجُرَيْرِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْمُزَنِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَبَاحٍ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا عَرَّسَ بِلَيْلٍ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ، وَإِذَا عَرَّسَ قُبَيْلَ الصُّبْحِ نَصَبَ ذِرَاعَهُ، وَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلَى كَفِّهِ»

ابو قتادةؓ فرمائی چی حضور ﷺ به کله د د شپی په سفر کښ په لاره باندی دمه کوله نو په خی طرف باندی به ئی آرام کوو او چی سحر ته نزدی به ئی دمه کوله نو ښے لاس به ئی ودروو او سر به ئی په لاس باندی کیخودو او آرام به ئی کولو۔

فائده: مقصود دادے چی که وخت به ډیر وو نو په ملاسته به ئی آرام کوو او په خی طرف به سملاستو او که وخت به کم وو نو بیا به ئی ډډه لګولو سره لګ آرام کوو چی ژور خوب رانشی او مونځ پاتی نشی نو په څنګل باندی به ئی تکیه ولګوله او سر مبارک به ئی په لاس کښ کیخودو۔

باب ما جاء فی عبادة رسول الله ﷺ

د حضور ﷺ د عبادت بیان

فائده: د حضور ﷺ خو هر حرکت او سکون عبادت دے هره خبره او خاموشی ئی ذکر او فکر دے لیکن د مثال په طور باندی د شمائیلو د جزء کیدو په وجه مصنف د خو عبادتونو ذکر وفرمایه ،چی ددی نه دا اندازه کیږی چی حضور ﷺ سره د معصوم کیدو او سره د اعلیٰ مرتبو د حاصلیدو باوجود او سره ددی چه حضور ﷺ په کومو مرتبع باندی فائزوو دی ته نه یو نبی رسیدے شی او نه یو ولی او نه پیغمبر علاوه ددوی نه څومره قدرے په نفلی عبادت کښ فرمایه ،او مونږه چی ځان ته امتیان وائو او د حضور ﷺ د اتباع وعویٰ کوو مونږه څمره اهتمام کوو سره ددی چی ګناہګار یو ،او د ګناهونو د تللو هم مونږ د حضور ﷺ نه ډیر محتاج یو ،بیا زمونږعبادت لا پوره اجر خو څه که څه قدرے اجر هم میلاؤ شی نو غنیمت دے ،ځکه چی د الله تعالی سره د هر عمل وزن د اخلاص په مناسبت سره دے تر سومره چی اخلاص وی دومره به وزن وی ،لکه چی د حضور ﷺ ارشاد دے چی یو کس د مانځه نه فارغ شی نو دده د پاره د مانځه لسمه حصه لیکلے شی د چا د پاره نهمه د چا د پاره اتمه د چا اوومه داسی د چا د پاره نیمه حصه لیکلے شی ،او لسمه هم د مثال په طور باندی ذکر شو کنه د چا د پاره خو ددی نه هم کمه لیکلے شی

-

بل حدیث کښ راغلی دی چی په قیامت کښ به اول د مانځه حساب کیږی الله تعالیٰ به فرشتو ته وفرمائی زما د بندګانو مونځ وګورئ پوره دے که ناقص که پوره وی نو په عمل نامه کښ به پوره ولیکلے شی او که ناقص وی نو حکم به وشی چی زما د بنده سره نفلونه شته که نه؟ که وی نو په هغے سره به کمے پوره کړے شی ،او ددی نه بعد به بیا د نورو عباداتو حساب وی ۔ (ابوداؤد)

زمونږ فرائض چی څنګه وی هغه مونږ ته معلوم دی ددی وجے آیا دا ضروری نده چی د هر قسم فرائضو د قبیلی نه نفلی عبادت هم وکړے شی ځکه چی په عدالت کښ د پیشئ وخت ډیر سخت دے ،او زمونږ په اعمالو باندی هر وخت دوه نګرانون مقرر دی ،او په دی باندی بس ندی بلکه د سړی هر اندام

به د نیکۍ او بدۍ گواهي کوی ، دی وجے حضورﷺ فرمائي چي په خپلو گوتو باندی تسبیحات شمارۍ چي ددی نه به قیامت په ورځ تپوس کیږی او دی به خپل عمل بیانوی او دوی له به د وئیلو طاقت ورکړے شی ،په حضورﷺ باندی زما مور پلار قربان چي ددویﷺ هره نمونه زمونږ مخکښ ده۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَبِشْرُ بْنُ مُعَاذٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ: صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى انْتَفَخَتْ قَدَمَاهُ فَقِيلَ لَهُ: أَتَتَكَلَّفُ هَذَا وَقَدْ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ؟ قَالَ: «أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا»

مغیره ابن شعبه فرمائي چي حضورﷺ به دومره قدرے نفلونه کول چي ددوی خپي مبارکي بي به وپړسیدے صحابهؓ عرض وکړو اے د الله رسولهﷺ تاسو دومره سترے برداشت کوئ ددی څه ضرورت دے؟حالانکه ستاس اولنی او روستني گناه معاف دی حضورﷺ وفرمائیل چي د الله تعالیٰ په ما باندی دومره احسانات دی نو زه د الله شکر ادا نه کړم؟

فائده: د سوال کونکي عرض داوو چي ډیر عبادت د گناه د معافۍ د پاره وی نو چي کله تاسو معصوم ئۍ گناه ستاسو نه صادر کیږی هم نه نو بیا تاسو ته ددی مشقت اوچتولو څه ضرورت دے،نو حضورﷺ جواب ورکړو چي د عبادت صرف دا یو عرض نه وی بلکه مختلف وجوہو دپاره کولے شی ،نو چي کله الله زما ټول گناهونه معاف کړل نو مالره پکار دی چي زه د الله ډیر شکر ویستو دپاره ډیر عبادت وکړم، حضرت علیؓ فرمائي چي بعضو عبادت د جنت دپاره کولے شی دا د تاجرانو عبادت دے،یعنی مقصود سودا ده خو دلته قیمت اداکولے شی او هلته به مال میلاؤ شی ، کله عبادت د یرے د وجے کولے شی دا د غلامانو عبادت دے چي د لختي د یرے عبادت کوی ،او یو عبادت بغیر د رغبت او بغیر د یرے دا د ازادو عبادت دے کوم چي بره حدیث کښ ذکر شو۔

بله په حدیث کښ داخبره بیان شوه چي ستاسو مخکښ او وروستو گناه الله معاف کړی دی دی نه معلومیږی چي گناه شوی دے خو الله معاف کړی دی حلانکه انبیاء خو معصوم وی ددوی نه گناه نه څرگندیږی ؟

ددی مختلف جوابونه عالمانو کړی دی خاص طور د سورة فتح په تفسیر کښ خو ډیر مناسب زما په نزد باندی دادے چي حسنات الابرار سیئات المقربین (د نیکانو نیکۍ د مقرب خلقو بدی شماریگی) د هر کس گناه د هغه د مرتبے مناسب شماریږی د حضورﷺ د مرتبے مناسب چي کومے کوتاهۍ شمار شوی دی هغه زمونږ د پاره عین نیکي ده لکه: حضورﷺ د کافرانو سره د ایمان راوړو په امید باندی خبره کوله چي دا بلکل دین دے دغه وخت یو ړوند صحابی ةعبد الله ابن ام مکتومؓ)راغے او څه خبره ئې وکړه نو دا خبره په حضورﷺ باندی لکه بده ولگیده چي د دغه خلقو د مجلس په مینځ کښ وه نو حضورﷺ ته په سورة عبس کښ زورنه وکړے شوه ،

دغه شان په جنگ بدر کښ د قیدیانو په باره کښ حضورﷺ د ډیر رحمت او شفقت په وجه چي دوی به مسلمانان شي یا به ددوی په اولاد کښ ایمان والا پیدا شي فدیه واغسته او دوی ئې پریخودل نو په

قرآن کښ په دی باندی هم زورنه راغله ، غرض دا داسی واقعات دی چی د حضور ﷺ د شان عالی د وجے نه کمۍ شمار شوی۔

> حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ قَالَ: حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي حَتَّى تَرِمَ قَدَمَاهُ قَالَ: فَقِيلَ لَهُ: أَتَفْعَلُ هَذَا وَقَدْ جَاءَكَ أَنَّ اللَّهَ قَدْ غَفَرَ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ؟ قَالَ: «أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا»

حضرت ابو هریرهؓ فرمائی چی حضور ﷺ به دومره نفلونه کول چه خپی مبارکی به ئی وپړسیدے چا عرض وکړه چی تاسو ته خو د اولنی او روستنی گناهونو د بخنے زیرے شوے دے بیا تاسو دومره سترړی ولی برداشت کوئ؟ حضور ﷺ جواب ورکړه آیا زه شکر گزار بنده جوړ نه شم؟

فائده: د حضرت عائشهؓ نه هم ددی شکرپے په باره کښ یو تفصیلی روایت نقل دے :حضرت عطاءؒ فرمائی ما یو ځل عائشهؓ ته عرض وکړه چی د حضور ﷺ یو ناشنا خبره راته وکړئ دوئؒ وفرمائیل د حضور ﷺ کومه خبره عجیبه نه وه / بیا ئی وفرمائیل یوه شپه د خوب دپاره مکان ته راغے او زما په بستره کښ سملاستو لگ ساعت بعد ئی وفرمائیل ما پریگده چی د الله عبادت وکړم او پاسیدو اودس ئی وفرمایه او د مانځه نیت ئی وکړه او په ژړا شو تردی چی په سینه بنادی ئی اوخکی راوبهیدے بیا ئی رکوع وکړه دغه ژړل ئی بیا ئی په سجده کښ هم دغسے ژړل بیا د سجدی نه پاسیدو کښ هم غرض تر سحر دا حالت وو چی بلال د اذان دپاره راغے، ما عرض وکړو حضور ﷺ ! تاسو دومره ولی ژاړی حالانکه الله ستاسو اولنی او روستنی گناهونه معاف کړی دی نو دوی ﷺ وفرمائیل ولی زه د الله شکر گزار بنده جوړ نه شم؟ ددی نه بعد ئی دا وفرمائیل چی ما به داسی ولی نه کول چی نن په ما باندی دا آیتونه نازل شوی دی (ان فی خلق السموات)او د سورة آل عمران آخری رکوع ئی تلاوت وفرمائیله۔

> حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ عُثْمَانَ بْنِ عِيسَى بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الرَّمْلِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا عَمِّي يَحْيَى بْنُ عِيسَى الرَّمْلِيُّ، عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُومُ يُصَلِّي حَتَّى تَنْتَفِخَ قَدَمَاهُ فَيُقَالُ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، تَفْعَلُ هَذَا وَقَدْ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ؟ قَالَ: «أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا»

د ابو هریرهؓ نه روایت دے چی حضور ﷺ به مونځ دومره اوږد کوو چی خپی مبارکی به ئی وپړسیدے چا عرض وکړه چی تاسو ته خو د اولنی او روستنی گناهونو د بخنے زیرے شوے دے بیا تاسو دومره سترړی ولی برداشت کوئ؟ حضور ﷺ جواب ورکړه آیا زه شکر گزار بنده جوړ نه شم؟

فائده: امام ترمذی په دریو سندونو سره دا مضمون ذکر کړو ،په دی روایاتو باندی یو اشکال رازی چی د حضور ﷺ نه په مختلفو سندونو سره د طاقت نه زیات د عبادت منع راغلی ده ،خو حقه داده چه انسان پیدا خاصکر د عبادت دپاره دے لکه چی الله تعالی فرمائی چی ما انسان او پیرے صرف د دی دپاره پیدا کړی چی زما عبادت وکړی نو چی هر کله اصل مقصد عبادت شو نو بیا چی په دی کښ څومره قدرے زیاتے وی او اهتمام وی نو د صفت لائق دے او خه دے، او کومو ځایونو کښ چی منع راغلی ده نو د څه عوارضو د

وجے ده یعنې چې کوم ځائے څه عارض مخے ته راشي ن وبیا به ناخوخه وی ،یو ددی عوارضو نه سترړی کیدل او بیخے پریخود دی لکه دا متل مشهور دے(نه بهاگ کر چلنا نه اکهڑ کر گرنا) د منع په حدیثونو کښ دی طرف ته اشاره ده لکه د حضور ﷺ ارشاد دے چې عمل دومره کوئ څومره چې طاقت وی الله تعالیٰ په ثواب بانده نه سترړے کیږی ترسو چې تاسو سترړی شئ ،عالمان ددی وجے نه د ډیرے مجاهدے نه منع کوی چې هسی نه سترړے شي او بیخے ئې پریگدی،او د حضور ﷺ شان ددی نه ډیر اوچت وو هلته د سترړی احتمال هم نه وو ،چرته چه حضور ﷺ فرمائی چې زما د سترگو یخوالے په مانځه کښ دے او دا به ولی نه وو ځکه چې د په مانځه کښ د الله تعالیٰ سسره راز ونیاز دےنو د حضور ﷺ پشان مخلص بنده چې د خپل آقا سره په سرگوشۍ کښ به څومره خوند میلاویدو او د سترړی کیږی به هغه څوک چې ددی لذت نه محروم وی ۔

دغه شان دویم مانع په حقوق لازمه کښ کوتاهی ده اود حضور ﷺ په باره کښ دا سوال هم نه پیدا کیږی ځکه چې کوم ذات ددی مجاهدو او کم خوراک سره د نهه بیبیانو سره صحبت کولے شی هلته ددی کمزورۍ څه سوال دے،دغه شان دنورو عوارضو حال دے چې د حضور ﷺ په باره کښ نشته دی وجے نه دی روایتو سره څه اشکال نشته۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ، عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ؟ فَقَالَتْ: «كَانَ يَنَامُ أَوَّلَ اللَّيْلِ ثُمَّ يَقُومُ، فَإِذَا كَانَ مِنَ السَّحَرِ أَوْتَرَ، ثُمَّ أَتَى فِرَاشَهُ، فَإِذَا كَانَ لَهُ حَاجَةٌ أَلَمَّ بِأَهْلِهِ، فَإِذَا سَمِعَ الْأَذَانَ وَثَبَ، فَإِنْ كَانَ جُنُبًا أَفَاضَ عَلَيْهِ مِنَ الْمَاءِ، وَإِلَّا تَوَضَّأَ وَخَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ»

حضرت اسودؓ فرمائی چې ما حضرت د عائشهؓ نه د حضور ﷺ د شپې د مونځ یعنې د تهجدو او وترو باره کښ تپوس وکړو چې د حضور ﷺ به څه معمول وو دویؓ وفرمائیل حضور ﷺ به د ماسخوتن مانځه نه بعد تر نیمے شپې پورے آرام کوو او ددی نه بعد به ئې تهجد کول تردی چې د شپې آخر به شو نو بیا به ئې اتر وفرمائیل او بیا به ئې بستری ته تشریف راوړو ،او که ضرورت به وو نو د بیبی خواته به ئې تشریف یوړو یعنې صحبت به ئې وکړو بیا د سحر بانگ سره به فورًا پاسیدو که د غسل ضرورت به وو نو غسل به ئې وفرمایو او که نه به وو نو اودس به ئې وفرمایه او د مانځه دپاره به ئې تشریف یوړو۔

فائده: د طبیبانو په نزد باندی هم د شپې اخر بهترین وخت دے چې د اعتدال وخت هم وی او د ارام نه پاسیدو په وجه د طرفین طبیعت هم تازه وی ،د شپې په اول کښ خیټه ډکه وی نو صحبت ضررناک وی او د لوگی په حالت کښ ډیر مضر وی د شپې اخر وخت په دی لحاظ سره هم د اعتدال وی ،لیکن دا طبی مصلحتونه دی نور په هر وخت کښ جواز شته ،د حضور ﷺ نه په مختلفو وختونو کښ ثابت دی ،البته بعضو مشائخو لیکلی دی چې که د عین مونځ په وخت کښ صحبت وشی نو بیا اولاد د مور پلار نافرمانه پیدا کیږی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، ح وَحَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا مَعْنٌ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ مَخْرَمَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ بَاتَ عِنْدَ مَيْمُونَةَ وَهِيَ خَالَتُهُ قَالَ: «فَاضْطَجَعْتُ فِي عَرْضِ الْوِسَادَةِ، وَاضْطَجَعَ رَسُولُ

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي طُولِهَا، فَنَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا انْتَصَفَ اللَّيْلُ أَوْ قَبْلَهُ بِقَلِيلٍ أَوْ بَعْدَهُ بِقَلِيلٍ، فَاسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهِ، ثُمَّ قَرَأَ الْعَشْرَ الْآيَاتِ الْخَوَاتِيمَ مِنْ سُورَةِ آلِ عِمْرَانَ، ثُمَّ قَامَ إِلَى شَنٍّ مُعَلَّقٍ فَتَوَضَّأَ مِنْهَا، فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي» قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ: " فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ فَوَضَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى رَأْسِي ثُمَّ أَخَذَ بِأُذُنِي الْيُمْنَى فَفَتَلَهَا فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ- قَالَ مَعْنٌ: سِتَّ مَرَّاتٍ- ثُمَّ أَوْتَرَ، ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتَّى جَاءَهُ الْمُؤَذِّنُ فَقَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الصُّبْحَ"

حضرت ابن عباسؓ فرمائی چی زه یو ځل په هلک والئ کښ د خپلې ترور حضرت میمونهؓ چی د حضور ﷺ بی بی وه اوده شوم حضور ﷺ او د هغوی اهل د بالښت په اوږد طرف باندی سر ایخے وو او ما د پلنو باندی سر ایخے وو (قاضی عیاضؒ وغیره د بالښت په ځائے باندی د بستری ترجمه کړی ده خو چی اصل معنیٰ ئی هم داده او دا معنیٰ اغستل هم ټهیک دی نو بیا د بلے معنیٰ اغستلو ضرورت نشته لکه چی حضور ﷺ د تکیه په اوږد طرف باندی سر مبارک ایخے وو او قبلے طرفته ئی مخ وو او ابن عباسؓ په پلنو باندی سر ایخے وو او قبلے ته ئی سر وو حضور ﷺ د خپل اهل سره لگی خبری وکړی او اوده شو) او تقریبًا نیمه شپه باندی حضور ﷺ په خپل مخ مبارک باندی لاس راخکلو د خوب اثر ئی لری کړو بیا ئی د سورة آل عمران اخیره رکوع تلاوت وفرمائیله (ان فی خلق السمٰوات والارض) (عالمان فرمائی چی د ویخیدو نه بعد لگ قرآن وئیل پکار دی چی ددی سره تازگی پیدا کیږی۔ او ددی آیاتون وئیل مستحب دی ددی نه وروستو ئی د اوبو ډکے یوے زوړندے مشکیزے طرفته ارادی وکړه او د هغ نه ئی په لوخی کښ اوبهه راواغیستلے اودس ئی وفرمایه او د مونځ نیت ئی وفرمایه ابن عباسؓ فرمائی چی ما هم اودس وکړو او د حضور ﷺ خی طرفته برابر ودریدم، حضور ﷺ ددی وجے نه چی مقتدی له خی طرفته ودریدل پکار دی زما په سر باندی لاس لاس کیخودو او زما غوږ ئی ومروړو دتنبیه د پاره ئی دا وکړل او په یو روایت کښ دی چی په ما باندی پرکالی راغله نو حضور ﷺ زما غوږ ومروړو ،او په یو روایت کښ دی چی زما غوږ ئی ونیولو او زه ئی خی طرفته راوستل چی د سنت موافق د امام خی طرفته ودریږی بیا حضور ﷺ دوه دوه رکعته کول معنؒ چی ددی روایت راوی دے فرمائی چی شپږ پیرے ئی دوه دوه رکعته وکړل نو گویا دولس رکعته شول،ملا علی قاریؒ فرمائی چی د امام اعظمؒ په نزد باندی د تهجدو دولس رکعته دی ،بیا ئی وتر وکړل او اوده شو د سحر مانځه دپاره چه کله بلالؓ راغے نو حضور ﷺ دوه رکعته مختصر قرآئت سره وکړل او د مانځه دپاره ئی تشریف یوړو۔

فائده: د حضور ﷺ نه د تهجدو مختلف رکعاتونه نقل کړے شوی دی چی د مختلف وختونو په اعتبار سره دی ،چی گنجائش به ډیر وو نو زیات به ئی وکړل او چی کم به وو نو کم، درکعاتون خاص حد نشته چی د هغ نه کم زیات ناجائز وی ،په بعضی وخت کښ به حضور ﷺ باوجود ددی چی وخت به زیات وو رکعاتونه به ئی کم کولالبته د تلاوت مقدار به ئی ډیروو لکه چی ددی باب په مختلفو روایاتو کښ رازی۔

حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي جَمْرَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً»

حضرت ابن عباسؓ فرمائی چی حضورﷺ به کله کله تهجد دوترو سره دیارلس رکعته کول۔

فائده: یعنی لس رکعته تهجد او درے رکعته وتر ،او بعض وائی چی دوه ورسره د سحر سنت هم دی نو بیا تهجد اته رکعته شول۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ عَائِشَةَ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا لَمْ يُصَلِّ بِاللَّيْلِ مَنَعَهُ مِنْ ذَلِكَ النَّوْمُ، أَوْ غَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ صَلَّى مِنَ النَّهَارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً»

حضرت عائشةؓ فرمائی چی حضورﷺ به کله د څه وجے د شپی تهجد ونه فرمائیل نو د ورځے به ئی بیا د چاشت په وخت باندی دولس رکعته فرمائیل۔

فائده: که په حضورﷺ باندی تهجد فرض وی نو بیا خو قضا ظاهره ده او که فرض نه وو نو بیا د افضلیت د بیان دپاره ئی قضا فرمائیله،په مسلم شریف کښ د عمرؓ نه د حضورﷺ دا روایت هم راغلے دے :چی کوم کس خپله وظیفه او معمول د شپی پوره نه کړی نو ده له پکار دی چی د سحر نه تر غرمی پوری دی وخت کښ دی پوره کړی چیدا داسی دی لکه چی د شپی ئی پوره کړی ،ددی نه مشائخ دا معمول راوتے دے چی که ذکر د شپی پوره نشی نو د ورځی دی پوره کړی او بلکل دِ نه پریگدی چی بیا نفس ددی عادی جوړیږی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ هِشَامٍ يَعْنِي ابْنَ حَسَّانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنَ اللَّيْلِ فَلْيَفْتَتِحْ صَلَاتَهُ بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ»

ابو هریرةؓ فرمائی چی حضورﷺ وفرمائیل چی کله د تهجدو دپاره پاسئ نو اول دوه رکعته مختصر کوئ۔

فائده: چی په اول کښ د اوږدو رکعتونو په وجه ستړی رانه شی ،بعضے عالمان وائی چی ددی نه تحیة الوضوء دوه رکعته مراد دی او تحیة الوضوء مختصر کول اولیٰ دی ددی وجے نه ئی ددی مختصر کول وفرمائیل او حضورﷺ به هم مختصر کول،

حافظ ابن حجرؒ د بخاری په شرح کښ یوه باریکه خبره ذکر : فرمائی چی په حدیث کښ راغلی دی چی کله سړے اوده شی نو شیطان دده په ویختو کښ درے غوټی د جادوگرو پشان ورکړی چی په هغے باندی دا شُپ وی "چی وسه پوری لا ډیره شپه ده اوده شه" چی کله سړے راویخ شی او د الله پاک نوم واخلی او څه دعا وغیره اووائی نو یوه غوټه پرانستے شی لکه چی په دی حدیث کښ دی چی د مانځه سره دریمه غوټه پرنستے شی ددی وجے نه د دوه رکعتو مختصرًا کولو حکم دے دی چی دغه دریمه غوټه پرانستے شی او بیا ټول مونځ دا شیطن د اثر نه محفوظ وکړے شی (نبیﷺ خو د شیطان د اثر نه محفوظ وو خو حضورﷺ به دا کارونوه خپل معمول د امت د تعلیم دپاره کول چی ددی امت ته احتیاج وو ددی وجے نه حضورﷺ به کله کله دا دوه رکعته کول لکه چی په بعضو روایاتو کښ راغلی دی ۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، ح وَحَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى قَالَ: حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ: حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسِ بْنِ مَخْرَمَةَ، أَخْبَرَهُ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: لَأَرْمُقَنَّ صَلَاةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَتَوَسَّدْتُ عَتَبَتَهُ، أَوْ فُسْطَاطَهُ «فَصَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ، طَوِيلَتَيْنِ، طَوِيلَتَيْنِ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ثُمَّ أَوْتَرَ فَذَلِكَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً»

حضرت زید ابن خالدؓ فرمائی چی ما یو ځل دا اراده وکړه چی د حضور ﷺ مونځ به نن په غور سره ګورم نو زه ما د مکان په چوکاټ باندی سر کیخودو او پریوتم دی دپاره چه په غور سره ئې وینم ،حضور ﷺ اول دوه رکعته وکړل ددی نه وروستو ئې اوګده اوګده رکعتونه کول درت پیرے د طویل لفظ دلته د اوګدوالی د زیادت دپاره راغلے دے ،بیا ئې ددی نه وروستو دوه رکعته مختصر وکړل بیا ئې ددی نه وروستو نور دوه رکعته مختصر وکړل بیا ئې ددی نه ورستو نور دوه مختصر وکړل بیا ئې ددی نه وروستو نور دوه مختصر وکړل بیا ئې وتر وکړل نو دا ټول دیارلس رکعته شول۔

فائده: کوم خلق چی دا وائی چی وتر یو رکعت دے نو د هغوی په نزد باندی دوه دوه رکعته شپږ پیرے دی او یو رکعت وتر نو دیارلس شول او د چا په نزد باندی چی وتر درے رکعته دی د هغوی په نزد باندی ټول پنځلس دی او دیارلس ئې ورته دی وجے نه ووی چی اول تحیة الوضوء دوه رکعته ئې په دی کښ شمار نه کړل۔ بعضو روایاتو کښ دا لفظ چی بیا ئې دوه نور مختصر وکړل د څلورو په ځائے درے ځایه راغلے دے نو ددی په حساب بیا سره د تحیة الوضوء د دوؤ رکعتونو ټول لس رکعته شول نو بیا به خامخا د وترو درے رکعته منل پکار وی ځکه که یو رکعت شی نو بیا دیارلس رکعته نه پوره کیږی ۔

د حدیث په الفاظو کښ دادی چی د مکان یا د خیمے په درشل باندی مِ سر کیخودو دا د راوی شک دے چی استاذ مو د مکان درشل وئیلی ده کنه د خیمے، دا د حضراتو محدیثونو انتهائی احتیاط دے چی په کوم لفظ کښ دوی ته معمولی شان تردد هم وی نو هغی ظاهر کوی خو ظاهره داده چی د خیمے چوکاټ مراد دے او دا قصه د سفر ده ځکه چه په مدینه منوره کښ به د حضور ﷺ معمول په داسی کوټه کښ وو چی هلته به یوه نه یوه بی بی وه نو هلته د خالدؓ د لیدلو او تللو موقع نه شوه میلاویدے او دا د عقل نزدے ده چی په سفر کښ حضور ﷺ په خیمه کښ یوازے آرام فرمایه او بی بی ورسره نه وه دی وجے دا ډیره مناسب ده او اکثر عالمانو هم دا قصه د سفر خودلی ده۔

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى قَالَ: حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ: حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ، كَيْفَ كَانَتْ صَلَاةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ؟ فَقَالَتْ: مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَزِيدَ فِي رَمَضَانَ وَلَا فِي غَيْرِهِ عَلَى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً، يُصَلِّي أَرْبَعًا لَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّي أَرْبَعًا لَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّي ثَلَاثًا، قَالَتْ عَائِشَةُ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَتَنَامُ قَبْلَ أَنْ تُوتِرَ؟ فَقَالَ: «يَا عَائِشَةُ، إِنَّ عَيْنَيَّ تَنَامَانِ وَلَا يَنَامُ قَلْبِي»

ابوسلمةؓ فرمائی چی ما د حضرت عائشةؓ نه معلومه کړه، چی حضورﷺ به په رمضان شریف کښ څو رکعته تهجد کول؟ دویؓ وفرمائیل چی پ رمضان او غیر رمضان کښ به ئی د یوولس نه زیات نه کول لکه اته رکعته تهجد او درے رکعته وتر عائشةؓ ئی پخپله تشریح فرمائی:چی اول به ئی څلور رکعته وکړل او دا تپوس مه کوه چی هغه به څومره اوگده وو او څومره په بهترین حالت خشوع خضوع سره به وو او بیا به ئی څلور رکعته وکړل او د هغے د اوگد والی او عمدگئ تپوس مه کوه بیا به ئی درے رکعته وکړل یعنی وتر ،حضرت عائشةؓ فرمائی چی ما حضورﷺ ته عرض وکړو چی تاسو خو د وترو نه مخکښ اودی کیږئ دویﷺ وفرمائیل زما سترگی اوده کیږی خو زړه مِ ویخ وی (دا د انبیاءﷺ خصوصیت دے چی ددوی زړونه ویخ وی)۔

فائده: په دی حدیث کښ بعضے ضروری بحثونه دی چی دوه تری دلته ذکر کولے شی ۔

اول دا چی حضرت عائشةؓ دلته په رمضان او غیر رمضان کښ د یوولسو نه زیاتو تهجدو نفی کوی حالانکه د ابن عباسؓ،زید ابن خالدؓ وغیره صحابةؓ نه د دیارلسو رکعتونو ثبوت دے ،او په بعضو کښ خو د دیارلسو نه زیات هم ثابت دی لکه د ابوداؤد په روایت کښ پخپله عائشةؓ د ابن ابی قیسؓ په سوال باندی د حضورﷺ د شپی رکعتونه داسی شمارلی دی "چی څلور او درے،شپږ او درے، لس او درے چی دیارلس شو ، حتیٰ چی پخپله د حضرت عائشةؓ نه هم دیارلس رکعته نقل کړے شوی دی ،لکه چی د ابو داؤد یو روایت کښ د حضرت عائشةؓ نه منقول دی چی حضورﷺ به د اووه رکعتو نه کم او د دیارلسو نه زیات نه کول، او د مؤطا امام مالکؒ روایت دد ے"عن عائشةرضقالت کان رسول لله ﷺ یصلی باللیل ثلاث عشرة رکعة ثم یصلی اذا سمع النداء للصبح رکعتین خفیفتین" یعنی حضورﷺ به د شپی دیارلس رکعته کول او بیا به ئی د سحر په اذان باندی دوه رکعته مختصر کول یعنی د سحر سنت، بعضے عالمانو خو دی اختلاف ته کتلی دی نو وئیلی ئی دی چی د عائشةؓ روایات په دی باب کښ مضطرب دی یعنی ضعیف دی ،لیکن د مضطرب حکم کولو ضرورت نشته په دی کښ څه اشکال دے چی یوؤلس رکعته د اکثر وختونو په اعتبار باندی او د د معمول په اعتبا ر دی او کله کله ئی ددی نه کم او زیات هم فرمائیلی دی لکه چی د نورو روایاتو نه معلومیږی ۔

دویم بحث دادے چی بعضے خلق ددی نه دا مسئله راوباسی چی تراویح اته رکعته دی ،حال دادے چی ددی نه دا هم نه معلومیږی چی د تهجدو رکعتونه صرف اته دی لکه چی مخکښ تیر شو پاتی شوی تراویح چی ثابت شی تری!

ددی حدیث د تراویحو سره هیڅ قسم تعلق نشته د صلاة اللیل لفظی معنیٰ د شپی د مونځ ده لیکن د قرینے د وجے نه ددی نه د تجهدو نه علاوه بل څه مراد نشی کیدے ځکه چی که ددی نه مطلقًا د شپی مونځ مراد شی نو بیا خو د ماښام موسخوتن مونځ او د هغے سنن ټول به خارج شی حالانکه دا څوک هم خارج کولے نشی ،غرض دا چی دلته صرف د تهجدو ذکر دے اود هغے تپوس دلته مقصود وو او د هغے متعلق حضرت عائشةؓ جواب ورکړ ، او د تپوس ضرورت ددی وجے راغے چی عمومًا به په رمضان کښ د حضورﷺ عادت مبارک د عبادت د زیاتی وو لکه چی په ډیرو روایاتو کښ راغلی دی ، ددی وجے ابوسلمةؓ ته دا خیال راغے چی کیدے شی د تهجدو په رکعتونو کښ هم زیاتی فرمائیلے وی نو حضرت عائشةؓ په نفی

سره جواب ورکړو کنه د عائشةؓ دا مقصد نه وو (چې تراویح خو څه کوی د تهجدو رکعتونه هم د یوؤلسو نه زیات نه وو) ځکه چې دیارلس خو پخپله د عائشةؓ نه نقل شوی دی ۔

د تراویحو په باره کښې تفصیلی رساله (الرای النجیح)د فخر المحدثین مولانا رشید احمد گنگوهی صاحب په اردو کښې شائع شوی ده چې د چا زړه غواړی هلته دِ وګوری،

مختصر خبره داده چې په حدیثونو کښې تهجدو ته صلوٰة اللیل وائی او تراویحو ته قیام اللیل وائی ،او داد دواړه جدا جدا مونځونه دی، ډیرو عالمانو په دی باندی اجماع نقل کړی ده چې د قیام رمضان نه تراویح مراد دی (حضورﷺ به د قیام رمضان ډیر اهتمام کوو) په ډیرو حدیثونو کښې ددی قولًا او فعلًا ډیر اهمیت راغلے دے ،حضورﷺ فرمائی چا چې هم د ایمان سره او د ثواب په نیت باندی قیام رمضان وکړو نو ده چې څومره گناهونه کړی وی ټول معاف کیږی (د عالمانو په نزد باندی صغیره مراد دی) د حضرت ابو هریرةؓ ارشاد دے چې حضورﷺ خو به د قیام رمضان د وجوب حکم نه فرمایو اولبته ترغیب به ئی فرمایه،کله کله به حضورﷺ دا د ډیر لوئی جماعت سره ددی مونځ کوو او کله کله د پریخودو به ئی دا عذر فرمایو چې ماته ددی د فرض کیدو یره ده(او د حضورﷺ د مستقل کولو سره د فرض کیدو احتمال په څو وجو باندی احتمال هم وو،او د صحابةؓ په جدا جدا یا په جماعت سره دا مونځ کوو او تقریبًا د شپې د نیمی پورے پوری به ئی کوو،او کله ددی نه هم زیات ۔

حضرت عمرؓ په زمانه خلافت کښې دی جدا جدا مونځ کونکو ته د یو امام په اقتداء کښې د موځ کولو حکم وکړو ،چې انتشار نه وی ۔

سائبؒ فرمائ چې امام په عمومًا په هر رکعت کښې سل سل ایتونه وئیل خلقو په د سټړی د وجے نه په څه شی باندی تکیه ولګوله او د پیشمنی نزدی به فارغیدو ،

ډیرو عالمانو لیکلی دی چې د تراویحو په سنت کیدو باندی د اهل سنت والجماعت اجماع ده او په اهل قبله کښې د روافضو نه علاوه څوک هم ددی نه انکار نه کوی ،څلور امامان یعنی امام اعظم ابوحنیفةؒ،امام مالکؒ،امام شافعیؒ،امام احمد ابن حنبلؒ د ټولو په فقهه کښې ددی صراحت دے چې شل رکعته تراویح سنت مؤکده دی ،د امام مالکؒ د مشهور قول موافق شپږ دیرش رکعته دی،

د فقه حنبلی مشهور کتاب (مغنی)کښې لیکلی دی چې د امام احمدؒ په نزد باندی د راجح قول موافق زل رکعته دی ،او دا مذهب د سفیان ثوریؒ،امام اعظمؒ،او امام شافعیؒ دے۔

د امام مالکؒ نه نقل شوی دی چې زما خواته د بادشاه سړے راغے چې په تراویحو کښې د کمی اجازت راکړئ ما انکار وکړو،د امام مالکؒ شاګرد فرمائی چې په مدینه منوره کښې یو کم څلویښت راکعته کولے شی یعنه درے شپږ دیرش تراویح او درے وتر، په اوجز کښې دا بحث تفصیلی دے ،زما د استاذانو دا ارشاد دے چې په مدینه کښې به کوم شپږ دیرش رکعته کیدل په دی کښې شل رکعته تراویح وی او په هره ترویحه کښې د څلورو رکعتو په مقدار باندی هیساریدل مستحب دی نو دی حضراتو به په دغه ترویحه کښې څلور رکعته نفل وکړل نو دا شپاړس رکعته ئی د نفلو دا ددی سره سِوا شو ،بحر حال دا د مالکیو مزجب دے باقی د دریو امامانو مسلک د شلو رکعتو دے۔

حدثنا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ: ((أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُوتِرُ مِنْهَا بِوَاحِدَةٍ، فَإِذَا فَرَغَ مِنْهَا اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ

حضرت عائشةؓ فرمائي چې حضورﷺ به يوولس ركعته پوره كول چې په دى كښ به يو ركعت وتر وو چې كله به د وترو نه فارغ شو نو په خى طرف باندى به ئې آرام كوو.

فائده: دا حديث پخپله د اول حديث خلاف دے كوم كښ چې د اتوؤ بيان وو ددى وجے نه بعضے عالمانو په دى روايت باندى كلام كړے دے لكه چې د اول حديث په ذيل كښ تير شول ،البته د توجيه په درجه كښ دا د وختونو په اختلاف باندى محمول كيدے شى ـ كله كله حضورﷺ اته ركعته كړى دى او كله كم وبيش .

بله مسئله دلته د وترو د يو ركعت ده د وترو په باره كښ څه اختلافات دى اول ددى د حكم په باره كښ دے د احنافو په نزد باندى واجب دى او د نورو په نزد باندى مستحب دى خو په حديث كښ ددى ذكر نشته نو دا خبره دلته پريگدو.

بله خبره ددى په ركعتونو كښ ده د احنافو په نزد باندى درے ركعته دى په يو سلام سره د نورو امامانو په نزد باندى يويو ركعت دے ،بيا په دى كښ هم اختلاف دے بعضے صرف يو ركعت وائي او بعضے ددى يو ركعت نه مخكښ دوه ركعته ددى سرى يوځائے كوى ،په حديثونو كښ ددى متعلق مختلف روايات راغلى په ترجيح كښ د عالمانو اختلاف دے ددى وجے مسئله كښ اختلاف وشو. احناف په بعضے دليلونو شره دليل نيسى.

١ ـعبد الله ابن ابى قيسؒ دا روايت دےچې ابوداؤدوغيره روايت كړے دے،د تير شوى حديث پهاول بحث كښ تير شوى دى چې عائشةؓ د حضورﷺ د شپې مونځ ذكر كوى نو فرمائي چې څلور او درے،شپږ او درے ،اته او درے ،لس او درے ،دومره په تكلف سره عائشةؓ تعداد فرمائي حالانكه داسى وئيل آسان وو چې اووه،نهه،يوولس او ديارلس خو عائشةؓ په هر پيره د دريو عدد جدا جدا ذكر كوى دا ددى دليل دے چې وتر يو داسى مونځ دے چې كمے زياتے پكښ نه كيږى .

٢ ـ ملا على قارىؒ د احنافو دليل دا ليكلے دے چې د صحابةؓ په دى باندى اجماع ده چې درے ركعته وتر جائز او مستحسن دى او ددى نه په كم كښ اختلاف دے ،د بعضو په نزد باندى يو ركعت هم جائز دے او د بعضو په نزد باندى يو جائز هم ندے،او دا ظاهره ده چې د صحابةؓ چې په كومه خبره اجماع وى هغه اولىٰ ده د اختلافى روايت نه.

حسن بصرىؒ فرمائي چې د مسلمانانو په دى باندى اجماع ده چې وتر درے ركعته دى ،

عمر ابن عبد العزيزؒ چاته چې عمر ثانى وئيلے شى د مدينے د عالمانو نه د تحقيق كولو نه بعد دا حكم كړے وو چې وتر به درے ركعته كوئے،ده ته چا ووئيل چې عبد الله ابن عمرؓ خو به په دوؤ ركعتو باندى سلام گرزوو نو ده جواب وركړو چې د هغه پلار(عمرؓ) به په يو سلام سره كول او هغه دده نه لوئے عالم وو.

۳۔په حدیثونو کښې د یو رکعت کولو نه منع راغلې ده،حضرت عبد الله ابن مسعودؓ ته چا ووئیل چې حضرت سعدؓ خو یو رکعت وتر کوی دویؓ وفرمائیل یو رکعت د سره مونځ نه وی ،ددی نه علاوه نور ډیر استدلالات دی د احنافو ،عالمانو په دی باندی مستقل رسالے لیکلی دی دلته مونږ مختصر اشاره وکړه۔

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ ،حَدَّثَنَا مَعْنٌ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، نَحْوَهُ (ح) وَحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، نَحْوَهُ
حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، أَبُو الأَحْوَصِ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: ((كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ تِسْعَ رَكَعَاتٍ))

د حضرت عائشةؓ یو بل روایت دے چې حضور ﷺ به د شپې نهه رکعته کول۔

فائده:د احنافو په نزد باندی شپږ رکعته نفل او درے رکعته وتر ،لکه عبد الله ابن ابی قیسؓ په روایت کښې پخپله حضرت عائشةؓ شپږ او درے فرمائیلی دی۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنِ الأَعْمَشِ، نَحْوَهُ
حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ ،أَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ، رَجُلٍ مِنَ الأَنْصَارِ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي عَبْسٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ، أَنَّهُ صَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّيْلِ قَالَ: فَلَمَّا دَخَلَ فِي الصَّلاَةِ قَالَ: ((اللَّهُ أَكْبَرُ ذُو الْمَلَكُوتِ وَالْجَبَرُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ))قَالَ: ثُمَّ قَرَأَ الْبَقَرَةَ، ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعَهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ وَكَانَ يَقُولُ: ((سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ، سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ)) ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَكَانَ قِيَامُهُ نَحْوًا مِنْ رُكُوعِهِ، وَكَانَ يَقُولُ: ((لِرَبِّيَ الْحَمْدُ، لِرَبِّيَ الْحَمْدُ)) ثُمَّ سَجَدَ فَكَانَ سُجُودُهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ، وَكَانَ يَقُولُ: ((سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى، سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى)) ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، فَكَانَ مَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ نَحْوًا مِنَ السُّجُودِ، وَكَانَ يَقُولُ: ((رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي)) حَتَّى قَرَأَ الْبَقَرَةَ وَآلَ عِمْرَانَ وَالنِّسَاءَ وَالْمَائِدَةَ أَوِ الأَنْعَامَ ((شُعْبَةُ الَّذِي شَكَّ فِي الْمَائِدَةِ وَالأَنْعَامِ))قَالَ أَبُو عِيسَى: " وَأَبُو حَمْزَةَ اسْمُهُ: طَلْحَةُ بْنُ زَيْدٍ، وَأَبُو حَمْزَةَ الضُّبَعِيُّ اسْمُهُ: نَصْرُ بْنُ عِمْرَانَ"

حضرت حذیفةؓ فرمائی چې ما د حضور ﷺ سره یو شپه مونځ وکړو بعضو روایاتو کښې دی چې دا قصه د رمضان د میاشت ده دی وجه دا احتمال شته چې دا د تهجدو مونځ وی یا د تراویحو حضور ﷺ مونځ شروع کړو او دا دعا ئی وفرمائیله((اللَّهُ أَكْبَرُ ذُو الْمَلَكُوتِ وَالْجَبَرُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ))الله تعالیٰ په ذات او صفاتو کښې د ټولو نه بهتر دے داسی ذات دے چې لوئے باسشاهت واله دے لائے غلبے واله دے،لائے بزرګۍ او عظمت واله دے ،بیا حضور ﷺ سورة الفاتحه ووی او سورة البقرة ئی تلاوت کړه،بیا ئی رکوع وکړه او دغه رکوع ئی هم د قیام پشان وه،

(ددی دوه مطلبونه دی عالمان بیانوی او د دواړو احتمال شته ،یو دا چې قیام څومره اوګد وو نو دغه شان رکوع هم اوګده وه،لکه که یوه ګهنټه قیام وو نو یوه ګهنټه رکوع هم وه، ددی حدیث نه دا مسئله معلومه شوه چې که رکوع سجده د عام معمول نه اوګده شی نو مونځ کیږی۔

دویمه دا چی ځرنګه قیام د معمول نه زیات وو دغه شان رکوع هم د معمول نه زیاته اوګده وه ،په دی صورت کښ که قیام یوه ګهنټه وی او رکوع شل منټه وی نو هم ددی حدیث مصداق شو،په دی صورت کښ مونځ د عام معمول پشان وو یعنی چی کوم رکن اوګد وی هغه اوګد او چی کوم مختصر وی هغه مختصر البته دواړه د عام معمول نه اوګده وو)

حضورﷺ په رکوع کښ سبحان ربی العظیم سبحان ربی العظیم فرمایه بیا ئ‍ی د رکوع نه سر مبارک اوچت کړو او د غه ودریدل ئ‍ی هم د رکوع پشان وو، دغه وخت ئ‍ی لربی الحمد لربی الحمد فرمائیل بیا ئ‍ی سجده وکړه او دغه سجده هم د قیام پشان وه په دی کښ ئ‍ی سبحان ربی الاعلیٰ سبحان ربی الاعلیٰ وئیل،بیا ئ‍ی د سجدے نه سر اوچت کړو او دا ناسته هم د سجده پشان وه په دی کښ حضورﷺ ربی اغفر لی ربی اغفر لی وئیل غرض حضورﷺ په دی مانځه کښ سورة بقره،سورة آل عمران،سورةنساء او سورة مائده یا انعام ،په دی اخیری کښ د راوی شک دے لیکن اول درے متحقق دی چی اول درے او اخری دوو کښ ئ‍ی یو تلاوت وفرمایه۔

فائده:ددی حدیث ظاهر په دی باندی دلالت کوی چی ځلور سورتونه ئ‍ی په ځلورو رکعتو کښ تلاوت وفرمائیل د ابوداؤد روایت په دی کښ ددی نه هم واضح دے،چی حضورﷺ ځلور رکعته وکړل او دا سورتونه ئ‍ی تلاوت وفرمائیل،خو د مسلم په روایت کښ دی چی حضورﷺ درے سورتونه بقرہ،نساء او آل عمران په یو رکعت کښ تلاوت وفرمائیل،دی وجے د ابوداؤد او مسلم دواړه جدا جدا قصے دی اګر چی دا احتمال هم شته چی یوه قصه وی او په و روایت کښ څه غلطی شوی وی خو په غلطۍ باندی حمل کولو ته ضرورت نشته ځکه چی د حضورﷺ اوګده اوګده رکعتونه کول عام معمول وو،نو کیدے شی چی یو پیره ئ‍ی درے سورته په یو رکعت کښ تلاوت کړی وی او بله پیره ئ‍ی درے سورته په دریو رکعتو کښ نو څه مانع دے؟۔

حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ نَافِعٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ مُسْلِمٍ الْعَبْدِيِّ، عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: ((قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِآيَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ لَيْلَةً))

حضرت عائشهؓ فرمائی چی حضورﷺ یوه شپه په تهجدو کښ صرف یو رکعت بار بار تلاوت فرمائیلو۔

فائده: هغه آیت د سورة مائده اخیر رکوع دا آیت وو(ان تعذبهم فانهم عبادک وان تغفر لهم فانک انت العزیز الحکیم) المائده ۱۱۸ ،اے الله که ته دوی له عذاب ورکوی نو دا ستا بندګان دی یعنی په هر قسم ستا په ملک کښ دی ستا دی ته چی څه غواړی هغه کولے شی او که ته ددی مغفرت کوی او ټول معاف کوے نو ستا د شان نه لرے نده،ته لائ‍ق قدرت او لائ‍ق حکمت واله ئ‍ی ۔

فائده: چا ته چی لائ‍ق قدرت حاصل وی نو هغه چی څوک مجرم معاف کول غواړی نو معاف کولے شی او څوک چی لوئ‍ی حکمت واله وی نو د هغه په هر کار کښ هیګړه وی ،

د حضورﷺ په قیام او رکوع سجده کښ دا ایت تلاوت کول د حضورﷺ دوه صفتونه حاضر کول مقصود وو چی د قیامت منظر ددی دوؤ صفتونو د ظهور ځائ‍ی دے،

د حضرت امام اعظمؒ په باره کښې هم دی چې یوه شپه ئې ټوله شپه دا آیت تلاوت کوو(وامتازوا الیوم ایهاالمجرمون) په دی کښې هم د قیامت د ورځے بیان دے دغه ورځ به دا حکم کیږی چې نن مجرمان د غیر مجرمانو نه جدا شئ،دا څومره قدرے سخت آیت دے،چې نن د نیکانو او الله والو سره یوځائے دی او د هغوی د برکاتو نه فائده اخلی خو دغه ورځ به ددی نه جدا کړے شی ،الله دِ مونږ دغه ورځ هم ددی پاکو خلقو د سوری لاندی کړی کنه ډیره گرانه ده

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: ((صَلَّيْتُ لَيْلَةً مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَزَلْ قَائِمًا حَتَّى هَمَمْتُ بِأَمْرِ سُوءٍ))قِيلَ لَهُ: وَمَا هَمَمْتَ بِهِ؟ قَالَ: ((هَمَمْتُ أَنْ أَقْعُدَ وَأَدَعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ))
حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، نَحْوَهُ

حضرت عبد الله ابن مسعودؓ فرمائی چې ما یوه شپه د حضور ﷺ سره مونځ وکړو دومره اوږد وو چې ما د یو بد کار اراده وکړه چا تپوس وکړو چې د کوم بد کر دویؓ وفرمائیل ما اراده وکړه چې زه کینم او حضور ﷺ یواځے پریگدم۔

فائده: ددی دوه مطلبه دی یو دا چې زه په ناسته مونځ وکړم او حضور ﷺ یواځی ولاړ پریگدم دی ته ئې بد ځکه ووی چې بے ادبی وه، او دویم دا چې مونځ بلکل مات کړی ددی د بد کیدل ظاهر دی چې د حضور ﷺ بے ادبی او د مونځ نه بے پرواهی تری معلومیږی ۔

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ: ((أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي جَالِسًا فَيَقْرَأُ وَهُوَ جَالِسٌ، فَإِذَا بَقِيَ مِنْ قِرَاءَتِهِ قَدْرُ مَا يَكُونُ ثَلَاثِينَ أَوْ أَرْبَعِينَ آيَةً، قَامَ فَقَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ، ثُمَّ رَكَعَ وَسَجَدَ، ثُمَّ صَنَعَ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذَلِكَ))

حضرت عائشةؓ فرمائی چې حضور ﷺ به د ضعف په زمانه کښې په نفلو کښې د قرآن تلاوت (د اوگد والی په وجه) په ناسته کوو،او کله به رکوع ته تقریبًا دیرش څلویښت آیات پاتی شول نو بیا به پاسیدو او بیا به ئې رکوع وکړه او بیا به د ولاړی نه سجدے له لاړو او بیا به ئې بل رکعت دغسی کوو۔

فائده: بعضے عالمانو د هغې کس دپاره چې څوک په ناسته باندی مونځ کوی رکوع او سجده په ولاړه ناجائز وائی خو جمهور عالمان چې پکښې څلورواړه امامان هم دی دا صورت جائز دے ،او دغه شان چې څوک په ولاړه مونځ کوی هغوی له په ناسته باندی رکوع او سجده هم جائز ده، خو دا ټول په نفلو کښې دی په فرضو کښې چې کوم کس په ولاړه باندی مونځ کولے شی هغه له په ناسته باندی جائز ندے۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ ،أَنَا حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ، عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تَطَوُّعِهِ، فَقَالَتْ: ((كَانَ يُصَلِّي لَيْلًا طَوِيلًا قَائِمًا، وَلَيْلًا طَوِيلًا قَاعِدًا، فَإِذَا قَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَائِمٌ، وَإِذَا قَرَأَ وَهُوَ جَالِسٌ رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ جَالِسٌ))

عبد الله ابن شفيقؒ فرمائی چی ماد حضرت عائشهؓ نه د حضورﷺ د نفلو باره کښې تپوس وکړو نو دوی وفرمائیل چی حضورﷺ به د شپې ډیره حصه نفل په ولاړه باندی کول، او ډیرے حصه به ئی په ناسته باندی کول،او د حضورﷺ دا عادت مبارک وو چی تلاوت به ئی په ولاړه باندی فرمائو نو رکوع سجده به ئی هم په ولاړه باندی کول او چی تلاوت به ئی په ناسته باندی کوو نو رکوع سجده به ئی هم په ناسته باندی کول۔

فائده:د شپې ډیره حصه نفل کولو کښې د عالمانو دوه قوله دی ،

یو دا چی په یوه شپه کښې به حضورﷺ ډیره حصه په ولاړه نفل کول او ډیره حصه به ئی په ناسته کول،

دویم مطلب دادے چی دا د مختلفو شپو حالت دے چی بعضو شپو کښې به ئی ډیره حصه په ولاړه مونځ کوو او بعضو شپو کښې به ډیره حصه په ناسته نفل فرمائیل، دویم مطلب راجح دے ځکه چی د حضورﷺ عادت مبارک د شپې د تهجدو د اوگدو اوگدو رکعتونو وو که طبعیت مبارک باندی په ضعف وو نو په ناسته به ئی وفرمائیل او کنه په ولاړه به ئی فرمائیل،

ددی حدیث د آکر مضمون په ظاهره باندی د اول حدیث مخالف دے دی وجے نه عالمانو دا په دوؤ حالتونو باندی محمول کړی دی ، چی د نوافلو دارومدار په تازگئ او دمه والی باندی دے کوم وخت چی طبیعت ښه وو هغه شان ئی وکړل، ددی نه علاوه د حضورﷺ ډیر کارونه د تعلیم د پاره هم وی چی خلقو ته دا معلومه شی چی دا کار داسی هم جائز دے،دی ته بیان جواز وائی ،دی وجے نه نبیﷺ ته په ناسته باندی پوره ثواب ملاویږی ځکه چی په ناسته مونځ کول هم د نبوت مقصد پوره کول دی یعنه اعمال په کول او خودل دا د نبوت مقصود دے،او عامو خلقو ته پهناسته باندی د ولاړے نیم ثواب دے۔

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ أَبِي وَدَاعَةَ السَّهْمِيِّ، عَنْ حَفْصَةَ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: ((كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي سُبْحَتِهِ قَاعِدًا وَيَقْرَأُ بِالسُّورَةِ وَيُرَتِّلُهَا حَتَّى تَكُونَ أَطْوَلَ مِنْ أَطْوَلَ مِنْهَا(

حضرت حفصهؓ فرمائی چی حضورﷺ به نفل په ناسته کول او چی په په دی کښې به ئی یو سورت لوستلو نو داسی په ترتیل سره به ئی لوستلو چی هغه به د اوگد سورت نه هم اوگد شو۔

فائده: یعنه په لنډ سورت کښې د ترتیل وجه په دی کښې اوگد سورت پشان وخت لگیدو،مقصد دادے چی حضورﷺ به قرآن ډیر په اطمینان او قلاره قلاره لوستلو تادی به ئی نه کوله ،نو لنډ سورت به په دومره وخت کښې ختمیدو څومره کښې چی بل څوک اوگد سورت ختموی ،نو بیا چی به حضورﷺ اوگد سورت لوستلو نو چی څومره قدرے وخت به لگیدو ځکه به ئی په ولاړه باندی ښپې مبارکی وپړسیدی۔

حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ: أَخْبَرَنِي عُثْمَانُ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ، أَنَّ أَبَا سَلَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَهُ أَنَّ عَائِشَةَ، أَخْبَرَتْهُ ((أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَمُتْ حَتَّى كَانَ أَكْثَرُ صَلَاتِهِ وَهُوَ جَالِسٌ))

حضرت عائشةؓ فرمائی چی حضورﷺ به د وصال نزدے زمانه کښې اکثر نفل په ناسته باندی کول۔

فائده: چونکه دغه زمانه کښې حضورﷺ کمزورے شوے هم وو او حضورﷺ به تلاوت هم ډیر وګد کوو لکه چی په مخکښې روایت کښې تیر شول ،دی وجے نه اکثر به حضورﷺ په ناسته هم فرمائیل،اګر که د ناستے ثواب د ولاړے په نسبت نیم وی لیکن حضورﷺ ددی قاعدے نه مستثنیٰ دے،حضورﷺ دپاره د ماستی ثواب دولاړے پشان دے،لکه چی د ابوداؤد په روایت کښې ددی تصریح ده چی زما یعنی دحضورﷺ حال ستاسو پشان ندے زما دپاره په ناسته هم دومره ثواب دے څومره چی په ولاړه دے۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: ((صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فِي بَيْتِهِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ فِي بَيْتِهِ))

حضرت ابن عمرؓ فرمائی چی ما د حضورﷺ سره دوه رکعته د ماسپخین نه مخکښې او دوه د ماسپخین نه وروستو او دوه د ماښام نه وروستو په خپل کور کښې او دوه د ماسخوتن نه ورستو په خپل کور کښې وکړل۔

فائده:په دی حدیث کښې د سنتو ذکر دے سنت مؤکده د احنافو په نزد باندی هم دغه شان دی لکه چی د ابن عمرؓ په روایت کښې ذکر شول ،البته د ظهر سبت د احنافو په نزد باندی څلور رکعته دی د حضورﷺ نه په ډیرو روایاتو کښې دا ارشاد نقل شوے دے،چی کوم کس په شپه او ورځ کښې دولس رکعته باندی همشګیری وکړی الله تعالیٰ به دده دپاره په جنت کښې کور جوړ کړی د دغے دولستو ترتیب د حضرت عائشةؓ او حضرت حفصةؓ نه په څوو روایاتو کښې راغلے دے،کوم چی د ابن عمرؓ په روایت کښې بیان شو البته په یو حدیث کښې راغلی دی چی د ظهر نه مخکښې څلور رکعته په یو سلام سره وی نو ددی دپاره د آسمان دروازے پرانستے شی یعنی زر قبلیږی۔

د بخاری او مسلم په روایت کښې دی چی حضورﷺ به د ظهر نه مخکښې څلور رکعته کله هم نه پریخودل،

د حضرت عائشةؓ نه په مسند احمد او ابوداؤد وغیره کښې روایت دے چی حضورﷺ به د ظهر مانځه دپاره جومات ته تشریف وړو نو څلور رکعته به ئی کور وکړل ،

په ظاهره دا معلومیږی چی حضورﷺ به سنت کور کول او هغه به څلور رکعته وو لکه چی د عائشةؓ وغیره نه مروی دی،

په ابوداؤد کښې د عائشےؓ نه یو تفصیلی روایت نقل شوے دے چی پکښې مور بی بیؓ فرمائی چی حضورﷺ به د ظهر نه مخکښې څلور رکعته زما په کور کښې کول بیا به جومات ته لاړو او فرض به ئی وکړل بیا به ئی کور ته تشریف راوړو او دوه رکعته به ئی وکړل، او د مغرب نه بعد به ئی زما کور ته تشریف

راؤړو او دوه رکعته به ئ وفرمائیل ،او د عشاء نه بعد به ئی هم تشریف راؤړو او دوه رکعته به ئی وکړل، و د صبح صادق نه بعد به ئی دوه رکعته وکړل او مانځه له به ئی تشریف یوړو،ددی تفصیلی حدیث نه دا معلومیږی چی سنت به حضورﷺ اکثر کور کول او چی جومات ته به ئی تشریف یوړو نو غالبًا دوه رکعته تحیة المسجد به ئی کول،کوم چی حضرت ابن عمرؓ روایت کوی ،او دا هم ممکن دی چی کله حضورﷺ د څه ضرورت په وجه باندی دوه رکعته هم کړی وی کوم چی حضرت ابن عمرؓ نقل کوی ،بله دا چی ابن عمرؓ په دی حدیث کښ دا ارشاد چی ما د حضورﷺ سره دا مونځونه کړی دی ددی دا مطلب ندے چی د حضورﷺ سره ئی په جمع باندی کړی بلکه دا مطلب چی حضورﷺ هم کول او دۀ هم کول۔ د سنتو په جمع سره کول ثابت ندی ۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي حَفْصَةُ: ((أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ حِينَ يَطْلُعُ الْفَجْرُ وَيُنَادِي الْمُنَادِي)) قَالَ أَيُّوبُ: "وَأُرَاهُ قَالَ: خَفِيفَتَيْنِ"

ابن عمرؓ فرمائی چی ماته زما خور ام المؤمنین حضرت حفصةؓ وفرمائیل چی صبح صادق کښ چی به مؤذن کله اذان وکړو نو حضورﷺ به دوه مختصر رکعته کول۔

فائده: د سحر د سنتو متعلق اکثر روایاتو کښ دادی چی دا به حضورﷺ مختصر کول تردی چی بعضے عالمان وائی چی صرف الحمد دی ووائی او د سورة وئیلو ضرورت نشتے لیکن صحیح دادی چی د حضورﷺ نه په دی کښ سورت وئیل ثابت دی البته مختصر سورت وئیل غوره دی ،

د مسلم شریف په روایت کښ دی چی حضورﷺ به په دی سنتو کښ سورة کافرون او سورة اخلاص لوستلو اگر چی په بعضے روایاتو کښ ددی نه علاوه هم راغلی دی ،یو روایت کښ حضورﷺ فرمائی چی دا سورتونه څومره ښه دی چی په سحر کښ وئیلے کیږی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ بُرْقَانَ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ مِهْرَانَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: " حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ: رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ " قَالَ ابْنُ عُمَرَ: ((وَحَدَّثَتْنِي حَفْصَةُ بِرَكْعَتَيِ الْغَدَاةِ، وَلَمْ أَكُنْ أَرَاهُمَا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ))

ابن عمرؓ نه روایت دے چی ما د حضورﷺ نه اته رکعته یاد کړی دی ،دوه د ظهر نه مخکښ دوه د ظهر نه بعد ،دوه د مغرب نه بعد دوه د عشاء نه بعد او زما خور حضرت حفصه ماته د سحر د دوؤ رکعتو هم خبر راکړے دے چی دا ما نه وو لیدلی۔

فائده: دا دوه رکعته به همیشه کور کیدل او د سحر وخت خو ډیر د حاضر باشئ هم نه وی دی وجے نه د ابن عمرؓ دا وئیل څه ناشنا نه ده،بعضے عالمان وائی چی د نه لیدلو مطلب دادے چی حفصةؓ چی ورته خبر ورکړو ددغه وخت پوری ئی نه وو لیدلے دی بعد ئی لیدلے دے،دی وجے نه چی د ابن عمرؓ نه خپله مشاهده هم د بعضو روایاتو نه معلومیږی ،په ټولو سنتو کښ د سحر سنت ډیر مؤکد دی ،بعضے عالمان دی ته واجب وائی دی وجے نه ئی ډیر اهتمام پکار دے۔

حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ، عَنْ صَلَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: ((كَانَ يُصَلِّي قَبْلَ الظُّهْرِ رَكْعَتَيْنِ وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ، وَبَعْدَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ، وَبَعْدَ الْعِشَاءِ رَكْعَتَيْنِ، وَقَبْلَ الْفَجْرِ ثِنْتَيْنِ))

عبد الله ابن شقیقؒ فرمائی چی ما د حضرت عائشةؓ نه د حضورﷺ د نفلو په باره کښ تپوس وکرو نو دویؓ وفرمائی چی دوه به ئی د ظهر نه مخکښ ،دوه وروستو دوه د مغرب نه بعد دوه د عشاء نه بعد دوه د سحر نه مخکښ وخودل۔

فائده: په دی کښ علاوه ددی نه چی د ظهر نه مخکښ دوه رکعته دی نور په ټولو کښ د احنافو اتفاق دے د ظهر سنت د احنافو په نزد باندی څلور دی لکه د ابن عمرؓ په حدیث کښ تفصیلی ذکر شول۔

بخاری شریف کښ د حضرت عائشةؓ نه نقل دی چی حضورﷺ به د ظهر نه مخکښ څلور او د سحر نه مخکښ دوه رکعته چرته هم نه پریخودل یعنی ہمیشه به ئی کول دی وجے نه دغه حدیث به په څه ضرورت حمل کوو۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ: سَمِعْتُ عَاصِمَ بْنَ ضَمْرَةَ يَقُولُ: سَأَلْنَا عَلِيًّا، عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ النَّهَارِ، فَقَالَ: إِنَّكُمْ لَا تُطِيقُونَ ذَلِكَ قَالَ: فَقُلْنَا: مَنْ أَطَاقَ ذَلِكَ مِنَّا صَلَّى، فَقَالَ: ((كَانَ إِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ مِنْ هَاهُنَا كَهَيْئَتِهَا مِنْ هَاهُنَا عِنْدَ الْعَصْرِ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، وَإِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ مِنْ هَهُنَا كَهَيْئَتِهَا مِنْ هَاهُنَا عِنْدَ الظُّهْرِ صَلَّى أَرْبَعًا، وَيُصَلِّي قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعًا، وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ، وَقَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعًا، يَفْصِلُ بَيْنَ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ بِالتَّسْلِيمِ عَلَى الْمَلَائِكَةِ الْمُقَرَّبِينَ وَالنَّبِيِّينَ، وَمَنْ تَبِعَهُمْ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ))

عاصم ابن ضمرةؒ فرمائی چی ما د حضرت علیؓ نه د حضورﷺ د هغې نفلو باره کښ تپوس وکړو کوم چی به حضورﷺ د ورځې کول (د شپې هغه به ورته شاید د مخکښ نه معلوم وو ځکه د تهجدو روایت په کثرت سره منقول دی او مشهور دی) حضرت علیؓ وفرمائیل چی ته د هغې طاقت کم ځائے لری (یعنی په کوم اهتمام او انتظام او خشوع خضوع سره به حضورﷺ کول هغه کوم ځائے کیدے شی ددی نه تنبیه مقصود وه چی تر سو د عمل کوشش نه وی نو د تحقیق څه فائده) ما عرض وکړو چی څوک طاقت لری هغه به ئی وکړی او چی څوک نه لری هغه به ئی معلوم کړی چی نورو ته ئی ورسوی او پخپله به پری د عمل کوشش وکړی په دی باندی حضرت علیؓ وفرمائیل چی کله به سحر نمر دومره اوچت شو څومره چی د مازیگر مانځه په وخت کښ وی نو حضورﷺ به دوه رکعته د اشراق کول ،او چی نمر به د مشرق د طرفنه دومره اوچت شو څومره چی د مغرب نه د ماسپخین په وخت کښ وی نو حضورﷺ به د چاشت څلور رکعته کول چی ددی بیان په خپل باب کښ رازی۔ د ظهر نه اول به ئی څلور رکعته کول،او د ظهر نه بعد به ئی دوه رکعته (دا شپږ رکعته سنت مؤکده دی او د مازیگر نه مخکښ به ئی څلور رکعته کول په دی کښ به په مینځ کښ په ناسته په مقربو فرشتو او انبیاؤ او مومنانو باندی سلام لیگلو۔

فائده: ددی نه مراد التحیات هم کیدے شی چی پکښ السلام علیک الیها لنبی وی ،نو بیا چی پهه حدیث کښ په هر ځائے کښ څلور رکعته راغلی وی هغ ته به شامل وی ،او دا هم ممکن دی چی ددی نه په دوؤ رکعتو باندی سلام گرزول مقصودوی یعنه دوه دوه رکعته به ئی کول ،د مازیگر دا سنت دوه دوه او څلور په یو ځائے دواړو ثابت دی پخپله د حضرت علیؓ نه هم دواړه روایتونه دی۔

باب صلوٰة الضحیٰ

د چاشت د مانځه باره کښ

فائده: د فقهاءو او محدثینو په نزد باندی سحر د مکروه وخت تیریدو نه بعد تر زواله پوری دی ته صلوٰة الضحیٰ ویئلے شی ،لیکن د صوفیانو په نزد باندی دا دوه مونځونه دی یو ته د اشراق مونځ وائی و بل ته د چاشت،د ورځی د څلورمی حصے پورے ته ازراق وائی او د هغ نه په اخوا د زواله پوری ته چاشت وائی ،د حضرت علیؓ هغه روایت چی د تیر باب په اخیر کښ بیان شوے دے او دغه شان نور روایات د صوفیانو دلیل دی ۔

په صلوٰة الضحیٰ کښ د عالمانو ډیر اختلاف دے ،د حدیثو شارحینو په کښ اته مذهبونه بیان کړی دی ،د احنافو په نزد باندی دا مونځ مستحب دے عالمانو لیکلی دی چی ددی مونځ په باره کښ ډیر په کثرت سره روایات راغلی دی د نوولس صحابهؓ نه ددی مونځ په باره کښ روایات نقل شوی دی او په اوجز کښ د پنځویشتو صحابهؓ روایات ذکر دی خو ددی نه علاه نور هم دی ۔

په یو حدیث کښ دی چی په انسان کښ درے سوه شپیته جوړونه دی او په هر جوړ باندی روزانه صدقه لازمه ده،یعنی دا شکر چی الله تعالیٰ دا په صحیح ځائے باندی ایخی دی یوه گوته ده که چری ددی دا جوړ جدا شی نو نو گوته بیکاره ده د نرم والی په ځائے به کلکه شی نه به حرکت کولے شی او نه به څه شے نیولے شی،

بیا حضورﷺ صدقے شمار کړی چی یوه پیره سبحان الله وئیل یو قسم صدقه ده الحمد لله وئیل هم وغیره وغیره،بیا ئی ارشاد وفرمایو بیا ئی ارشاد وفرمایو چی د چاشت دوه رکعته ددی ټولو نه کافی کیږی ،مصنف په دی باب کښ اته حدیثونه ذکرکړی دی ۔

معاذهؓ د حضرت عائشهؓ نه تپوس وکړو چی آیا حضورﷺ به د چاشت مونځ کوو دویؓ وفرمائیل آو څلور رکعته به ئی کم سے کم کول او زیات چی به ئی څومره زړه وغوښتله۔

فائده:صلاة الضحیٰ نفل دی دی وجے نه کم نه کم دوه رکعته او زیات نه زیات چی څومره زړه غواړی کوی دی لیکن د حضورﷺ نه د دولسو پوره ثابت دی ،بعضی خلق وائی چی د حضورﷺ نه تر اته رکعته پوری ثابت دی البته ترغیب د دولسو پوری راغلے دے۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنِي حَكِيمُ بْنُ مُعَاوِيَةَ الزِّيَادِيُّ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ الرَّبِيعِ الزِّيَادِيُّ، عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: ((أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي الضُّحَى سِتَّ رَكَعَاتٍ))

حضرت انس ابن مالکؓ فرمائی چی حضورﷺ به د صلوٰۃ الضحیٰ یعنی چاشت شپږ رکعاته کول۔

فائده: د وختونو د اختلاف په وجه باندی د حضورﷺ د چاشت د مانځه رکعتونه هم مختلف دی ،دی وجے نه د حدیثونو د یو بل سره څه قسم تعارض نشته ددی وجے نه عالمانو لیکلی دی چی کم نه کم دوه رکعته او زیات نه زیات اته یا دولس رکعته دِ وکړے شی ،د حضورﷺ نه اکثر د اتۀ رکعتو نقل شوی دی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، أَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ: مَا أَخْبَرَنِي أَحَدٌ، أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحَى إِلَّا أُمُّ هَانِئٍ، فَإِنَّهَا حَدَّثَتْ ((أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ بَيْتَهَا يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ فَاغْتَسَلَ فَسَبَّحَ ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ مَا رَأَيْتُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى صَلَاةً قَطُّ أَخَفَّ مِنْهَا، غَيْرَ أَنَّهُ كَانَ يُتِمُّ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ))

عبد الرحمٰنؒ یو تابعی دے فرمائی چی ماته د امِ هانیؓ نه علاوه بل چا د صلوٰۃ الضحیٰ خبر ندے راکړے البته امِ هانی دا وفرمائیل چی حضورﷺ په هغه ورځ کومه ورځ چی مکه مکرمه فتح شوی وه زما کور ته تشریف راوړو غسل ئی وفرمایو او اته رکعاته ئی وکړل ،ما دد غے رکعتو نه ډیر مختصر د حضورﷺ یو مونځ ندے لیدلے لیکن د مختصر کیدو سره سره د هغے رکوع او سجده ئی پوره پوره کوله دا نه چی رکوع او سجده ئی ناقصه وه۔

فائده:د عبد الرحمٰنؒ ددی وینا سره چی د امِ هانی نه علاوه ماته دا روایت چا ندے کړے ددی سره دا لازم ندی چی دا مونځ بل چا ته نه وو معلوم ځکه چی پخپله په دی باب کښ د نورو صحابهؓ نه روایات ذکر شول،ابن جریرؒ خو فرمائی چی د صلوٰۃ الضحیٰ روایات دومره په ډیروالی سره راغلی دی چی تواتر ته رسیدلی دی او دا خو مخکښ معلومه شوی ده چی د نولسو صحابهؓ نه دا مونځ منقول دے البته عبد الرحمٰنؒ چی د چا نه تحقیق کړے وو هغوی ته به معلومات نه وو په دی کښ اشکال نشته ،

بعضِے عالمان فرمائی چی دا مونځ چی په دی حدیث کښ ئی ذکر دے دا ده چاشت مونځ نه وو بلکه د فتحے مکے شکرانه مونځ وو دا د حضورﷺ عادت مبارک وو چی د خوشحالئ په وخت به ئی شکرانه مونځ کوو دا هم ممکن ده چی ددی اته رکعاتو نه څه حصه د چاشت د مونځه وی او څه حصه د شکرانے مونځ وی،

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا كَهْمَسُ بْنُ الْحَسَنِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ: أَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحَى؟ قَالَتْ: ((لَا إِلَّا أَنْ يَجِيءَ مِنْ مَغِيبِهِ))

عبد الله ابن شقیقؒ فرمائی چی ما د حضرت عائشهؓ نه تپوس وکړو چی حضورﷺ به صلوٰۃ الضحیٰ کوو دویؓ وفرمائیل چی معمولاً خو به ئی نه کوو خو چی کله به د سفر نه واپس راتلو نو ضرور به ئی کول۔

فائده: د حضور ﷺ عادت مبارک دا وو چی مدینے منورے ته به د سحر په واخت کښ دا خلیدو او اول به ئ جومات ته تشریف یوړو او نفل به ئ وکړل ،د حضرت عائشہؓ دا جواب د معاذؓ د جواب بلکل مخلاف دے دی وجے نه عالمانو ددی مختلف توجیهات کړی دی ۔

امام بیهقیؒ دا توجیه کړی ده چی په کوم حدیث کښ نفی راغلی ده په دی کښ د دوام نفی مراد ده چی دا د کله کله کولو منافی نده یعنی ہمیشه به ئ نه کول ،او په کوم حدیث کښ چی اثبات دے په دی کښ د اکثر وختونو اعتبار دے ۔

بعضے عالمانو داسی جمع کړی دی چی د سفر د راتلو نه علاوه په عامو ورځو کښ به ئ په جومات کښ نه کول بلکه په کور کښ به ئ کول، او په دی حدیث کښ نفی خاصة په کور کښ مراد ده چی په جومات کښ به ئ هله کول کله چی به د سفر نه راغے لکه ټچی مخکښ بیان شو۔

حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَبِيعَةَ، عَنْ فُضَيْلِ بْنِ مَرْزُوقٍ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحَى حَتَّى نَقُولَ: لَا يَدَعُهَا، وَيَدَعُهَا حَتَّى نَقُولَ: لَا يُصَلِّيهَا"

ابو سعید خدریؓ فرمائی چی حضور ﷺ به کله کله صلوٰۃ الضحیٰ داسی په اهتمام سره کوو چی زمونږ به دا خیال وو چی وس به کله نه پریگدی او کله کله به ئ د فرض کیدو د یری نه یا د بل مصلحت د وجے نه داسی پریخودل چی مونږ به وی چی وس به ئ بیخی نه کوی۔

فائده: ډیر کارونه به حضور ﷺ د امت د سهولت په خیال باندی پریخودل چی د هغے ډیر مثالوه دی ، حضرت عائشهؓ فرمائی چی دحضور ﷺ به بعضے کارونه زړه غوختل خو د دی یری به ئ اهتمام نه فرمایو چی هسی نه په امت باندی فرض شی۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، عَنْ هُشَيْمٍ، أَنَا عُبَيْدَةُ، عَنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ سَهْمِ بْنِ مِنْجَابٍ، عَنْ قَرْثَعٍ الضَّبِّيِّ، أَوْ عَنْ قَزَعَةَ، عَنْ قَرْثَعٍ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُدْمِنُ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ عِنْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّكَ تُدْمِنُ هَذِهِ الْأَرْبَعَ رَكَعَاتٍ عِنْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ فَقَالَ: ((إِنَّ أَبْوَابَ السَّمَاءِ تُفْتَحُ عِنْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ فَلَا تُرْتَجُ حَتَّى تُصَلَّى الظُّهْرُ، فَأُحِبُّ أَنْ يَصْعَدَ لِي فِي تِلْكَ السَّاعَةِ خَيْرٌ)) قُلْتُ: أَفِي كُلِّهِنَّ قِرَاءَةٌ؟ قَالَ: ((نَعَمْ)). قُلْتُ: هَلْ فِيهِنَّ تَسْلِيمٌ فَاصِلٌ؟ قَالَ: ((لَا))

ابو ایوب انصاریؓ فرمائی چی حضور ﷺ به د زوال په وخت باندی څلور رکعته کول ما عرض وکړو چی تاسو ددی ډیر اهتمام کوئ حضور ﷺ وفرمائیل چی د آسمان دروازی د زوال نه د ظهر پوری کهولاو وی زما زړه غواړی چی زما یو نیک عمل په دی وخت باندی آسمان ته وخیژی ما عرض وکړو د الله رسوله ﷺ ددی په هر رکعت کښ به قرائت کوو دوی ﷺ وفرمائیل آو قرائت به کوی، ما عرض وکړو ددی په دوؤ رکعتو به سلام گرزوو دوی ﷺ عرض وکړو نه څلور واړه به په یو سلام سره کول پکار دی۔

فائده: دی مونځ ته صوفیان صلوٰۃ الزوال وائی او دا ددی په نزد باندی مستحب دے ،په مونځونو کښ د زوال د مونځ هم شمار شته ،لیکن د اکثر محدثینو په نزد باندی دا د ظهر سنت دی ځکه چی د زوال نه بعد داسی نفل نشته چی حضور ﷺ به ہمیشه کول ،بهر حال د دواړو قولو موافق ددی حدیث او د

راوټلونکی حدیث د صلوٰۃ الضحیٰ سره تعلق نشته ،دی وجے نه د امام ترمذیؒ دا حدیث په صلوٰۃ الضحیٰ کښ ذکر کول مشکل دی ،لیکن مشرانو ددی مختلف توجیهات بیان کړی دی ،

اول چونکه ددی وخت د چاشت د مونځ انتهاء وه ددی وجے نه ئی ذکر کړو او د مستقل باب ضرورت نشته، بعضے خلق وائی چی دا د کاتب د غلطۍ په وجه دلته ذکر شوی دی ،کنی ددی اصل ځائے تیر شوے باب وو کنے په بعضو نسخو کښ دلته نشته په اول باب کښ دی ،نور هم مختلف توجیهات دی -

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ ، حَدَّثَنَا عُبَيْدَةُ، عَنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ سَهْمِ بْنِ مِنْجَابٍ، عَنْ قَزَعَةَ، عَنْ قَرْثَعٍ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ
حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى ،أَنَا أَبُو دَاوُدَ ،: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُسْلِمِ بْنِ أَبِي الْوَضَّاحِ، عَنْ عَبْدِ الْكَرِيمِ الْجَزَرِيِّ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ السَّائِبِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي أَرْبَعًا بَعْدَ أَنْ تَزُولَ الشَّمْسُ قَبْلَ الظُّهْرِ وَقَالَ: ((إِنَّهَا سَاعَةٌ تُفْتَحُ فِيهَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ، فَأُحِبُّ أَنْ يَصْعَدَ لِي فِيهَا عَمَلٌ صَالِحٌ))

عبد الله ابن السائبؓ فرمائی چی حضورﷺ به د زوال نه وروستو د ظهر نه مخکښ څلور رکعته کول او دا به ئی فرمائیل چی دا وخت د آسمان دروازی کحولاولے کیږی نو زما زړه غواړی چی زما یو نیک عمل د الله تعالیٰ بارګاه ته ورسی۔

فائده: او د مانځه نه ډیر بهتر به کوم نیک عمل وی چی دا د ټولو عملونو نه بهتر دے ،د حضورﷺ ارشاد دے چی زما د سترګ یخوالے په مونځ کښ دے بل حدیث کښ دی چی مونځ کونکے د الله تعالیٰ سره سرګوشی/راز نیاز کوی ۔

حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَلِيٍّ الْمُقَدَّمِيُّ، عَنْ مِسْعَرِ بْنِ كِدَامٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ ((كَانَ يُصَلِّي قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعًا، وَذَكَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيهَا عِنْدَ الزَّوَالِ وَيَمُدُّ فِيهَا))

حضرت علیؓ به د ظهر نه مخکښ څلور رکعته کول او دا به ئی فرمائیل چی حضورﷺ به دا کول او اوګد قرائت به ئی کوو ۔

فائده: امام غزالیؒ په احیاء العلوم کښ لکلی دی چی په دی څلورور رکعتو کښ بهتره داده چی سورة بقره اوئیلے شی او کنه نو داسی سورة چی د سلو آیتو نه زیات وی چی د حضورﷺ اتباع په اوګد قرآئت کښ راشی۔

باب صلوٰۃ التطوع فی البیت

د حضورﷺ په کور کښ د نفلونو کولو بیان

فائده: نفل په کور کښې کول افضل دی د حضورﷺ نه قولًا او فعلًا دا مضمون رغلے دے او په دی کښې ډیر مصلحته دی ،یو دا چی د مونځ کولو سره به په کور کښې برکت او نوارانیت رازی ،د کور خلق به مونځ ازده کوی او ددی به هم شوق پیدا کیږی ،د حضورﷺ یو حکم په بل روایت کښې راغلے دے چی د مانځه څه حصه په کور کښې کوئ او د کور نه قبرستان مه جوړوئ یعنی چی څنګه قبرستان کښې مونځ نه وی دغه شان په کور کښې نه وی یا لکه چی څرنګ مړی مونځ نه کوی دغه شان تاسو هم په کور کښې د هغه مشابه جوړ شئ ،په دی باب کښې مصنف صرف یو حدیث ذکر کړے دے۔

حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ ،حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ حَرَامِ بْنِ مُعَاوِيَةَ، عَنْ عَمِّهِ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّلَاةِ فِي بَيْتِي وَالصَّلَاةِ فِي الْمَسْجِدِ قَالَ: ((قَدْ تَرَى مَا أَقْرَبَ بَيْتِي مِنَ الْمَسْجِدِ، فَلَأَنْ أُصَلِّيَ فِي بَيْتِي أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُصَلِّيَ فِي الْمَسْجِدِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ صَلَاةً مَكْتُوبَةً)

عبد الله ابن سعدؓ فرمائی چی ما دحضورﷺ نه تپوس وکړو چی نفل په کور کښې کول افضل دی کنه په جومات کښې نو حضورﷺ وفرمائیل چی ته ګوری چی زما کور جومات ته څومره نزدے دے او جومات ته په راتلو کښې څه قسم رکاوټ نشته باوجود ددی د فرضو نه علاوه نور مونځ زما په کور کښې خو ښ دے۔

فائده: د نفلو بنیاد په پټ والی باندی دے ددی وجے دد ے په کور کښې کول افضل دی چی خه پټ والے پکښې راشی او ریا کاری لری شی البته فرض وغیره ددی پټ والے مناسب ندے هغه په جومات کښې کول بهتر دی لکه د طواف رکعتونه او د تراویح مونځ وغیره ،

تراویح اګر چی فرض ندی خو د رمضان المبارک خصوصی امتیاز دے او په دی کښې جماعت مسنون دے او ددی سره سره هغه مونځ کوم چی په جماعت سره ادا کیږی لکه کسوف چی ددی مونځونو اظهار مقصود دے ددی وجے دا په جومات کښې کول پکار دی ۔

باب ما جاء في صوم رسول الله

د حضورﷺ د روژے بیان

فائده: ددی باب نه مقصد د حضورﷺ د نفل روژو بیان دے ددویﷺ عادت مبارک د ډیرو روژو نیولو وو کله کله به دویﷺ مسلسل څو ورځے روژے نیولی د روژے فضیلتونه د حدیثو په کتابونو کښې ډیر زیات راغلی دی د الله تعالیٰ په هر یو حکم کښې بیشماره حکمتونه وی د انسان دومره عقل کوم دے چی د الله تعالیٰ حکیم ذات د هر حکم حکمت معلوم کړی ،د هر سړی چی څومره قدرے د عقل پرواز دے هغه همرے د الله تعالیٰ د احکامو دینی او دنیاوی فائدو ادراک کولے شی لیکن د الله تعالیٰ حکمتونه ددی نه هم اوچت دی ،نو څنګه چی د هر حکم کښې په زرګونو حکمتونه دی دغه شان په روژه کښې هم په زرګونو مصلحتونه دی ،

یو د هغې نه د همدردئ جزبه دی چی انسان پخپله وږ ے وه نو د بل د لوږ ے ورسره احساس وی نو د وږی د امداد جذبه ئې پیدا کیږی ،بله دا چی روژه د قوت بهیمیه او شهوانیه زور کموی ،او دا قوت چی

کله زور کوی نو داسی کارونه بیا سرزد کیږی چې د دنیا او آخرت د رسوائی سبب وی لکه مولانا رومی فرمائی:

این نه عشق است آن که درمردم بود   ایں فساد خوردنِ گندم بود

یعنی دا عشق ندے کوم چې نن صبا په دی خلقو کښ دے دا خو د خېټې د ډیری ډکولو فساد دے چې ناپاک حرکتونه خه سوچوی ،خو چې کله د لوږے غلبه شی نو بیا هر پاتی وی ،دی وجے نه حدیث کښ رازی چې د چا د نکاح وس نه وی نو هغه له پکار دی چې ډیرے روژے نیسے چې دا شهوت ماتوی ۔

ددی نه علاوه یو لوی مصلحت ئی د روحانی قوت دے ،د روژے نه روحانیت ته ډیره ترقی میلاویږی ددی وجے نه په هر مذهب کښ په څه نه څه صورت کښ د روژے وجود شته او په حقه مذهبونو کښ د آدمؑ نه د روژے مشروعیت راغلے دے ،د انبیاءو علیهم السلام معمول په روژو کښ مختلف وو ،حضرت نوحؑ به دولس میاشتے رروژه وه،دحضرت داؤدؑ معمول د یوے ورځے د روژے او د بلے د افطار وو،د حضرت عیسیٰؑ معمول د یوے ورځے د روژے او د دوؤ ورځو د افطار وو ،دغه شان د نورو پیغمبرانو مختلف معمولات وو۔

د حضور ﷺ معمول په دی کښ هم نا اشنا وو چې د وخت د مصلحت سره به ئی کله کله لګاتار روژے نیولی او کله کله به ئی افطار کوو،او ددی وجه ښکاره ده چې د روژے مثال د دوائی دے او د وخت په مناسبت سره په دوائی کښ کمے زیاتے کول پکار وی ،نو د حضور ﷺ بعضے معمولات مصنفؒ ذکر کړی دی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ، عَنْ صِيَامِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: «كَانَ يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ قَدْ صَامَ، وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ قَدْ أَفْطَرَ» . قَالَتْ: «وَمَا صَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا كَامِلًا مُنْذُ قَدِمَ الْمَدِينَةَ إِلَّا رَمَضَانَ»

عبد الله ابن شقیقؓ فرمائی چې ما د حضرت عائشهؓ نه د حضور ﷺ د روژو باره کښ تپوس وکړو نو دویؓ وفرمائیل چې حضور ﷺ به کله کله داسی روژے نیولے چې زمونږ به دا خیال پیدا شو چې په دی میاشت کښ هډو افطار نه کوی او کله که به ئی افطار شروع کړو نو زمونږ به دا خیال راغے چې په دی میاشت کښ هډو روژه نه نیسی(خو دا ئی هم ندی کړی چې ټوله میاشت ئی بغیر روژی نه وتی وی ،د حضور ﷺ ددی حدیث تفصیل په ۳ نمبر حدیث کښ راروان دے۔

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ صَوْمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «كَانَ يَصُومُ مِنَ الشَّهْرِ حَتَّى نَرَى أَنْ لَا يُرِيدَ أَنْ يُفْطِرَ مِنْهُ، وَيُفْطِرُ مِنْهُ حَتَّى نَرَى أَنْ لَا يُرِيدَ أَنْ يَصُومَ مِنْهُ شَيْئًا. وَكُنْتَ لَا تَشَاءُ أَنْ تَرَاهُ مِنَ اللَّيْلِ مُصَلِّيًا إِلَا رَأَيْتَهُ مُصَلِّيًا، وَلَا نَائِمًا إِلَا رَأَيْتَهُ نَائِمًا»

د حضرت انسؓ نه چا د حضور ﷺ د روژو باره کښ تپوس وکړو دویؓ وفرمائیل چې د حضور ﷺ په دی باره کښ عادت مبارک مختلف وو په یوه نیمه میاشت کښ به ئی دومره ډیری نیولی چې خیال به پیدا شو چې د افطار اراده ئی هډو شته نه ،او په بعضی میاشت کښ به ئی داسی مسلسل افطار کوو چې مونږ به وی چې

هڅو د روژو اراده ئ نشته ،د حضورﷺ عادت مبارک داسی وو که تابه دویﷺ د شپې په خوب باندی لیدل وغوښتل نو لیدلې به دِ شو او که په مانځه باندی لیدل به دِ وغوښتل نو هم به دِ لیدلې شو ـ

فائده: یعنی د حضورﷺ عادت مبارک نه ټوله شپه د اوده کیدو وو او نه ټوله شپه د رونړولو ،یعنی د نفس د رعایت مناسب به ئ په دیرمیانه حال سره د عباداتو اهتمام فرمایو،دی وجے نه به د حضورﷺ د شپې اوده لیدل هم ممکن وو ځکه چې آرام به ئ فرمایو او د مانځه په حالت باندی به هم لیدل هم ممکن وو چې بعضې حصه به ئ په مونځه کښ تیریدله،

بعضې عالمانو ددی دا مطلب بیان کړے دے چې عادت مبارک په دی کښ مختلف وو چې کله به ئ د شپې په اول کښ نفل کول کله په درمیان او کله آخر کښ وی وجے چا چې په به په د شپې په څه وخت کښ حضورﷺ په خوب یا مونځه باندی لیدل غوښتل نو د لیدلو امکان به ئ وو،

په دی ترتیب کښ دوه مصلحتونه په ذهن کښ رازی، اول دا چې عبادت چونکه د انسان د وجود اصلی مقصد دے او د الله تعالیٰ د رضا سبب دے نو چې د شپې هره یوه حصه کله کله د دی په برکاتو باندی بختوره شی او چې د قیامت په ورځ باندی د شپې هری یوی حصے د ځان سره عبادت محفوظ کړے وی۔

دویم دا چې کله عبادت په یو وخت باندی شی نو دا عادت شان جوړ شی او د مشقت هغه مزه پکښ نه وی نو چې کله ددی وختونه بدلیږی رابد لیږی نو عادت نه جوړیږی ـ

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ قَالَ: سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ مَا يُرِيدُ أَنْ يُفْطِرَ مِنْهُ، وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ مَا يُرِيدُ أَنْ يَصُومَ مِنْهُ، وَمَا صَامَ شَهْرًا كَامِلًا مُنْذُ قَدِمَ الْمَدِينَةَ إِلَّا رَمَضَانَ»

د حضرت ابن عباسؓ نه هم د حضورﷺ دا عادت مبارک منقول دے چې په بعضو میاشتو کښ به ئ په کثرت سره روژے نیولی چې زمونږ به خیال راغے چې د افطار راده ئ نشته او د رمضان نه بغیر بله یوه میاشت ئ هم پوره په پوره روژے نه نیولی۔

فائده: د حضورﷺ دا معمول په ډیرو روایاتو تیر شوے دے،ددی معمول دوه وجے دی۔

اول خو دا چې دباب په اول کښ ذکر شول چې د روژه په حقیقت کښ یو طریاق دے ، او کله کله د روحانی او وقتی مصالحو دپاره په طور د دوائ هم استعمالولے شی ،په دی صورت کښ بیا د دوائی په عامو اصولو باندی کله کله د مسلسل استعمال ضرورت وی او کله خاص ضرورت نه وی یا لګ وی ،او کله کله ضرورت وی هم خود نورو عوارضو د وجے نه دوائ پریخودلے شی چې دا معلومی خبری دی،

نو د حضورﷺ پشان روحانی طبیب به بل څوک وی؟ دی وجے نه حضورﷺ به د وقتی ضرورت موافق کله کله مسلسل روژے نیولی او کله به ئ افطار کوو،د امت د پاره چې هم کوم خلق روحانی طبیبان دی دوی د روژے د پاره وختونه ټاکلے شی او څوک چې طبیبان نه دی دوی د بل طبیب د علاج موافق عمل کوی۔

دویمه وجه دااده چی د حضورﷺ بعضی خصوصی معمولات وو مثلاً د ګل او زیارت د ورځې روژې په میاشت کښ درې روژې ،د ایام بیض روژې ،د محرم د لسمی،د ذی الحجه د لسمی،وغیره وغیره نو دا معمولات به کله کله د سفر وغیره د وجې نه پاتی شول نو هر کله چی به فراغت میلاؤ شو نو د قضا په طور باندی به حضورﷺ د غه روژې نیول شروع کړل نو د روژو یوه سلسله به جوړه شوه،ځکه چی د حضورﷺ عادت مبارک دا وو چی کوم معمول به ئی شروع کړو نو بیا به ئی په هغې باندی دوام (همیشګیری) کوله دی وجې پاتی معمولات به ئی قضا راګرزول۔ اللهم وفقنا اتباعه

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: «مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ إِلَّا شَعْبَانَ وَرَمَضَانَ» قَالَ أَبُو عِيسَى: "هَذَا إِسْنَادٌ صَحِيحٌ وَهَكَذَا قَالَ: عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ. وَرَوَى هَذَا الْحَدِيثَ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَيُحْتَمَلُ أَنْ يَكُونَ أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَدْ رَوَى الْحَدِيثَ، عَنْ عَائِشَةَ وَأُمِّ سَلَمَةَ جَمِيعًا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"

حضرت ام سلمهؓ فرمائی چی ما حضورﷺ د رمضان او شعبان نه علاوه دوه میاشتې وره روژو باندی ندې لیدلې۔

فائده: دا حدیث د تیر شوو ټولو حدیثو په ظاهره باندی خلاف دې،تر دې ځائې خو دا روایات وو چی حضورﷺ د رمضان نه علاوه بله میاشت مسلسل روژې ندی نیولی ،خو په دی حدیث کښ ئی ورسره شعبان هم ملګرې کړو ،

ددی حدیثونو په تطبیق کښ عالمانو مختلف طریقې بیان کړی دی ۔

اول دا چی په حدیث کښ تمام شعبان مبالغةً وئیلې شوی دی د حضورﷺ عادت مبارک د اکثر شعبان د روژو نیولو وو ،لکه په راتلونکی حدیث کښ د عائشهؓ نه پخپله ددی تصریح راغلی ده۔

دویم دا چی ممکن ده چرته حضورﷺ د شعبان ټولی روژې هم نیولی وی او د هغې ام سلمهؓ ته خبر وی او نور چا ته نه وی۔

دریمه دا چی د حضرت عائشهؓ او ابن عباسؓ روایاتو کښ د عادت نفی ده ،چی د حضورﷺ عادت دا وو چی د رمضان نه علاوه بله میاشت به ئی کامله روژې نه نیولی،او اتفاقًا چرته د یوی میاشتی ټولی روژې نیول ددی منافی خو نه دی ځکه که چرته یو کال حضورﷺ د شعبان روژې هم ټولی نیولی وی د څه مصلحت د وجې نه نو عائشهؓ هغه نه بیانوی ،او ام سلمهؓ عادت نه بیانوی خو فرمائی چی نیولی ئی دی او ما لیدلې دې نو څه اشکال پاتی نه شو۔

څلورمه دا چی کیدې شی حضورﷺ په اول کښ د شعبان ټولی روژې نیولی خو بیا ئی د ضعف د وجې نه کمی کړی وی نو چا چی اول زمانه نقل کړی هغې ټوله میاشت بیانوی ځکه چی ضعف خو عارض دې او چا چی اخر زمانه نقل کړی په دی وجه چی دا آخرې فعل دې نو هغوی د میاشتی اکثر ذکر کوی خو

بعضو ددی اُلټه ذکر کړی دی چی اول زمانه کښ به ئی اکثر نیولی او په اخر زمانه کښ ئی ټوله میاشت روژه نیول شروع کړل۔

حَدَّثَنَا هَنَّادٌ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «لَمْ أَرَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ فِي شَهْرٍ أَكْثَرَ مِنْ صِيَامِهِ لِلَّهِ فِي شَعْبَانَ، كَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ إِلَّا قَلِيلًا بَلْ كَانَ يَصُومُهُ كُلَّهُ»

حضرت عائشهؓ فرمائی چی ما حضورﷺ د رمضان نه علاوه په بله میاشت کښ د شعبان هومرے په روژو ندے لیدلے د شعبان په اکثر حصه کښ به حضورﷺ روژه نیوله بلکه نزدے ټوله میاشت به ئی روژه نیوله۔

فائده:دلته عائشهؓ د ټولے میاشت شعبان د روژو وینا ښکاره خبردارے کوی چی دلته مبالغه مراد ده،په شعبان کښ د ډیرو روژو نیولو وجه پخپله حضورﷺ فرمائی چی په دی میاشت کښ هغه ورځ هم ده کومه کښ چی د ټول کال عملونه د الله تعالیٰ په دربار کښ پیش کیږی زما زړه غواړی چی زما عملونه الله تعالیٰ ته په داسی شان سره پیش شی چی زما روژه وی ،ددی نه علاوه نورے وجے هم په حدیثونو کښ راغلی دی ،او دا هم ممکن ده چی په بعضے وخت کښ یوه وجه وی او بل وخت کښ بله وجه وی او ډیرے وجے جمع کیدل هم ،د عائشهؓ نه نقل دی چی د حضورﷺ معمول دا وو چی په هره میاشت کښ به ئی درے ورځے روژے نیولی هغه به هم کله کله د څه وجے نه پاتی شوی نو د ټوله مجموعه به بیا حضورﷺ په شعبان کښ نیولی،او ددی سره په نورو روایاتو کښ د زیارت او څلورمے/گل روژه هم د حضورﷺ معمول نقل شوے دے نو په دی صورت کښ خو چی دوه درے میاشتے د معمول روژے پاتی شی نو هم به تری روغه میاشت جوړه شی۔

په یو روایت کښ دی چی د رمضان د تعظیم په وجه باندی د شعبان روژے افضل دی یعنی څنگه چی د فرض مونځ نه مخکښ سنت کولے شی دغه ان د رمضان د فرض روژو نه مخکښ نفلی روژے شوی،اگر چی حضورﷺ د ضعف/کمزورئ د خیال د وجے نه د رمضان نه مخکښ روژے نیول منع کړی دی ،خو په حضور ﷺ باندی به د کمزورئ اثر نه وو دی وجے کله کله به ئی پرله پسی روژے نیولی ،

په یو حدیث کښ راغلی دی چی د حضورﷺ نه د شعبان د روژو باره کښ تپوس وکړے شو نو حضورﷺ جواب ورکړو چی په دی میاشت کښ د هر هغے کس نوم د مړو په لسټ کښ لیکلے کیږی کوم کس چی به په دی کال کښ مړ کیږی نو زما زړه غواړی چی زما نوم په مړو کښ په داسی حال کښ ولیکلے شی چی زما روژه وی ،

بعضے عالمان وائی شی دحضورﷺ معمول د په هر میاشت کښ د مخصوصو روژو عادت وو او په رمضان کښ خو نفلی روژه نیولے نه شی نو ددی وجے د رمضان برخه روژے به حضورﷺ په شعبان کښ ونیولی نو په شعبان کښ به د دوؤ میاشتو روژے راغلی نو ځکه به ئی اکثره حصه روژه شوه۔

حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ دِينَارٍ الْكُوفِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، وَطَلْقُ بْنُ غَنَّامٍ، عَنْ شَيْبَانَ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ مِنْ غُرَّةِ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَقَلَّمَا كَانَ يُفْطِرُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ»

عبد الله ابن مسعودؓ فرمائی چی حضورﷺ به په هره میاشت کښ اولی دری ورځی روژی نیولی او د جمعې په ورځ به ئی ډیر کم افطار کوو ۔

فائده: په هره میاشت کښ د دریو روژو نیولو ترغیب په ډیرو کتابونو کښ راغلے دے ،او چونکه د هرے نیکۍ ثواب لس چنده دے نو د دریو روژو ثواب د میاشتی د روژو شو په دی حساب سره به سړے ټول عمر د روژه دار په حکم کښ وی ، او په دغه دریو ورځو په تعین کښ مختلف روایات دی خو څه مخالفت نشته ځکه چی حضورﷺ به کله د میاشت په شروع کښ روژے نیولی کله کله به د هر ګل او زیارت روژے نیولی کله کله به ئی په دیارلسمه،څوارلسمه او پنځلسمه نیولی دغه شان نور په مختلف وختونو کښ به ئی نیولی ،دی وجے نه د عائشةؓ په راتلونکی روایت کښ دی چی مقرر وخت ئی نه وو ،د ابن عباسؓ په روایت کښ دی چی حضورﷺ به د ایام بیض روژے په سفر او حضر کښ نه پریخودلی ۔

بل مضمون په دی حدیث کښ ی جمعې د روژے متعلق دے،ددی روایت نه د جمعې د ورځے د روژے اهتمام معلوم شو خو په نورو روایاتو کښ د جمعې د تخصیص نه منع راغلی ده،ددی وجے نه بعض عالمان د بره حدیث د وجے ددی د مستحب کیدو قائل دی او بعضے د د ممانعت دوجے نه د مکروه والی قائل دی ،د احنافو هم دوه قوله دی۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ يَزِيدَ الرِّشْكِ قَالَ: سَمِعْتُ مُعَاذَةَ، قَالَتْ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ: أَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ؟ قَالَتْ: «نَعَمْ». قُلْتُ: مِنْ أَيِّهِ كَانَ يَصُومُ؟ قَالَتْ: «كَانَ لَا يُبَالِي مِنْ أَيِّهِ صَامَ» قَالَ أَبُو عِيسَى: "يَزِيدُ الرِّشْكُ هُوَ يَزِيدُ الضُّبَعِيُّ الْبَصْرِيُّ وَهُوَ ثِقَةٌ رَوَى عَنْهُ شُعْبَةُ، وَعَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، وَحَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْأَئِمَّةِ، وَهُوَ يَزِيدُ الْقَاسِمُ وَيُقَالُ: الْقَسَّامُ، وَالرِّشْكُ بِلُغَةِ أَهْلِ الْبَصْرَةِ هُوَ الْقَسَّامُ"

معاذةؓ فرمائی چی ما د حضرت عائشةؓ نه تپوس وکړو چی حضورﷺ به هره میاشت درے روژے نیولی ؟ دویؓ وفرمائیل نیولی به ئی ۔ما بیا تپوس وکړو چی په کومو ورځو کښ به ئی نیولی ؟ دویؓ وفرمائیل د دی به ئی څه اهتمام نه وو کله چی به موقع میلاؤ شوه۔

فائده: چی کله کله به داسی وو چی د مخصوص ورځو اهتمام به نه وو ،او کله کله به په مخصوص ورځو کښ وو مثلاً د میاشت اول درے ورځے ،کله به د میاشت اخرے درے ورځے،کله کله به ګل،پنځمه شورو، کله به پنځمه، شورو،زیارت ،کله کله به خالی ،اتوار،ګل ،ددی متعلق مختلف روایات راغلی دی ددی وجے عائشةؓ د تعین نه انکار وکړو۔

حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ ثَوْرِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ رَبِيعَةَ الْجُرَشِيِّ عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ [ص:]: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَحَرَّى صَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ»

حضرت عاشةؓ فرمائی چی حضورﷺ به د ګل او زیارت د ورځے د روژے اهتمام کوو۔

فائده: بعضو روایاتو کښ ددی ورځو د اهتمام وجهے هم بیان شوی دی،یوه وکه د ابوهریرةؓ په حدیث کښ رازی چی دا دواړه ورځے د عملونو د پیشۍ دی ، دګل د ورځے متعلق په مسلم شریف کښ روایت راغلے

دے چه زه د پیر په ورځ پیدا شوے یم او د پیر په ورځ په ما باندی قرآن نازل شوے دے ،یو روایت کښ دی چی د گل او زیارت په ورځ باندی الله تعالیٰ د هر مسلمان ښښخنه کوی (په شرط د قاعدو باندی) خو د هغه دوو کسانو بخښنه موقوف کوی د چا چی یو بل سره ورانه وی تر څو چی روغه وکړی۔

ثَنَا أَبُو مُصْعَبٍ الْمَدِينِيُّ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «مَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ فِي شَهْرٍ أَكْثَرَ مِنْ صِيَامِهِ فِي شَعْبَانَ»

حضرت عائشةؓ فرمائی چی حضورﷺ به د شعبان نه علاوه په بله میاشت کښ زیاتی روژے نه نیولی ۔

فائده:ددی تفصیلی بیان تیر شو۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى ،حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ رِفَاعَةَ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ((تُعْرَضُ الأَعْمَالُ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالخَمِيسِ فَأُحِبُّ أَنْ يُعْرَضَ عَمَلِي وَأَنَا صَائِمٌ))

حضرت ابوهریرةؓ فرمائی چی حضورﷺ ارشاد وفرمایه چی اعمال د گل او زیارت په ورځ باندی د الله تعالیٰ په دربار عالی کښ پیش کولے شی زما زړه غواړی چی زما عملونه د روژے په حالت کښ پیش کړے شی ۔

فائده: چی قبولت ته ډیر نزدی شی ،د عملونو په پیش کیدو باندی دا اشکال دے چی د مسلم شریف په روایت کښ دی چیچ عملونه سحر او ماښام د الله په دربار کښ پیش کولے شی نو بیا د گل او زیارت څه مطلب ؟ نو دا دواړه روایات محدثینو په مختلفو طریقو سره جمع کړی دی ،

اسان دا چی د ورځے شپی عملونه روزانه پیش کیږی د شپی جدا او د ورځے جدا بیا د تفصیل د پاره په هفتے کښ دوه پیرے ،او د ټول کال عملونه بیا په شعبان او شب قدر کښ پیش کیږی ،او په باربار پیشګۍ کښ دا مصلحت دے چی د نیکانو اعمالو باندی د فرشتو مخکښ د شرافت اظهار وشی چی دوی د انسان پیدائش په وخت کښ دا اشکال کړے وو چی دوی به خون او فساد کوی دی وجے د نیکو اعمالو الله تعالیٰ د فرشتو مخکښ د فخر دپاره پیش کوی ، کنه نو الله تعالیٰ د انسان د هر عمل نه په هر وخت کښ خبردار دے د پیشګۍ ضرورت نشته۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، وَمُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ خَيْثَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: ((كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُ مِنَ الشَّهْرِ السَّبْتَ وَالأَحَدَ وَالاثْنَيْنَ، وَمِنَ الشَّهْرِ الآخَرِ الثُّلَاثَاءَ وَالأَرْبَعَاءَ وَالخَمِيسَ))

حضرت عائشةؓ فرمائی چی حضورﷺ به کله کله د هرے میاشتے روژے داسے هم نیولی چی هفته،اتوار او گل او بله میاشت کښ منگل،شورو او زیارت۔

فائده: دی دپاره چی د هفتے په ټولو ورځو کښ روژه راشی ،او د جمعے ورځ به ئی قصدًا نه نیوله ځکه چی په بعضو روایاتو کښ دیته د اختر ورځ وائی او نور مشغولا هم په دی کښ ډیره وی یا ددی په دی روایت کښ ذکر نشته بل روایت کښ ئی ذکر شته۔

حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ،نَا حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: ((كَانَ عَاشُورَاءُ يَوْمًا تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا افْتُرِضَ رَمَضَانُ كَانَ رَمَضَانُ هُوَ الْفَرِيضَةُ وَتُرِكَ عَاشُورَاءُ، فَمَنْ شَاءَ صَامَهُ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ))

حضرت عائشةؓ فرمائی چی د عاشوراء روژه به په جاهلیت کښ قریشو نیوله او حضورﷺ به هم د هجرت نه مخکښ (نفلی) نیوله لیکن چی مدینې ته ئی تشریف یوړو نو پخپله به ئی هم اهتمام کوو او امت ته هم وجوباً حکم وفرمایه ،خو چی کله د رمضان روذے فرض کړے شوی نو بیا دعاشوراء د روژے فرضیت منسوخ شو،او استحباب ئی باقی دے ۔

فائده: د عاشوراء د ورځې په فضیلت کښ مختلف روایات دی ،د مسلم شریف په روایت کښ دی چی د عرفې د روژے سره د دوو کالو ګناه معاف کیږی او د عاشوراء د روژے سره د یو کال۔

بعضې شارحین وائی چی د عاشوراء په ورځ باندی د آدمؑ توبه قبوله شوی وه ،او د حضرت نوحؑ کشتئ کنارے ته راغلی وه،او حضرت موسیٰؑ ته د فرعون نه خلاصے میلاؤ شوے وو،او فرغون غرق شوے وو،په دی ورځ باندی عیسیٰؑ پیدا شوے وو،او په دی ورځ باندی اسمان ته اوچت شوے وو، په دی ورځ باندی یونسؑ ته د مهی د خیټې نه خلاصے میلاؤ شوے وو، په دی ورځ باندی د یونسؑ قوم ته غلطی معاف شوی وه، په دی ورځ باندی باندی یوسفؑ د کوهی نه راویستلے شوے وو، په دی ورځ باندی ایوبؑ ته د بیمارئ نه صحت میلاؤ شوے وو، په دی ورځ باندی ادریسؑ اسمان ته اوچت کړے شوے وو، په دی ورځ باندی د ابراهیمؑ پیدائش شوے وو، په دی ورځ باندی سلیمانؑ ته بادشاهی میلاو شوی وه ددی نه علاوه نور هم ډیر کرامات ددی ورځ د سیر په کتابونو کښ لیک دی۔

د محدث په حیثت باندی په دی کښ کلام شته خو ډیر کرامات په صحیح طور باندی ثابت دی ،فرمائی چی وحشی څناور هم په دی ورځ باندی روژه نیسی الله اکبر څومره قدرے مبارکه ورځ ده مونږ ئی په لوبو ټوقو کښ ضائع کړو ، کیدے چی ددی وجهو نه په زمانه جاهلیت کښ ددی روژه مشهوره وه،چی د اسلام نه اول به قریشو ددی روژه نیوله ،حضورﷺ چی کله مدینې ته هجرت وکړو نو هلته اهل کتابو هم د روژه نیوله نو حضورﷺ د دوی نه تپوس وکړو چی تاسو دا ولی نیسئ دوی ووئیل الله تعالیٰ په دی ورځ باندی موسیٰؑ له خلاصے ورکړے وو او فرغون ئی غرق کړے وو چی ددی په وجه موسیٰؑ س شکرانے روژه ونیوله،نو حضورﷺ وفرمائیل مونږ خو ستاسو نه د موسیٰؑ په اتباع کښ ډیر مستحق یو، نو حضورﷺ پخپله هم دا روژه ونیوله او امت ته ئی هم ددی حکم وکړو، په مسلم شریف کښ دا قصه ذکر ده،ددی وجهے نه د احنافو په نزد باندی دا روژه فرض وه خو چی رمضان فرض شو نو ددی فرضیت منسوخ شو، استحباب او د یو کال ګناه معاف کیدل وس هم باقی دی۔

مسئله: د عاشوراء روژه اصل کښ د لسم تاریخ ده لیکن حضورﷺ به په اول کښ د اهل کتابو موافقت کوو چی ددی مذهب خو په هر صورت باندی اسمانی وو،او د مشرکینو د مذهب نه غوره وو ،لیکن په اخیر کښ د اهل کتابو د مخالفت فعلًا او قولًا اهتمام وکړے شو چی دا په ډیرو وجهو سره ضروری وو دی

وچے نه چرته یو صحابه ددی باره کښ تپوس وکړو نو حضور ﷺ وفرمائیل چی که زه آئنده کال ژوندے ووم نو د نهمے ورځے روژه به هم نیسم ،او بل حدیث کښ دی چی د یهودو مخالفت کوئ نهمه یا یوولسمه روژه ورسره نیسئ یعنی دوه نیسئ نو تشبه به نه وی،ددی وجهے یواځی د عاشوراء روژه نیول ندی پکار ،پکار خو دادی چی د نهم تاریخ ورسره ملگری کړی چی په دواړو روایاتو عمل وشی او که دا ملاؤ نه شی نو بیا دی یوولسمه ورسره ونیسی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ، أَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخُصُّ مِنَ الأَيَّامِ شَيْئًا؟ قَالَتْ: ((كَانَ عَمَلُهُ دِيمَةً، وَأَيُّكُمْ يُطِيقُ مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطِيقُ))

علقمةؓ فرمايي چی ما د حضرت عائشةؓ نه تپوس وکړو چی حضور ﷺ به ورځے د عبادت دپاره خاص کولی دوئ وفرمائیل نه ،د حضور ﷺ عبادت به دائمی وو ،او په تاسو کښ څوک هغه طاقت لری کوم چی حضور ﷺ لرلو۔

فائده: یعنه یو عبادت به ئی د یوے ورځے پوری مخصوص کوو نه چی گویا د گل په ور ځ روژه نیسی او افطار نه کوی او د گل نه علاوه په بله ورځ باندی روژه نه نیسی داد دواړه خبری نه وی ،البته دا خبره وه چی حضور ﷺ به کوم کار شروع کړو هغه به ئی همیشه کوو ،او تاسو خو داسی مداومت نشئ کولے څومره چی به حضور ﷺ کوو،کوم معمولات چی به ۱اتی شول حضور ﷺ به د هغے قضا کوله لکه چی د شعبان د روژو په بیان کښ تیر شول۔

خلاصه دا چی په دی حیثیت باندی تخصیص نه وو چی دا عمل به په دی ورځ باندی کیږی او بله ور ځ نه البته د معمولاتو پوره کولو به ئی خاص اهتمام وو چی پکښ د خاص ورځو روژے هم داخلی دی ،په دی تقریر باندی دا اشکال پاتی نشو چی د حضرت عائشةؓ په روایت کښ د گل او زیارت ورځے اهتمام تیر شو، حافظ ابن حجرؒ فرمائی چی دا سوال جواب د هغے دریو روژو متعلق دی کومے چی به حضور ﷺ هره میاشت نیولی د کومو ذکر چی مخکښ تیر شو،په دی صورت کښ اشکال نشته۔

حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ، أَنَا عَبْدَةُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدِي امْرَأَةٌ فَقَالَ: ((مَنْ هَذِهِ؟)) قُلْتُ: فُلَانَةُ لَا تَنَامُ اللَّيْلَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((عَلَيْكُمْ مِنَ الْأَعْمَالِ مَا تُطِيقُونَ، فَوَاللَّهِ لَا يَمَلُّ اللَّهُ حَتَّى تَمَلُّوا))، وَكَانَ أَحَبَّ ذَلِكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي يَدُومُ عَلَيْهِ صَاحِبُهُ

حضرت عاشةؓ فرمائی چی حضور ﷺ یو پیره تشریف راوړو نو زما سره یوه زنانه ناسته وه،حضور ﷺ تپوس وکړو چی دا څوک ده؟ ما ووئیل دا فلانئ ځځه ده چه ټوله شپه خوب نه کوی ،حضور ﷺ وفرمائیل نفل دومره کول پکار دی د څومره چی طاقت وی ځکه الله تعالیٰ په ثواب ورکولو ستړے کیږی نه تر دے چی تاسو ستړی شئ،بیا ئی وفرمائیل د حضور ﷺ هغه عمل ډیر خوښ وو په کوم چی سړے دوام کولے شی ۔

فائده:دا صحابیه حضرت حولاءؓ وه،په صحابهؓ کښې د عبادت جذبه وه د حدیث په کتابونو کښې ډیرے قصے داسې قسم ذکر دی چې ددې حضراتو شوق به دوی په ډیره مجاهده باندې مجبوره کول مگر حضورﷺ به د اعتدال نصیحت کوو ۔

حضرت عبد الله ابن عمرو ابن عاصؓ یو مشهور صحابی دے ،دے فرمائی چې ما یو ځل دا اراده وکړه چې په عبادت کښې ډیر کوشش کوم :د ورځے به روژه نیسم او د شپې به یو قرآن ختم کوم، زما والد د یوے شریفے زنانه سره زما نکاح وکړو ،څو ورځے پس ئې د بی بی نه زما بار کښې تپوس وکړو نو بی بی ورله جواب ورکړو ډیر خه سړے دے ټوله شپه بسترے ته نه رازی او نه ئې د چا سره څه کار ساتی، زما پلار په دې خبره زمانه ډیر خفه شو او وئې وئیل ما درله د دومره شریفې زنانه سره نکاح کړے دے او تا داسې معلقه کړے ده،خو په ما باندې د شوق د غلبے د وجے څه اثر ونه شو،والد محترم دا شکایت حضورﷺ ته وکړو ،حضورﷺ زمانه تپوس وکړو نو ما ووئیل او داسې ده،نو حضورﷺ ارشادوفرمایه داسې مه کوه کله روژه نیسه او کله افطار کوه ،دغه شان د شپې مونځ هم کوه خو خوب هم کوه ،ستا د بدن هم په تا باندې حق دے ستا د سترگو هم په تا باندې حق دے ،د ټوله شپه ویخې سره کمزوری رازی ،ستا د بی بی هم په تا باندې حق دے د بچو هم حق دے د ملاقات والو هم حق دے۔

> حَدَّثَنَا أَبُو هِشَامٍ مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ الرِّفَاعِيُّ ،حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ، وَأُمَّ سَلَمَةَ، أَيُّ الْعَمَلِ كَانَ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ قَالَتَا: ((مَا دِيمَ عَلَيْهِ وَإِنْ قَلَّ))

ابو صالحؒ فرمائی چې ما د حضرت عائشهؓ او ام سلمهؓ نه تپوس وکړو چې د حضورﷺ کوم عمل ډیر خوښ وو دویؓ وفرمائی چې په کوم باندې همیشگیری وکړے شی اگر که کم وی ۔

فائده: ددې ټولو روایاتو نه دا مقصود دے چې د روژے او دغه شان د هر قسم نفل اگر که کم وی خومره چې مداومت سره وی بهتر دی،خو داسې نه چې د مداومت د یرے نه څوک بیخی نفل اعمال پریگدی ،ځکه چې د فرضو د پوره والی دپاره صرف نفل دی نو څومره چې کیدے شی د مداومت په کوشش سره کول پکار دی۔

> حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ ،حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ، أَنَّهُ سَمِعَ عَاصِمَ بْنَ حُمَيْدٍ قَالَ: سَمِعْتُ عَوْفَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ: كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً فَاسْتَاكَ ثُمَّ تَوَضَّأَ ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي، فَقُمْتُ مَعَهُ فَبَدَأَ فَاسْتَفْتَحَ الْبَقَرَةَ فَلَا يَمُرُّ بِآيَةِ رَحْمَةٍ إِلَّا وَقَفَ فَسَأَلَ، وَلَا يَمُرُّ بِآيَةِ عَذَابٍ إِلَّا وَقَفَ فَتَعَوَّذَ، ثُمَّ رَكَعَ فَمَكَثَ رَاكِعًا بِقَدْرِ قِيَامِهِ، وَيَقُولُ فِي رُكُوعِهِ: ((سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوتِ وَالْمَلَكُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ))، ثُمَّ سَجَدَ بِقَدْرِ رُكُوعِهِ، وَيَقُولُ فِي سُجُودِهِ: ((سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوتِ وَالْمَلَكُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ)) ثُمَّ قَرَأَ آلَ عِمْرَانَ ثُمَّ سُورَةً سُورَةً يَفْعَلُ مِثْلَ ذَلِكَ

عوف ابن ملکؓ فرمائی چې زه یوه شپه د حضورﷺ سره ووم حضورﷺ مسواک وکړو بیا ئې اودس وکړو بیا ئې د مونځ نیت وتاړه ،ما هم د حضورﷺ په اقتداء کښې نیت وتړه حضورﷺ دسورة بقره تلاوت شروع کړو او د رحمت په کوم آیت باندې چې به راتلو نو هلته به ئې وقفه کوله اود رحمت دعا به ئې کوله او د

عذاب په آیت باندی چی به تیریدو نو وقفه به ئی کوله او د عذاب نه به ئی پناه غوښتله بیا حضورﷺ دومره ساعت رکوع وکړه او په رکوع کښ ئی (   ) وئیل: پاک دے هغه ذات چی حکومت او سلطنت واله دے ډیرے بزرګئ واله دے او لوئ واله دے ،بیا ئی د رکوع په مقدار باندی سجده وکړه او په هغې کښ ئی هم دا دعا کوله ،بیا په بل ارکعت کښ ئی سورة آل عمران او دغه شان په یو یو رکعت کښ یو یو سورة لوسته۔

فائده: دا څلور رکعته به څومره اوګده وو نو د الفاظو نه پته لګی ،چی سورة بقره پاؤباندی دوه سپارے او بیا د حضورﷺ تلاوت په اطمینان سره بیا په هر هر آیت د رحمت او عذاب وقفه او دعا بیا دومره اوګده رکوع او سجده بیا داسی څلور رکعته کول به په مشکله په ټوله شپه کښ پوره شوی وی ،لیکن د شوق د غلبے د وجے د هغې ذات دپاره د چا د سترګو یخوالے چی په مانځه کښ دے هیڅ مشکل نه دی ،

ددی اخری څو حدیثونو د حضورﷺ د روژے سره تعلق نشته د شمائیلو په بعضو نسخو کښ خو د ا متفرق بابونه هډو شته هم نه بلکه دا ټول د عبادت په باب کښ ذکر دی نو په هغې باندی اشکال نشته خو چا چی جدا جدا کړی دی په هغوی باندی اشکال دے،

خو په دی کښ دا باریکه خبره ده چی کوم خلق د روژو شوقین وی نو دوی اکثر داسی افراط وکړی چی په حقوقو کښ کاتاهی کوی ،دی وجے نه امام ترمذی اول د اعتدال او میانه روی حدیثونه ذکر کړل او په اخیر کښ ئی دی طرف ته هم اشاره وکړه چی که د شوق د غلبے د وجے کله کله داسی وشی نو څه خبره نده خو داسی کار پکار دے چی د عبادت نه سړے ستړے نه شی او تنګ نشی۔

اب ما جاء في قراۃ رسول اللہﷺ

فائده: یعنی د حضورﷺ د تلاوت کیفیت یعنی چی حضورﷺ به څنګه په ترتیل او تجوید سره تلاوت فرمایه، په دی باب کښ اته حدیثونه دی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ يَعْلَى بْنِ مَمْلَكٍ أَنَّهُ سَأَلَ أُمَّ سَلَمَةَ، عَنْ قِرَاءَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هِيَ تَنْعَتُ «قِرَاءَةً مُفَسَّرَةً حَرْفًا حَرْفًا»

یعلیؒ فرمائی چی ما حضرت ام سلمہؓ نه د حضورﷺ د تلاوت باره کښ تپوس وکړو نو دویؓ د حضورﷺ تلاوت حرف حرف جدا جدا وئیلو کیفیت بیان کړو۔

فائده: یعنی د حضورﷺ په تلاوت کښ به حروف واضح طور ښکاره کیدل ،کیدے شی حضرت ام سلمہؓ زبانی دا کیفیت بیان کړے وی یا ئی داسی تلاوت کړے وی چی د هغې نه کیفیت ښکاره کیږی ،د حدیث شارحین دواړه احتمالات بیانوی خو ډیر نزدے پکښ دویم احتمال دے او هم دا قسم په حدیث نمبر ۳ کښ وروستو راروان دے چی ام سلمہؓ ولوستو او وئی فرمائیل چی داسی تلاوت به ئی کوو۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: كَيْفَ كَانَتْ قِرَاءَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ: «مَدًّا»

قتادهؒ فرمائی چی ما د انسؓ نه د حضورﷺ د تلاوت د کیفیت تپوس وکړو نو دویؓ وفرمائیل چی حضورﷺ به (مد والا حرف) مد سره راخکلو سے وئیلو۔

فائده: یعنی کوم حرف چی مد سره وئیل پکار وی هغه به ئی مد سره وئیل او دا هله کیدے شی چی تلاوت په اطمینان سره وی تادئ دا مشکل وی ،ددی نه دوه خبری خکاره شوی په اطمینان سره وئیل او د مدونو رعایت کول ،د حدیثو شراحو لیکلی چی د مد هم قواعد دی چی د تجوید کتابونو لیکلی دی د هغې رعایت ضروری دے ،ددی زمانے قاریان خو بعضو مدونه د حد نه هم زیات راکاګی د هر څیز خپل حدود وی افراط اوتفریط دواړه مذموم/بد دی۔

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْأُمَوِيُّ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْطَعُ قِرَاءَتَهُ يَقُولُ: {الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ} [الفاتحة:٢] ثُمَّ يَقِفُ، ثُمَّ يَقُولُ: {الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ} [الفاتحة:٣] ثُمَّ يَقِفُ، وَكَانَ يَقْرَأُ (مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ)

حضرت ام سلمةؓ فرمائی چی حضورﷺ به په تلاوت کښ ہر ایت جدا جدا کوو او لوستلو به ئی لکه الحمد لله رب العالمین باندی به ودریدو بیا په الرحمٰن الرحیم باندی به ودریدو بیا به ئی په مالک یوم الدین باندی وقف کوو۔

فائده: یعنه هر آیت به ئی جدا جدا په اطمینان او ترتیل سره لوستلو ،د قاریانو په مینځ کښ په دی کښ اختلاف دے چی په هر آیت باندی ساة اغیستل افضل دی کنه ،د حضرت مولانا گنگوهیؒ یوه مستقل رساله(رد الطغیان فی اوقاف القرآن) چی ډیره مختصره ده په اردو کښ شائع شوی ده ددی مطالعه ډیره فائده منه ده۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَيْسٍ قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ، عَنْ قِرَاءَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكَانَ يُسِرُّ بِالْقِرَاءَةِ أَمْ يَجْهَرُ؟ قَالَتْ: «كُلُّ ذَلِكَ قَدْ كَانَ يَفْعَلُ قَدْ كَانَ رُبَّمَا أَسَرَّ وَرُبَّمَا جَهَرَ» . فَقُلْتُ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً

عبد الله ابن ابی قیسؓ فرمائی چی ما د حضرت عائشةؓ نه تپوس وکړو چی حضورﷺ به د قرآن تلاوت په قلاره کوو کنه په جهر؟ دویؓ وفرمائیل دواړه قسم معمول ئی وو ،ما ووئیل الحمد لله د الله شکر دے دے چی په دی کښ اسانی ده یعنی چی د وخت په مناسبت سره که جهر وی او که قلاره څنګه چی کوی۔

فائده: دا سوال لکه چی د مسلم شریف په روایت کښ صراحت دے د تهجدو باره کښ وو او په جواب کښ د عائشةؓ دا وئیل چی دواړه قسمه معمول وو دا احتمال هم لری چی په یوه شپه کښ ئی په دواړه قسمه یعنی جهر او قلاره ،او دا احتمال هم لری چی یوه شپه به ئی ټول مونځ جهر کوو بله شپه به ټوله سر یعنی په قلاره باندی ، دواړه احتمالات صحیح دی او په تهجدو کښ دواړه قسمه جائز دی ،

بعض صورتونو کښې جهر افضل دے کوم ځائے چې د نورو د ترغیب سبب وی یا تازګی ورسره پیدا کیګی او بعض صورتونو کښې سر افضل دے کوم ځائے چې د نورو تکلیف وی او کوم ځائے چې دواړه برابر وی نو معمولی جهر افضل دے۔

دحضرت ابوبکرؓ معمول په تهجدو کښې په قلاره د تلاوت وو او عمرؓ به په تیزه/جهر باندی تهجد کول ،یو ځل حضور ﷺ په دواړو باندی تیر شو نو د دواړو حال ورته معلوم شو ،سحر چې کله دواړه حضرات خدمت کښې حاضر شول نو حضور ﷺ ورته د هغه ذکر وکړو نو ابوبکرؓ وفرمایل د الله رسوله چاسره چې خبری کوم هغه اوریدلی،

عمرؓ ته ئې ذکر وکړو نو عمرؓ وفرمائی ما غافله راویخول او شیطان م زغلوو،حضور ﷺ دواړو ته صحیح ووی او بیا ئې ابوبکرؓ ته وفرمائیل ته اواز لګ اوچت کړه او عمرؓ ته ئې وفرمائیل ته اواز لګ په قلاره که۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ: حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ، عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ الْعَبْدِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ جَعْدَةَ، عَنْ أُمِّ هَانِئٍ، قَالَتْ: «كُنْتُ أَسْمَعُ قِرَاءَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ وَأَنَا عَلَى عَرِيشِي»

حضرت ام هانئؓ فرمائی چې حضور ﷺ په مسجد حرام کښې قرآن لوستو او ما اواز د خپل کور په کوټه باندی اوریدو۔

فائده: یعنی حضور ﷺ ډیر صفا صفا په تیز اواز باندی تلاوت کوو او ما خپل کور اوریدو او د شپې خو اواز د لری پوری زی او د کور په کوټه باندی ډیر صفا اوریدے شی او بالخصوص چې کله مکان نزدے وی ۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ مُغَفَّلٍ يَقُولُ:" رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى نَاقَتِهِ يَوْمَ الْفَتْحِ وَهُوَ يَقْرَأُ: {إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ} [الفتح:]". قَالَ: «فَقَرَأَ وَرَجَّعَ» قَالَ: وَقَالَ مُعَاوِيَةُ بْنُ قُرَّةَ: «لَوْلَا أَنْ يَجْتَمِعَ النَّاسُ عَلَيَّ لَأَخَذْتُ لَكُمْ فِي ذَلِكَ الصَّوْتِ» أَوْ قَالَ: «اللَّحْنِ»

عبد الله ابن مغفلؓ فرمائی چې ما حضور ﷺ د فتح مکے په ورځ باندی ولیدو چې دا ایت ئې تلاوت کوو (إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ} [الفتح:]". حضور ﷺ په ترجیع سره لوستو معاویه ابن قرة کوم چې ددی حدیث راوی دے فرمائی چې که د خلقو د جمع کیدو یره نه وے نو ما به په هغې لهجه کښې تلاوت کړے وو۔

فائده: د ترجیع معنی د واپسئ ده د اواز واپس کول مراد دی پخپله د عبد الله ابن مغفل نه ددی تفسیر آ آ نقل دے بعضے عالمانو په درست/برابر اواز وئیلو ته ترجیع وئیلے ده۔

چې حضور ﷺ د مکے په دارالاسلام جوړیدو باندی ډیر خوشحاله وو، ددی وجے ډیر په خوند ئې لوستلو۔خو زما د استاذ حضرت والد محترم تحقیق دا دے چې حضور ﷺ په اوښه باندی وو ځکه ئې اواز ترجیعی معلومیدو او ددی وجے نه ئې تفسیر په آ آ سره وکړو ،او ددی اجے نه معاویه ددی د نقل کولو همت ونه کړو چې قصدًا داسی کولو سره به خلق راجمع شی ددی توجیه سره به د راتلونکی حدیث مخالفت هم ختم

شی ،د بنده په نزد باندی دا توجیه ډیر خه ده،ځکه چی که د اول توجیه موافق د اواز درست والے مراد وی نو بیا ددی په نقل کښ د خلقو د جمع کیدو یره څه وه،قرآن پاک خو په خوږ آواز سره وئیل پکار دی چی د ګانی سره پکښ مشابهت نه وی او ددی ترغیب هم راغلے دے ،چی بعضے روایات ئی ما پخپله رساله چهل حدیث کښ لیکلی دی که څوک غواړی هلته کتلے شی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا نُوحُ بْنُ قَيْسٍ الْحُدَّانِيُّ، عَنْ حُسَامِ بْنِ مِصَكٍّ، عَنْ قَتَادَةَ قَالَ: «مَا بَعَثَ اللَّهُ نَبِيًّا إِلَّا حَسَنَ الْوَجْهِ، حَسَنَ الصَّوْتِ، وَكَانَ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَسَنَ الْوَجْهِ، حَسَنَ الصَّوْتِ، وَكَانَ لَا يُرَجِّعُ»

قتادہؒ فرمائی چی الله تعالیٰ هر پیغمبر په خائسته صورت او خائسته اواز والا پیدا کړی دغه شان حضورﷺ هم خائسته صورت او جمیل اواز والا وو،حضورﷺ به قرآن د ګانے والا پشان په اواز جوړولو سره نه تلاوت کوو۔

فائده:ددی حدیث په ظاهره باندی د اول حدیث سره تعارض دے چی توجیه ئی د تیر حدیث په فائده کښ ذکر شوی ده،چی د اواز راګرزوولو او بیا لوستلو نفی پکښ مقصود ده،بعضے عالمانو ددی نه د ګانے والا اواز مراد اغیستے دے ځکه چی د ګانے په طرز باندی تلاوت کولو ممانعت راغلے دے۔

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُبَّمَا يَسْمَعُهَا مَنْ فِي الْحُجْرَةِ وَهُوَ فِي الْبَيْتِ»

.حضرت ابن عباسؓ فرمائی چی حضورﷺ به په دومره اواز سره تلاوت کوو چی که دویﷺ به کوټه کښ وو نو صحن والا به اواز اوریدو۔

فائده:یعنی د صحن نه بهر به اواز نه وتلو ،.د قرآن په قلاره اواز س.ره .لوستل په دواړو موقعو سره بهتر دی ،که ده ترغیب موقع وی یا بل سبب وی د جهر نو په جهر دِ وکړی او که د ریا وغیره یره وی نو په قلاره دِ لولی،غرض دا چی د موقع په مناسبت سره حکم بدلیږی ۔

ددی وجهے حضورﷺ فرمائی چی په اواز سره تلاوت کونکے داسی دے چی په خکاره‌صدقے کونکے وی او په قلاره تلاوت کونکے داسی دے چی په پټه باندی صدقه کونکے ،او د صدقے پټ والے او خکاره والے د موقع په لحاظ سره بدلیږی دغه شان تلاوت هم دے۔

باب ما جاء فی بکاء رسول اللهﷺ

دحضورﷺ د ژړا او زاریٔ په باره کښ

فائده:د سړی ژړا په څو سببونو باندی وی ،کله د رحمت او مهربانیٔ دوجے نه وی ،کله د یری د وجے نه،کله د شوق او محبت د وجے نه،کله د ډیرے خوشحالیٔ د وجے نه،کله د څه درد او تکلیف د وجهے نه،او کله د غم د وجے نه،کله د چا د ظلم د وجے نه او یوه ژړا د توبے ده چی د غلطیٔ د کولو نه کیږی،یوه ژړا د نفاق ده چی نورو ته د خودلو د پاره وی لکه په مانځه کښ د خشوع وغیره خکاره کولو دپاره ژړا ظاهره کړے شی ،

یوه ژړا د سوال ده چې بغیر د مزدورۍ نه د چا په مړی پسې وژړلے شی ،یوه ژړا د مزدورۍ ده چه په پیسو باندې د چا د مړی پسې وذړلے شی لکه چې دبعضو خلقو رواج دے، او یوه ژړا د موافقت ده چې بل په ژړا باندې وینې او ژړا درشی اوغیره وغیره۔

د حضورﷺ ژړا به یا د رحمت او شفقت اویا په امت باندې یره او یا د شوق د وجے نه وه،لکه چې د روایاتو نه به معلوم شی او دا قسمه ژړا د صفت قابله ده،مشائخو لیکلی دی چې یوه ژړا د دروغو ده چې په گناه باندې ژاړی او پریگدی ئې نه، د حدیث شرح کونکو لیکي دی چې د داؤدؑ ژړا د غم ژړا وه،او د ابراهیمؑ ژړا د شوق،او د نبی کریمﷺ ژړا د محبت ژړا وه، د بنده په نزد باندې ددی مطلب دادے چې د شپې اکثره ژړا به په دی وجې وه کنه وس تیر شول چې ژړا به په مختلفو سببونو وه لکه چې مختلف حدیثونه رازی۔

په دی باب کښې شپږ حدیثونه دی۔

حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارِكِ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ مُطَرِّفٍ وَهُوَ ابْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الشِّخِّيرِ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: «أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي وَلِجَوْفِهِ أَزِيزٌ كَأَزِيزِ الْمِرْجَلِ مِنَ الْبُكَاءِ»

عبد الله ابن شخیرؓ فرمائی چې د حضورﷺ په خدمت کښې حاضر شوم نو حضورﷺ مونځ کوو او ژړا په وجه د حضورﷺ د سینے مبارکې نه داسې اواز راوتلو لکه چې کټوۍ جوش وخې۔

فائده: دا د حضورﷺ دکمال خشوع خضوع وه ، مشائخ لیکي چې دا کیفیت به په حضورﷺ باندې هله کیدو چې کله به الله تعالیٰ صفات جمالیه او صفات جلالیه دواړه یوځائے ظاهر شول،او د صفات جلالیه خو څه شے طاقت هم نه لری البته صرف صفات جمالیه چې به کله ظاهر شول نو یو سرور او تازگی به به پیدا شوه ،او د حضورﷺ په مهربانۍ سره مشائخو ته هم دا کیفیت رازی۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اقْرَأْ عَلَيَّ» فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ قَالَ: «إِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي»، فَقَرَأْتُ سُورَةَ النِّسَاءِ حَتَّى بَلَغْتُ {وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا} [النساء] قَالَ: فَرَأَيْتُ عَيْنَيْ رَسُولِ اللَّهِ تَهْمِلَانِ

عبد الله ابن مسعودؓ فرمائی چې ماته حضورﷺ وفرمائیل چې قرآن شریف واوروه (شاید ددی دپاره ئې فرمائیلی وی چې په اوریدو کښې غور او فکر ډیر وی د وئیلو نه)یا د څه بلې وجې ئې دا فرمائیلی وی ډیری وجے ددی کیدے شی لکه چې د قرآن د اوریدو سنت هم د حضورﷺ د فعل نه ثابت شی وغیر) ما وئیل حضور! په تاسو خو پخپله نازک شوے دے او زه ئې واوروم (کیدے شی ابن مسعودؓ ته دا خیال راغلے وی چې اوریدو خو د تبلیغ یا د یادولو د پاره وی)حضورﷺ وفرمایيل زما زړه غواړی چې د بل چا نه ئې واورم ،ما د حکم د تعمیل دپاره شروع کړه او سورة نساء مې شروع کړه خو چې زه کله دی آیت ته ورسیدم {وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا} [النساء] نو ما د حضورﷺ مخ مبارک ته وکتل نو دواړو سترگو نه ئې اوښکې رابهیدلې۔

فائده: د حضورﷺ دا ژړا به د قرآن داوریدو د وجے وی چی د قرآن دا شان هم دے،امام نوویؒ لیکلی دی چی د تلاوت په وخت ژړا د عارفینو شان دے او د صالحینو شعار دےاو الله تعالیٰ په ډیرو ځایونو کښی ددی تعریف کړے دے،(واذا تتلیٰ علیهم آیات الرحمٰن خرو سجدًا وبکیا) کله چی په دوی باندی د الله تعالیٰ اٰیاتونه تلاوت کیږی نو دوی په زمکه پریوزی او او ژاړی بل ځائے ارشاد دے (ان الذین اوتوا العلم من قبله) چی دا قرآن کله په دوی باندی تلاوت کیږی نو دوی په زنو باندی پریوزی په ژړا باندی او د قرآن د اوریدل ددوی دا خشوع نوره هم زیاتوی ،او ظاهره ده چی د قرآن ددی آیت مطابق د حضورﷺ نه ډیر نور څوک کیدے شی ،دی وجے نه د حضورﷺ دا ژړا د قرآن د عظمت و وجے کیدل د قیاس موافق ده۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ: حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ يَوْمًا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي، حَتَّى لَمْ يَكَدْ يَرْكَعُ ثُمَّ رَكَعَ، فَلَمْ يَكَدْ يَرْفَعُ رَأْسَهُ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، فَلَمْ يَكَدْ أَنْ يَسْجُدَ، ثُمَّ سَجَدَ فَلَمْ يَكَدْ أَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، فَلَمْ يَكَدْ أَنْ يَسْجُدَ، ثُمَّ سَجَدَ فَلَمْ يَكَدْ أَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ، فَجَعَلَ يَنْفُخُ وَيَبْكِي، وَيَقُولُ: «رَبِّ أَلَمْ تَعِدْنِي أَنْ لَا تُعَذِّبَهُمْ وَأَنَا فِيهِمْ؟ رَبِّ أَلَمْ تَعِدْنِي أَنْ لَا تُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ؟ وَنَحْنُ نَسْتَغْفِرُكَ». فَلَمَّا صَلَّى رَكْعَتَيْنِ انْجَلَتِ الشَّمْسُ، فَقَامَ فَحَمِدَ اللَّهَ تَعَالَى وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: «إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ لَا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ، فَإِذَا انْكَسَفَا فَافْزَعُوا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ تَعَالَى»

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: أَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنَةً لَهُ تَقْضِي فَاحْتَضَنَهَا فَوَضَعَهَا بَيْنَ يَدَيْهِ فَمَاتَتْ وَهِيَ بَيْنَ يَدَيْهِ وَصَاحَتْ أُمُّ أَيْمَنَ فَقَالَ - يَعْنِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «أَتَبْكِينَ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ؟» فَقَالَتْ: أَلَسْتُ أَرَاكَ تَبْكِي؟ قَالَ: «إِنِّي لَسْتُ أَبْكِي، إِنَّمَا هِيَ رَحْمَةٌ، إِنَّ الْمُؤْمِنَ بِكُلِّ خَيْرٍ عَلَى كُلِّ حَالٍ إِنَّ نَفْسَهُ تُنْزَعُ مِنْ بَيْنِ جَنْبَيْهِ، وَهُوَ يَحْمَدُ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ»

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَائِشَةَ: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبَّلَ عُثْمَانَ بْنَ مَظْعُونٍ وَهُوَ مَيِّتٌ وَهُوَ يَبْكِي» أَوْ قَالَ: «عَيْنَاهُ تُهْرَاقَانِ»

